Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized

شپږ میاشتنۍ خپرونه

۵۲مه گڼه
وری ۱۳۹۷

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ

«د افغانستان د کلیوالي صنایعو د ودې پروګرام د تطبیق په نتیجه کې اوس ښځې په کلیو اوبانډو کې کولی شي د کوچنیو تشبثاتو په رامنیځته کولو سره خپل ځان او خپلې کورنۍ ته د ګټې وټې (عایداتو) لارې چارې رامینځته کړي.»

۲۴ مخ

۴مخ
په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ مرستې

۶ مخ
روان فعالیتونه

۳۰ مخ
د نړیوالې مالي اداري د مشورتي خدمتونو پروژه

۳۲ مخ
د افغانستان د بیارغونې صندوق

لیکلړ

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ مرستې
۴-۵ مخونه

۴ مخ
د نړیوال بانک پروژې او پروګرامونه
نړیواله مالي اداره
د ځوارخیزه پانګونو د تضمین اداره

۵ مخ
د افغانستان د بیارغونې صندوق
د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق

روان فعالیتونه
۶-۲۹ مخونه

۶ مخ
معارف

۱۰- مخ
مالي سکټور

۱۲ مخ
روغتیا

۱۴ مخ
زیربنا

۲۱ مخ
د کلیو پراختیا

۲۸ مخ
د ټولنیز خوندیتوب شبکه

۲۸ مخ
ښاري پراختیا

د نړیوالې مالي ادارې د مشورتي خدمتونو پروژه
۳۰-۳۱ مخونه

پایلې ۴۸
نوی اسانتیاوې په شوونځیو کې

د افغانستان د بیارغونې صندوق
۳۲-۵۰ مخونه

۳۴ مخ
روانې پروژې

۴۲ پایلې
آیا لږې وریا مرستې، زده کړه او

۱۸ پایلې
د یو کانال بیارغونې

۲۲ پایلې
په یوې لرې پرته کلیوالې سیمې کې

د اقتصاد د ښه والي او وروغتیایي خدمتونو له پاره نوې پروژې

نړیوال بانک په دې وروستیو کې ددې لاندې دریو پروژو له پاره د ۶۹۱ میلیونه ډالرو وریا مرستې یوه بسته برابره کړې ده:

د افغانستان د روغتیا پروژې له پاره ۶۰۰ میلیونه ډالر، د روغتیایي خدمتونو د ښه والي او د کیفیت د لوړتیا، تغذي او د کورنۍ د تنظیم له پاره په دغه وړیا مرستو کې ۱۴۰ میلیونه ډالر(د نړیوال بانک)، ۴۲۵ میلیونه ډالر (دافغانستان د بیارغونې صندوق)، ۳۵میلیونه ډالر (د میندو او ماشومانو د روغتیا له پاره نړیوال پانکوني صندوق) شامل دي. تطبیقوونکی : دعامې روغتیا وزارت

د نړیوال بانک ۵۱ میلیونه ډالره وړیا مرسته د افغانستان کاسا ډیجیټل پروژې له پاره، چې په ټیټه بیه انټرنیټ ته لاس رسی په کې شامل دي، د خصوصي پانکه اچوونکو جذب او د خدمتونو د وړاندې کولو له پاره د دولت د ظرفیت لوړولو، په ډیجیټل بڼه د منطقوي یا سیمه ییز واحد د زیر بنا په ملاتړ او د عملي چاپیریال رامینځته کولو له پاره دی. تطبیقوونکی: د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت

د نړیوال بانک ۴۰ میلیونه ډالر وړیا مرسته د دولتي بانکونو د سیستم عصري جوړولو د پروژې له پاره، د حکومتولي د پیاوړتیا او ددولتي بانکونو دعملیاتي موثریت او اغیزمنتیا په خاطر.

خبرونه

له نا امنیو سره سره په افغانستان کې د روغتیا سکټور د کتنې وړ لاسته راوړنې لري

د نړیوال بانک د یو نوي رپوټ موندنې څرګندوي، چې په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو نتیجې له ۲۰۰۳ میلادي کال راهیسې، ان په هغو ولایتونو کې هم چې سخت نا امنه دي، دکتنې وړ ښه والی موندلی دی. ددې رپوټ په اساس، چې "په افغانستان کې دروغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو ښه والی د نا امنۍ له شتون سره سره" په نوم خپور شوی دي، له ۲۰۱۰ میلادي کال را وروسته نا امنۍ د دې سکتور دودې او پرمختیا بهیر هم سست کړی دی.

د ملګرو ملتونو د سازمان د وړاندې شویو ارقامو او شمیرو پربنسټ له پنځو کلونو څخه د راښکته ماشومانو د مړینې اندازه په سلو کې ۳۴، یعنې له ۱۳۷څخه ۹۱ پینځو ته په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونو کې له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۵ میلادي کال پورې راټیټه شوی ده. دماشومتوب په دوره کې دخوارځواکۍ (سؤتغذی) له امله دتنې ټیټوالی، چې دماشومانو تنه (قد) له معیاري اندازې څخه لنډوي، په کال کې ۲ سلنه کمښت موندلی، د نړۍ په نورو ورته هیوادونو کې دماشومانو دتنې د لنډوالی له نړیوالی منځنۍ اندازې څخه، چې ۱،۳سلنه دی، چې ددې پدیدې په له منځه وړلو کې د ډیرې پرمختیا څرګندوی کنل کیږي.

دغې رپوټ روغتیایي سیستم په ټوله کې په شپږ ساحو کې، له هغې جملې څخه: د روغتیایي کارکوونکو دپوهې سطحه، د روغتیایي زیربناوو کیفیت، روغتیایي اسانتیاوې او تجهیزات، او د درملو او واکسین موجودیت تر تحلیل او هر اړخیزې کتنې لاندې نیولی دي. له ۲۰۰۳ میلادي کال راهیسې له ستونزمنو امنیتي شرایطو سره سره افغانستان په ځینو روغتیایي شاخصونو کې د دوام لرونکي پرمختک او ښه والی شاهد دی.

د افغانستان د بریالیتوب یو بنسټیز دلیل او لامل په دغه هیواد کې دروغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو له پاره د یو نوښتګر موډل تطبیق او په عمل کې پلي کیدل دي. باید یادونه وکړو، چې نادولتي مؤسسې (NGOs) دې خدمتونو د دوړاندې کولو په لومړۍ لیکه کې واقع دي، چې په اوس وخت کې ۷۲ سلنه دغه مؤسسې افغاني انجیوګاني دي.

د افغانستان دولت دمالي سرچینو د تامین، دفعالیتونو هماهنګي او همغږي او په کلیدي برخو، لکه، مقرراتي چوکاټ او د اغیزناکو روغتیایي کمپاینونو رامخې ته کولو د څارنې او دخدمتونو د وړاندې کولو د څرنګوالی ارزونه او څارنې لارې چارې برابرې کړي دي. سربیره پردې په کلیوالو سیمو کې دښځینه روغتیایي کارکوونکو زیاتوالی او د ښځو له پاره دکاري او شغلی فرصتونو رامینځته کول یې له نورو مواردو څخه ګټل کیږي، چې دروغتیایي سیستم شاخصونه یې پیاوړي کړي دي.

دغه رپوټ د زیاتو چیلنجونو او ننګونو څرګندوی دی، له ۲۰۱۰میلادي کال راهیسې د میندو د روغتیا د تامین په برخه کې پرمختګونه سست شوي دي. له ولایتونو څخه دمعلوماتو راټولول ، په ځانګړې توګه له ناامنو سیمو او ځایونو څخه، ډیر ستونزمن شوي دي او د روغتیا دسکټور د شاخصونو عمده نتیجې اوس هم له نړیوال منځني حد او اندازې څخه واټن او توپیرونه لري. د دې رپوټ د وړاندېزونو پراساس د سیمه ییزو روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو جوړښتونو دخپلواکۍ په پیاوړتیا، د معلوماتو د راټولو لو په برخه کې ډیر پانکه اچونه او د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو د قرار داد سپارلو د څارنې او رون بهیر د سیستم ښه والی، له ډیرو مهمو او کلیدي مواردو څخه ګټل کیږي.

افغانستان د روغتیا په ساحه کې له پانکه اچونې سره سره د بشري سرچینو د رامینځه کولو، پیاوړتیا او هڅونې په خاطر د نورو هغو هیوادونو له پاره، چې د ناامنۍ له ستونزو سره مخامخ دی ډیري غوره تجربې او زده کوونکي درسونه وړاندې کوي.

د دې موضوع په اړه بشپړ راپور په دې ځای کې موندلی شئ:
http://www.worldbank.org/en/publication/wdr2018

د نړیوال بانک ګروپ مرستې

د نړیوال بانک پروژې او پروګرامونه

د نړیوال بانک د نړیوالې پراختیا ادارې له ۲۰۰۲ زېږدیز کال راپدېخوا د پراختیایي او بېرنۍ بیارغونې د پروژو او د مالي بودیجې د ملاتړ د ۶ پروګرامونو د ټمویل په موخه د له ۳.۸۵ ملیارده ډالرومرستې ژمنه کړې ده. په دې مرستو کې ۳.۴۸ ملیارده ډالر وړیامرسته او ۴۳۶.۴ ملیونه ډالره پې سوده پور شامل دي. نومورې بانک اوسمهال په افغانستان کې ۱۹ فعالې پروژې لري، چې خالص ارزښت پې ۱.۷ ملیارددو ډالرو ته رسېږي.

د افغانستان د سولې او پراختیا مالي چوکاټ له تصویب وروسته، نړیوال بانک په دې هیواد کې په پراختیایي فعالیتونو کې پراخه ونډه اخیستې او مرسته یې کړې ده. د پالیسي او پانګونې په برخو کې د اړینو مشورو برابرول؛ چې په مهمو او بنسټیزو کلسټرونو متمرکز دي او هغه عبارت دي له: د لویو مالیاتو او ادارې جوړښتونو مدیریت، د اقتصادي ودې او کارې زمینې برابرولو په موخه له خصوصي پانګوالو څخه ملاتړ او هغوی ته د آسانتیاوو برابرول، حکومتوالۍ او له اداري فساد سره مبارزه، د بشري ځواک پرمختک او د خدمتونو وړاندې کول، د خلکو ګډون او جنسیتي انډول، په ښارونو کې د ژوند کولو لپاره هڅونه او د بنسټونو او لویو لارو جوړولو چارې رانغاړي.

نړیوال بانک دافغانستان د دولت بودجې د ملاتړ له لارې دبنسټیزو اصلاحاتو په تطبیق کې، په ځانګړې توګه په عامه مالي او اداري چارو کې په فعاله توګه مرسته کړې ده. دکادرونو دظرفیتونو دودې ، د دولت مشروعیت، او له افغان دولت سره د ټمویلوونکو هیوادو د جلب و جذب دملاتړ له لارې دا یقیني کوي چې پانکه اچونه له ملي لومړیتوبونو سره همغږې ده.نړیوال بانک تراوسه پورې له نورو ټمویلوونکو سره په ګډه له یو شمیر هغو سکټوررونو سره، چې پرې د دولت مالکیت او دمرستو همغږې کول لازم دي، فعالیت کړی دی.

د بشپړشویو پروژو په اړه د زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د پروژو او پروګرامونو لاندې پاڼې ته مراجعه وکړئ: *www.worldbank.org.af*

نړیواله مالي اداره

نړیواله مالي اداره، چې دنړیوال بانک ګروپ دخصوصي سکټور ځانګه ده،په افغانستان کې دپانګې اچونې په برخه کې خپل ملاتړ ته دپخواپه شان دوام ورکوي. په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې د نړیوالې مالي ادارې د پانګونې د مالي ژمنې کچه، ۵۲ ملیون ډالره وو او سربېره پر دې، د مشورتي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د دې ادارې د مرستو کچه څه باندې ۸.۸ ملیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي. د دې ادارې د پانګونې ژمنو کې د مخابراتو او مالي بازارونو په سکټورونو کې پانګونه شامل ده. د دې ادارې په راتلونکې پانګو اچونو کې د انرژۍ، سوداګرۍ او کرنیزو محصولاتو په سکټورونو کې د پانګې اچول شامل دي.

د نړیوالې مالي ادارې مشورتي خدمتونو برنامو کې پر مالي سکټورونو پانګونه، د بنوالي د محصولاتو د صادرولو پراختیا، بدلون موندونکې انرژۍ ته لاسرسی، د عامه او خصوصي سکټورونو مشارکت، د اداري جوړښتونو پیاوړتیا او د پانګونې په چاپېریال کې اصلاحات شامل دي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۳۰ مخ وګورئ.

د ځواږخیزه پانګونو د تضمین اداره

د ځو اړخیزې پانګونې د تضمین اداره په افغانستان کې د دریو پروژو لپاره ۱۵۴ ډالر د ناخالصې سرمایې په توګه لري. د ایم ټي ان مخابراتي شرکت د هیواد په حساس مخابراتي سکتور کې له نړیوال مالي اداري سره یوه ګډه هڅه ده. پاتې نورې دوه پروژې د لبنیاتو او کشمیرۍ توکو د تولید په برخه کې مرسته کوي.

د ځو اړخیزو پانګونو د تضمین اداري په لومړیتوبونو کې، د ۲۰۱۸ - ۲۰۲۱ کلونو لپاره د بهرنیو پانګوالو ځنې مستقیم ملاتړ شامل دی، چې دا پانګونه باید په جګړه ځپلو او هغه هېوادونو کې، چې ماتېدونکی سیاسي وضعیت لري؛ پر ټولنیز - اقتصادي وضعیت پر ودې او سه کولو باندې پراختیایي اغیزې وارد کړي. افغانستان د ځو اړخیزو پانګونو د تضمین اداري د موخو د ترلاسه کولو لپاره یو له مهمو هېوادونو شمېرل کیږي.

په ۲۰۱۳ میلادي کال کې دې اداري د شخړو او کمزورو اقتصادونو له پاره ، دمرسته کوونکو همکارانو له ژمنو څخه په استفاده اوهمدارنګه په سختو شرایطو کې دځواږخیزه پانګه اچونو دادارې په تضمینونو دپانګه اچونو دپروژو د ډاډ او لومړنیو زیانونو څخه دپوښښ برابرولو په موخه خپلې اغیزناکې اسانتیاوې وړاندې کړې.

د هیوادنې ګډون چوکاټ، له ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ م پورې

دهیوادنې ګډون چوکاټ د ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۰ میلادي کال پورې له افغانستان څخه دملاتړ په منظور دنړیوال بانک ګروپ دستراتیژۍ تنظیمونکی دی، چې دافغانستان د پرمختیا او سولې ملي چوکاټ سره په سمون او همغږۍ کې تدوین او ترتیب شوی دی.

ددې ستراتیژۍ موخه او هدف په دې لاندې برخو کې دافغانستان له دولت سره مرسته او ملاتړ دی:

- **دخواکمنو اوخواب ویونکو بنسټونو رامینځته کول،** دملت جوړونې دموخو دتطبیق او خلکو ته لومړنیو خدمتونو وړاندې کولو په لار کې ددولت ځواکمنول او دخصوصي سکټور د ودې له پاره دیو سالم چاپېریال رامینځته کولو په منظور.
- **له هر اړخیزې اقتصادي ودې څخه ملاتړ** چې تمرکز یې په وروسته پاتې سیمو ، ښاري غیر پلاني استوګنې او له کورنۍ نا امنۍ څخه په رامینځته شوې بې ځایه کیدنې باندې وی.
- **دټول شموله ټولنې رامینځته کول** دمعیاري ښوونې او روزنې لارو چارو ته دخلکو دلاس رسۍ او دټولنې دبیوزله او غریبو وګړو، چې پکې داخلې بې ځایه شوي او راستانه شوي کډوال او مهاجرین شامل دي، ترمینځ دزیان مننې دعواملو کمولو له لارې.

د افغانستان د بیارغونې صندوق

د افغانستان د بیارغونې صندوق د افغان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ یوه ګډه همکاري ده، چې د بیارغونې د پروګرامونو اغېزمني لوړوي. د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د دسمبر میاشتې تر ۲۱ پورې څه باندې ۳۴ مرسته کوونکو، د افغانستان د بیارغونې له صندوق سره د شاوخوا ۱۰،۳ ملیارده ډالرو مرسته ژمنه کړې، ځو دا د افغانستان د ملي بودجې د ستر ملاتړ کوونکي په توګه په دې وتوانېږي، د افغانستان دولت د عملیاتي او پراختیایي پروګرامونو مالي ارتیاوې ځواب کړي.

د ملي لومړیتوب لرونکو برنامو، د دولت د عادي بودجې او د پالیسیو د اصلاحاتو اجندا نه د افغانستان د بیارغونې صندوق ملاتړ به د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ له موخو سره مرسته کوي. تر اوسه د افغانستان له دولت سره څه باندې ۴،۶ ملیارده ډالره د عادي بودجې د لګښتونو، لکه د ملکي کارکونکو د تنخواو لپاره ورکړل شوي، او په ورته حال کې څه باندې نور ۴،۹ ملیارده ډالره د بشپړ شویو پراختیایي پروژو او د کار لاندې پروژو لپاره ورکړل شوي دي. د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د دسمبر میاشتې تر ۲۱ پورې د ۳،۵۸ ملیارده ډالرو په ارزښت ۲۸ پروژې د افغانستان د بیارغونې صندوق په ملاتړ د پلي کېدو په حال کې دي. **د لازیاتو معلوماتو لپاره ۳۲ مخ وګورئ.**

د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق

دجاپان دټولنیزې پراختیا صندوق، چې په ۲۰۰۰میلادي کال دجاپان دولت له خوا تاسیس شو، د هغو فعالتونو دمرستې او ملاتړ یوازینۍ وسیله ده،چې مستقیماً پې د غریبواو زیامنو وګړو ارتیاووته ځواب ویلای، دهغوی ظرفیتونه او ورتیاوې پې لوړې کړې او په پراختیایي چارو او بهیر کې پې کډون پیاوړی کوي. دغه صندوق دنړیوال بانک له خوا اداره کېږي.

د جاپان دولت او نړیوال بانک دې ته ژمن دي چې د جاپان دټولنیزې پراختیا صندوق په داخل کې دهیواد د بیارغونې او سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ثبات لپاره اوږد مهاله پروګرامونو د ملاتړ په منظور یوه ځانګړې کړکۍ تاسیس کړي. د ۲۰۱۸ کال تر جنورۍ پورې د جاپان د ټولنیزې پراختیا صندوق ټوله مرسته ۸۵ ملیونه ډالرو ته رسېږي. تراوسه پورې ددې صندوق له خوا یو شمیرټمویل شوې پروژې بشپړې شوې دي.

د نورو معلوماتو لپاره لاندې وېبسایټ ته مراجعه وکړئ: *http://go.worldbank.org/U5OQZVF2O0*

روان فعالیتونه

/ معارف

دافغانستان دمهارتونو او وړتیاوو دپرمختیا دویم پروګرام

دنړیوال بانک ۵۵ میلیونه وریا مرسته

دا پروژه د افغانستان دولت سره د اقتصادي او پراختیايي ودې په موخه د حرفوي او مسلکي مهارتونو د ستراتیژۍ په جوړولو کې، چې د بازار له اړتیاوو سره برابر وي؛ مرسته کوي. د افغانستان د مهارتونو د پراختیا د مخکښې برنامې څخه د ملاتړ پر دوام، دا پروژه هم د حرفوي او مسلکي زده کړو د اداري جوړښتونو د پیاوړتیا، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونځیو او انستیتونو پراختیا او په پای کې د سیالیزې وړتیاوو د پراختیا د ملاتړ په موخه هڅه کوي. د دې پروګرام د جوړښت بدلون د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جولای میاشتې راهیسې پلي او موخه یې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پراختیا په برخه کې پر پراختیايي موخو بیا ځلي ټینګار، د استادانو د وړتیاوو او په یو شمېر سوداګریزو سکتورنو کې د ښوونیز نصاب پیاوړتیا ده.

د افغانستان دولت د نویو مهارتو دپرمختیا د کتنې وړ اصلاحات او سمونونه، چې پکې د افغانستان دمهارتونواو وړتیاوو د پرمختیا دویم پروګرام بیاکتنه هم شامله ده، پیل کړې ده. په دغو اصلاحاتو کې دا لاندې موارد شامل دي: (الف) دحرفوي او مسلکي زده کړو د سکتور نوی تنظیمول د مارکیټ اړتیاوو ته په پاملرنه په اتو لومړیتوب ورکړل شویو شاخصونو کې، چې په هغې کې دښځینه کار ګرو د ځواکمنتیا او توانایي دښه کولو ساحې هم شاملې دي. (ب) د شرایطو لرونکو د حرفوي او تخنیکي زده کړو د ټولو استادانو ارزیابي (ج) د شرایطو لرونکو له پاره له هیواد څخه د باندې د زده کړو د دوام وړاندیز، (د) د استادانو له ارزیابۍ او زده کړې څخه د ملاتړ له پاره د ځلوړو مخکښو انستیتونو تنظیمول/ په ځلوړو لومړیتوب ورکړل شویو شاخصونو کې (هـ) د درسي نصاب معیاري کول او لوړول په ټولو معاملو او لومړیتوب ورکړل شویو شاخصونو کې د ورتیا داصل پربنسټ او (و) د استادانو په استخدام، مدیریت او زده کړه کې داصلاحاتو او سمونونو په منظور دپالیسۍ دیو چوکاټ تطبیقول.

د حرفوي او تخنیکي زده کړو له ۶۰۰ څخه زیات استادان ارزیابي شوي دي او د حرفوي او مسلکي زده کړو دبنسټ د کاري چوکاټ په پیاوړتیا کې دکتنې وړ پرمختیا څرګنده شوې ده. سربیره پردې دحرفوي او مسلکي زده کړو له پاره دیو ستراتیژیک چت درامینځته کولو له پاره دې پروژې وکړای، شول چې دنړیوال تخصصي مرکز او بنسټ سره په همکارۍ دملي ستندرډ او معیار لرونکو ۱۰۰ حرفوي مهارتونو ته په نړیواله کچه انکشاف او پرمختیا ورکړي او د۱۵بنسټونو له پاره یو شان نصاب هم رامینځته کړي. په افغانستان کې دمهارتونو دپرمختیا پروژې له حرفوي او مسلکي زده کړو څخه دفراغت او ارزونې دبنسټ ډېره اینښې ده او دکار له نړیوال سازمان سره په ګډه یې د ۳۰ تنو په شاوخوا کې ارزیابي کوونکو دماسټر په سویه درقابتي ارزیابی دلارو چارو او میتودونو په برخه کې زده کړې کړي او دارزونې اووه مرکزونه هم مشخص شوي دي.

په افغانستان کې دمهارتونو دپرمختیا پروګرام دحرفوي اومسلکي زده کړو دټاکلو ښوونځیو او انستیتونو دکړنو او اجرااتو دښه والي له بهیر څخه ملاتړ کوي. له دې انستیتونو څخه یو هم دادارې او مدیریت ملي انستیتوت دی، چې هلته محصلین دسوداګرۍ دزده کړو په یو دوه کلن پروګرام کې دځوارلسم پاس معادل سند ترلاسه کوي. د نیما د اداري او مدیریت ملي انستیتوت کې ښوونیز او پوهنیز معیارونه د یوه نړیوال بنسټ (د ښوونځیو او سوداګریزو پروګرامونو لپاره د باور ورکونې شورا) لخوا منل شوی او تائید شوی. د ښځینه کټه اخیستونکو شمېر، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونځیو او انستیتونونو کې ښوونیزو برنامو کې وندې اخیستې؛ له ۲۱ سلنې څخه ۲۳ سلنې ته لوړه شوې ده. په ورته حال کې په ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې د افغانستان د مهارتونو د پراختیايي برنامې د هڅو په پایله کې شاوخوا ۴۴ سلنه زده کوونکي د تخنیکي او مسلکي زده کړو انستیتونونو لخوا جذب شوي دي.

ددې پروګرام له لارې په حرفوي او مسلکي ښوونځیو او انستیتونو کې دمښتو فعالیتونو دهڅونې ، ستاینې او تقدیر دفعالیتونو دټویل له پاره سیالۍ ترسره کیږي، ترڅو چې ددې مؤسسو تعلیمي کچه (سویه) زیاته او لوړه شي. ترنن ورځې پورې له ۳۵ څخه زیاتو انستیتونو له دوه دورې مرستې څخه ګټه اخیستې ده. دا په داسې حال کې ده، چې اته نورو انستیتونه هم د مرستې ترلاسه کولو له پاره تړاکل شوي دي، چې دغه مرستې به له هغوی سره داکاډمیک مدیریت دښه والي، د ښوونځي دادارې له سیمه ییزو مؤسساتو سره داړیکو ټینګولو او درسي نصاب د بیاکتنې په برخه کې مرسته وکړي. سربیره پردې دحرفوي او مسلکي زده کړو له ښوونځیو څخه (۵۲۲) تنو ممتازو فارغانو دیو سند لرونکي پروګرام له لارې دزده کړې له بورسونو څخه استفاده کړې ده، چې دا له هغوی سره دلوړو او زیاتو مسلکي زده کړو په برخه کې مرسته کوي. تردریم جز یا پراو لاندې استادانو له زده کړې څخه دملاتړ له پاره دداخل خدمت استادانو حرفوي او مسلکي انستیتوت په ۲۰۱۳میلادي کال کې رامینځته شوی، چې له هغې څخه دوه دلې فارغ شوي دي. تر اوسه ۹۷۲ تنه ښوونکو، د تخنیکي وړتیاوو او تدریسي مهارتونو د پراختیا په موخه اړینې زده کړې ترلاسه کړي دي.

د اداري او مدیریت ملي انستیتوت په سلو کې ۲۰ زده کوونکې نجونې تشکیلوي، چې البته دغه انستیتوت مرسته او ملاتړ د افغانستان د مهارتونو او وړتیاوو د پرمختیا دویم پروګرام له لارې شوی دی. هیله کیږي، چې په راتلونکې کې د نجونو شمیرزیات شي. زده کوونکې په دې انسیټیتوت کې نه یوازې دا چې حرفوي زده کړی په نړیوالو معیارونو او ستندردونو سره زده کوي. بلکې له هغوی سره له دې انستیتوت څخه ترفراغت وروسته هم د کارموندنې په برخه کې لازمې مرستې او همکارۍ کیږي، دا په داسې حال کې دي، چې د اداري او مدیریت ملي انستیتوت له یو شمیر شرکتونو سره قرار دادونه کړي، چې په راتلونکې کې زده کوونکو ته د کار لارې چارې برابرې کړي.

کوچني تشبثات، لکه دغه خوراکه فروشي، دکوچنيو پورونو د تړلاسه کولو له لارې همدا اوس په خپل کاروبار کې د پرمختګ ا وښه والی شاهدان دي. د کوچنيو پورونو سکتور، چې مالي خدمتونو ته د لاس رسۍ پروژې له لارې پې مرسته او ملاتړ کېږي، د کوچنيو تشبثاتو له پاره مالي خدمتونو ته دلاس رسۍ او استفادې د زياتوالي په منظور نوښتونه او ابتکارات هڅوي.

/ مالي سکټور

مالي خدماتو ته د لاسرسي پروژه

د نړيوال بانک ۵۰ ميليونه ډالره وړيا مرسته

د مالي خدمتونو دلاس رسۍ دپروژې موخه او هدف ددولت اداري او نهادي ظرفيت رامنځته کول دي، چې دډيرو کوچينو، کوچنيو او منځنيو خصوصي تشبثانو دپورونو په لاس رسۍ کې ښه والی راځرکندشي.په دې پروژه کې درې برخي شاملې دي:

لومړۍ برخه: مالي خدماتو ته د کوچنيو تشبثاتو د لاسرسي پياوړتيا: د پروژې د دې برخي موخه داده چې د افغانستان د کوچنيو پانګونو د ملاتړ اداړې له لارې د کوچنيو پورونو سکټور ته دوامداره مرستې چمتو شي او همدارنګه له دې اداړې سره مرسته وشي، چې له ستراتيژيک پلان سره سم د هڅوونکو پروګرامونو د غځولو له لارې مالي خدماتو ته لاسرسی لوړ کړي او له دې خدماتو څخه د بازار د ټيټو ډير ناوړه حالت کې د ژوند شپې او ورځې تيروي، او معلومه ده ، چې هغوی مرستو ته ډيره اړتيا لري. په مجموع کې دفقر او غربت د کتنې وړ لوړه اندازه او خدمتونو ته ډيره لږه لاس رسی دکورنيو په وړاندې ډيرو ستونزو او مشکلاتو ځرګندوي وی او دا چې نوموړی پروژه به ځرنګه وکړای شي، چې هغوی نسبتاً ښه او پايښت لرونکی اقتصادي حالت ته ورنږدې کړي.

په روان کال کې به داغيزو يوه تعقيبي سروې له ډيرو غريبو او بيوزلو وګړو سره د مرستې د پروژې له ځو اړخيزو اغيزو څخه د زيات پوهاوي او خبراوي په منظور ترسره شي.

دوهمه برخه: مالي خدماتو ته د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو د لاسرسي پياوړتيا: هدف دا دی چې په افغانستان کې کوچنيو او منځنيو تشبثاتو ته د سوداګريزو بانکونو او کوچنيو پور ورکوونکو بنسټونو د پور ورکولو کچه لوړه کړای شي، چې له دې لارې مالي خدمتونو ته د دې تشبثاتو لاسرسی ډاډمن شي. د پروژې دا برخه د افغانستان د پورونو د تضمين اژانس ملاتړ هم کوي. دغه پروژه د سوداګريزو بانکونو تخنيکي ملاتړ هم کوي، چې کوچنيو او منځنيو تشبثاتو ته يې د پور ورکولو وړتيا لوړه کړي. د پروژې دا برخه د پورونو د تضمين اداري ملاتړ هم کوي چې پور ورکوونکو بنسټونو ته د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو، چې د بازار په شکتني پور کې دي، لاسرسی پياوړی کړي.

د پروژې د دوهمې برخې تطبيق د ۲۰۱۷ ميلادي کال د جون په ميا شت کې د ګډون د هغه هوکړه ليک (موافقتنامې) له ترسره کيدو وروسته ، چې د مالېې وزارت او د افغانستان د پورونو د تضمين بنسټ ترمينځ لاسليک شوی و، پيل شو. د دې پروژې دوهمه برخه دکوچنيو او منځنيو متشبثينو له پاره د اعتباري تضمينانو د تدارک مرسته او ملاتړ کوي.

د دې پروژې په جوړښت او تشکيل کې بدلون په خو نورو ولايتونو کې له ډيرو غريبو او بيوزلو وګړو سره د ډيجيټل مالي خدمتونو په ګډون ، د مهمو شاخصونو د دخيل کيدو په خاطر رامينځته شوی دی.

دمالي سکټورر دحالت ښه والي لپاره دچټک ځواب پروژه

دنړيوال بانک۴۵،۷ ميليونه ډالره وړيا مرسته

دغه پروژه له افغانستان بانک سره درنو تادياتو او اغيزمنو معاملو دسرته رسولو لپاره د يوه عصري سيستم په تطبيق او د بانکي څارنو د ښه والي له پاره ديو لړ کاري پروګرامونو رامنځته کولو په چارو کې مرسته او ملاتړ کوي.په ځانګړې توګه دغه پروژه دافغانستان بانک لپاره دمالي تفتيش له لارې،چې دنړيوالو معيارونو له مخې ترسره کېږي، دلسو سوداګريزو بانکونو دمالي حالت د ارزونې شرايط او لارې چارې پياوړي کوي. ددې مالي تفتيش او پلټنې پايلې ددې لامل ګرځي چې دهغو نيمګړتياوو او کمزورتياوو دلرې کولو لپاره، چې دافغانستان بانک دنظارت اوڅارنې په بهير کې پيژندل کېږي،عملي پلانونه طرحه او پلي کړي.

همدارنګه دتادياتو دسيستم نوي کول، البته په نقدي بنه دمعاملو دترسره کېدو دکمښت په موخه، چې اوس په افغانستان کې دراکړې ورکړې سره وسيله ګڼل کېږي، دکارت يا موبايل له لارې دتادياتو پر الکترونيکي سيستم دهغې بدلون، ددې پروژې له نورو موخو او هدفونو شمېرل کېږي. دا پروژه همدارنګه دبانکداريې سکټور مهارتونو ته دلاسرسي په منظور دافغانستان له مالي او بانکداريې انستيتيوت سره ددغه انستيتيوت د فعاليتونو د پياوړي کولو په برخه کې مرسته او ملاتړ کوي.

په ۲۰۱۳ کال د نومبر په ميا شت کې، دا پروژه د ۶،۷ ميليون ډالرو سره طرح شوی ، تاييد او منظور کړه شوه. ددی پياوړي کوونکی بودجې له تاييد څخه موخه او هدف له ځانګړو تخنيکي فعاليتونو څخه پياوړی کوونکی ملاتړ دی چی د مالي سکټور د پياوړتيا د پروژې له خوا يې ملاتړ کيږی. دا پروژه ۲۰۱۴ کال د جون په ميا شت کې وتړل شوه. يادە پياوړی کوونکي بودجه دوه عمده فعاليتونه تر پوښښ لاندې نيسي: (i) د افغانستان بانک د ظرفيتونو د لوړولو د پاره ځانګړي فعاليتونه (ii) د عامه پورونو د ثبت د دفتر رامينځته کول.

دلسو سوداګريز بانکونو تفتيش او پلټنه، چې د ۲۰۱۱ ميلادي کال دنومبر په ميا شت کې پيل شوې وه، د۲۰۱۲ ميلادي کال دجون په ميا شت کې بشپړه شوه، دپلټنې او تفتيش دموندنو په هکله معلومات د ۲۰۱۳ ميلادي کال دجون او جولای په ميا شتو کې له پرمختيايي شريکانو سره شريک شول. سيستمونه، لکه دتضمينانو ثبت او عامه پورونو ثبت اوس مهال په بشپړه توګه فعاليت کوي.

د عامه اعتبارونو د ثبت سيستم، چې د ۲۰۱۳ زيږديز کال په فروري او پر منقول مالونو د رهنې حقوقو د ثبت سيستم، چې د ۲۰۱۳ زيږديز کال په ډسمبر کې د افغانستان بانک په اداري جوړښت کې پرانيستل شوه، د افغانستان په مالي سيستم کې د تر ټولو پياوړي بنسټيز اداري جوړښتونو په توګه ګڼل کېږي. د دې دوو سيستمونو په جوړيدو او فعاليدو سره د کوچنيو او منځنيو سوداګرو او متشبثينو لپاره د بانکي پورونو تړلاسه کولو او د بانکونو ملاتړ په برخه کې زياتې اسانتياوې برابرې شوې دي.

د کريډيټ کارت يا ګرځنده ټليفون له لارې د بريښنايي تادياتو سيستمونو جوړول او نوي کول، چې د افغانستان د بريښنايي تادياتو سيستم لاندې، چې د ۲۰۱۶ کال د اپريل په ۲۶ د افغانستان بانک لخوا پرانيستل شوو، وروستی شوی دي. د بريښنايي تادياتو سيستم د پراختيا په موخه د تدارکاتو چارې وروستی شوي او د ۲۰۱۶ زيږديز کال د اپريل په ۱۵ نيټه، پر شرايطو برابر شرکت سره د دې سيستم ترون لاسليک شوو. د بريښنايي تادياتو سيستم، په شفاف او اغيزمن ډول د مالي تادياتو سيستم په نوي کولو کې مهم رول لري. د بريښنايي تادياتو نوي سيستم په جوړيدو سره د مالي منځګړيتوب رول پياوړی شوو او د مالي سيستم اغيزې او خوندیتوب پياوړی شوو.

د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې د (۲۰ میلیونه ډالرو) په ارزښت دویم مالي مرسته منظور او ومنل شوه. دا ملاتړیزه اضافي بودجه به د پرمختللي او سمبال بانکي سیستم جوړولو کې ولګول شي، چې پر بنسټ به یې د افغانستان بانک وتوانیږي، چې د سکتوري خطرونو مدیریت په ښه ډول ترسره کړي او خپل ځانړنیز رول پیاوړی کړي. سربېره پر دې، ډیر تمرکز به د افغانستان بانک د کارکونکو د ظرفیت لوړولو باندې به پانګونه وشي، څو د هغوی ځانړنیزې وړتیا پیاوړې شي.

د افغانستان بانک د کار کوونکو د استعدادونو د پرمختیا پروګرام د ۲۰۱۸ میلادي کال د فبروري په میاشت کې پیل شو، چې په کابل کې دشرایطو لړونکو کارکوونکو د لسانس او ماسټرۍ د پروګرامونو فیس برابروي، همدارنګه دافغانستان بانک یو هیئت د فبروري په میاشت کې د بنګله دیش له بانک څخه د اساسي بانکي سیستم د لوړتیا د تطبیق په اړه د نومورې بانک دتجربو په هکله د معلوماتو دتبادلې له پاره لیدنه او کتنه وکړه.

افغانستان: د دولتي او خصوصي سکتور د مشارکت د ملاتړ برنامه

د دولتي او خصوصي بنسټونو د سلا مشورو اسانتیاوو د صندوق ۸۵۰۰۰۰ ډالره، مالي مرسته

نړیوال بانک د دولتي او خصوصي بنسټونو مشورو اسانتیاوو د برابرولو له لارې، له ۲۰۱۵ کال راهیسې د مالیې له وزارت سره په افغانستان کې د دولتي او خصوصي مشارکت د د ترسره کولو لپاره د مناسبو شرایطو برابرولو په برخه کې مرسته او د دې وزارت له موخو څخه ملاتړ کوي.

د دولتي او خصوصي بنسټونو د مشورو اسانتیاوو برابرولو په موخه د ملاتړ لومړنی پراو د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د سپتمبر له میاشتې پیل او د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د ډسمبر تر میاشتې دوام وکړ، چې هغه وخت، د دې برنامې مهمو فعالیتونو کې

- د دولتي او خصوصي مشارکت په موخه د ګټورې برنامې لپاره د مالیې وزارت سره تخنیکي او مالي مرسته، څو وکولای شي، د دولتي او خصوصي مشارکت د برنامې د پلي کولو لپاره اړین شرایط وپیژني او پراختیا ورکړي، او د بنسټونو د مالي ستراتیژۍ د پراختیا په هر ارخ کې له افغانستان دولت سره مرسته وکړي، شامل وو.

له دې موخې او هدف څخه د ملاتړ په منظور، په دې لاندې برخو کې یولړ مشخص فعالیتونه په پام کې نیول شوي دي:

- د خصوصي او دولتي مشارکت له پاره د مناسب چاپیریال د خواکمنتیا د مؤثرو پیژندنه، چې پکې دقوانینو مقرراتو او اداري تشکیلاتو د چوکاټ په برخه کې یو لړ اصلاحات، سمونونه او توصیې خصوصي او دولتي مشارکتونو ته داسانتیاوو برابرولو له پاره شامل دي.
- د لومړنیو پروژو د ترسره کیدنې د امکاناتو د مقدماتي مطالعاتو د ترسره کولو له پاره سکتوري لومړیتوب بندي.
- د خصوصي او دولتي مشارکت له نویو پروګرامونو څخه د خبرتیا او ملاتړ په منظور د زده کړې ورکشاپونو او ظرفیت د لوړتیا د پروګرامونو ترسره کول.
- د هیواد په سطحه د خصوصي او دولتي مشارکت له پاره د چمتووالي د تشخیص په منظور د تدبیرونو د رامینځته کولو له لارې د اداري تشکیلاتو پیاوړتیا او د خصوصي او دولتي سکتور د مشارکت د مرکزي اداري له پاره د پرمختیایي پلان تدوین او د دغسې ګډون او مشارکت له پاره لارښودونه.
- د خصوصي او دولتي مشارکت له موخو او هدفونو سره سم د لومړیتوبونو او د مالي پرمختیا د پروګرامونو په رڼا کې

د هغې لومړنۍ پراو د مالیې وزارت په چوکاټ کې د محاسبینو د اداري د رامینځته کیدو په ګډون د جمهور رئیس د فرمان له لارې د دولتي او خصوصي سکتور د مشارکت د قانون تصوب کیدل یې اني او سملاسي نتیجې دي.

د مالي لارو چارو له ښه والي څخه د مرستې او ملاتړ پروژې له لارې هغه دولتي بنسټونه او اداري، چې د مالي مالي سرچینو او منابعو د مدیریت مسوولیت په غاړه لري، ښه والی مومي. دغه پروژه د دولت هر اړخیز پروګرام، چې د عامه مالي سرچینو د مدیریت د اصلاحاتو او ریفورم په منظور تدوین شوي دي، تطبیقوي.

د مالي چارو د ښه والي له پاره د ملاتړ پروژه

د نړیوالې پرمختیا د ادارې ۲۵میلیونه ډالره وړیا مرسته د افغانستان د بیارغونې صندوق ۷۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دغه پروژه د مالیې وزارت، د تداراکاتو ملي ادارې او تفتیش عالي ریاست په ګډون د دولتي کلیدي ذیدخلو ادارو د ظرفیت د پیاوړتیا له لارې د مالي چارو د مدیریت د ښه والي په منظور طرحه شوې ده.

دغه پروژه د افغانستان دولت د مالي چارو د ښه والي د پلان تطبیقي رکن جوړوي او د اصلاحاتو یو مهم او جامع پروګرام په توګه، چې د عامه مالي چارو مدیریت له ټولو ارخونو سره تر خپل پوښښ لاندې نیسي. په دې پلان کې د مالي په وزارت، د تدارکاتو ملي ادارې او د تفتیش عالي ریاست کې د مالي چارو د فعالیتونو ښه والی شامل دي. نومورې پروژه د اړتیا وړ مالي سرچینې د پانګې اچونې دهغو مشخصو فعالیتونو له پاره چې افغانستان دولت د مالي چارو د ښه والي په پلان کې په پام کې نیول شوي دي، پرابروي.

دغه پروژه د پانګې اچونې په پنځو متممو او بشپړوونکو جزونو کې تنظیم شوې ده:

- د تدارکاتو فرعي برخه د ملي تدارکاتو له اداري سره خپل اوږد مهاله مشارکت ته د عامه تدارکاتو د اصلاحاتو د دریم پراو د پرمخبیولو په منظور دوام ورکوي. په دغه برخه کې لومړنۍ کتنه او د جاري اصلاحاتو تثبیت د حقوقي برخې حمایوي چوکاټ مقررات او پالیسۍ راځي. په دې اساس د پرانیستو قراردادونو د تطبیق له پاره نوي اصلاحات د قرارداد د ټولو پراوونو په بهیر کې د عامه تدارکاتو د ارقامو او احصائیو د راټولولو او د لاس رسۍ وړ کړځولو د هغو لویو اقلامو چې ټیټه بیه لري او د بیلابیلو دولتي ادارو له خوا خریداري کیږي، د تکراري تدارک له پاره یې د هیواد په کچه د توافقاتو چوکاټ رامینځته کیږي. د دریم نسل اصلاحاتو رامخې ته کول، چې ډیرمهم او د کتنې وړ دي. او په هغو کې په الکترونیکي (e-GP) بڼه د نوي طرحې او جامع پروسې په واسطه د دولتي تدارکاتو ازمایښتي یا امتحاني تطبیق او ارزیابي شامله ده.
- بودجه د پرمختیا او انکشاف له پاره د یوې وسیلې په توګه، چې موخه او هدف یې د بودجوي پروسو داغیزمنتیا له لارې د بودجې جوړولو او واقعبینانه لګښتونو اټکل، له پالیسۍ سره د بودجې ارتباط ورکول او د منځ مهاله بودجوي لګښتونو معرفي کول دي.
- د عوایدو تنظیمول، چې هدف یې د بیلابیلو عایداتي ادارو د ظرفیت پیاوړي کول دي، په دې منظور، چې د مالیاتو تطابق ښه والی مومي او په خپل وخت د اداري مسایلو او ورکړې (پرداخت) په چارو کې د اسانتیا راشي. او ورپسې موخه او هدف یې د کانونو او هایدرو کاربن سکتور د سرچینو د اغیزناک تنظیم له پاره د دولت د ظرفیت لوړول دي.
- د خزانې، حساب ورکولو ، شفافیت او روښتیا مدیریت، چې هدف یې دعامه مالي مدیریت د اساسي فعالیتونو ټینګښت او پایښت دی. د بودجې او عامه مالي سرچینو د مدیریت د پلان شویو اصلاحاتو له ډیرو په زړه پورې ارخونو څخه د ملاتړ په منظور دی.
- د بنسټیز او نهادي ظرفیت لوړتیا او داجراتو د څرنګوالي مدیریت، چې موخه او هدف یې د مالیې وزارت د پرسونل د ظرفیت لوړول، د وزارت د اړتیا وړ سیستمونو اغیزناک فعالیت او په ټوله کې د مالي فعالیتونو د ښه والي د پلان د هماهنګۍ او مدیریت پیاوړي کول دي.

/ روغتیا

د صحت پروګرام

د نړیوال بانک ۱۰۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د بیارغونې صندوق ۵۱۷ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان دولت ۳۰ میلیونه ډالره

د روغتیا سکټورر د نوښتي پایلو د ټولیز د صندوق ۷ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دې پروګرام موخه تر پوښښ لاندې ساحو پراختیا، د خلکو، په ځانګړې ډول د ښوزلوهغو لپاره د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول او د هغوی کیفیت او همدارنګه په هېواد کې د عامې روغتیا وزارت د مشرۍ رول ته لا ډېره وده ورکول دي. د دې پروژې له لارې د افغانستان په ښاري او لرې پرتو سیمو کې لومړني روغتیایي او د روغتونونو لومړني خدمتونه شامل دي. د دې پروژې له لارې د ولایتونو په کچه ملي روغتیایي سیستم غښتلی کېږي، چې ورسره به عامې روغتیا وزارت د دې جوګه شي، چې خپل د مشرۍ رول په ښه ډول ترسره کړي. دغه پروګرام په ټولیز ډول ۴۰۷ میلیونه ډالره لګښت لري، چې له دې جملې ځخه ۳۰ میلیونه ډالره افغان دولت، ۱۰۰میلیونه ډالره نړیوال بانک، ۷ میلیونه ډالره د ناروې د روغتیایي پایلو نوښتي صندوق او ۲۷۰ میلیونه ډالره د افغانستان د بیارغاونې صندوق برابروي.

دغه پروګرام لاندې درې برخې لري:

لومړۍ برخه: د روغتونونو او روغتیایي اساسي خدمتونو وړاندې کولو دوام او ښه والی:

د عامې روغتیا وزارت او نادولتي موسسو تر منځ د کډ هوکړه لیک له لارې د خدمتونو وړاندې کولو اوتطبیق ملاتړ، چې د همدې هوکړه لیک په اساس دغه موسسې دروغتیایي خدمتونو پېژندل شوې بستې برابروي.

دویمه برخه: د عامې روغتیا وزارت د کادري ظرفیت او ورتیا پیاوړې کول او په دې لاندې برخو کې د لازمو سیستمونو وده او پراختیا: د سیمه ییزو ادارو پیاوړې کول، د روغتیایي خدمتونو د مالي ریاست پیاوړې کول، د مقرراتي سیستمونو رامنځته کول او د درملو د کیفیت د څرنګوالي ډاډمنولو په برخه کې د ظرفیت لوړول، له خصوصي سکټورر سره ګډې هلې ځلې، د روغتونونو د ظرفیتونو لوړول او د خدمتونو ښه کول، د روغتیا سکټورر د بشري سرچینو وده، حکومتداري او حساب ورکول، د روغتیایي معلوماتو د مدیریت پیاوړي کول او د روغتیایي خدمتونو د بد سلوک دامانتي سیستم د ښه والي، دافغانستان په روغتیایي سیستم کې دجندر شاملول او دتدارکاتو دترسره کولو له پاره دپرمختیا په حال کې ظرفیت دی.

دریمه برخه: د پروګرامونو د مدیریت لپاره د ظرفیت لوړول: د عامې روغتیا د وزارت د لارښود د فعالیتونو د سیستم د ودې او پراختیا لپاره د لازمو سرچینو ملاتړ او ټمویل، په مرکز او ولایتونو کې د اوپراتیفي او تخنیکي مرستو په ګډون.

په تیرو لسو کلونو کې په افغانستان کې روغتیایی سیستم د لیدنې وړ پرمختګونه کړي دی، چې په هغه کې د دولت قوي رهبري، د عامه روغتیا مناسبې پالیسۍ، د نویو خدمتونو وړاندې کول،د پروګرامونو دقیق ارزونه او څارنه او انکشافي مرستې ځخه باید ستاینه او یادونه وشي. د کورنیو په سر د شمیر (د ۲۰۰۳ ځخه تر ۲۰۱۵ پورې) ځخه ښکاري، چې د میندو او ماشومانو په مرینو کې لږوالی راغلی دی.

په دې برسیره بیا هم په روغتیایي خدمتونو کې د کیفیت او اندازې په ښه والي برسیره د میندو او د نویو زیږیدلو او د پنځوکلونو لاندې عمر ماشومانو مرینو کچه له هغې منځنۍ اندازې ځخه ټیټه ده، چې د ټیټو عوایدو درلودونکو هیوادونو له پاره په پام کې نیول شوې دي، چې دا ښځوته ارتیاوړ خدمتونو ته دلاس رسۍ په لاره کې د خنډونو بیانونکی دي . افغانستان همدارنګه په نړۍ کې د خوار ځواکې د لوړې اندازې او کچې درلودونکی دی. ۴۱ سلنه ماشومان ،چې له پنځوکلونو ځخه راښکته عمر لري د خوار ځواکې ځخه ځوریږي. ډیر ماشومان او میندې د ویټامینونو او منرالونو له کموالی سره مخامخ دي.

دلنګون او زیږون پروخت په افغانستان کې دمیندو دمرینې شمیر او اندازه په هرو سلو زرو ژوندې زیږونو کې ۱۶۰۰ مرینې په ۲۰۰۲ میلادي کال کې ، په بې سارې ډول راکمه شوې ده. دافغانستان دنفوس روغتیایي سروې په رپوټ کې، چې پر ۲۰۱۵ میلادي کال دمرکزي احصائیې د ادارې له خوا او د امریکا متحده ایالتونو دپرمختیایي ادارې په مالي مرسته ترسره شوې ده، په هر ۱۰۰ زره ژوندې زیږونې او ولادت کې دمیندو دمرینې ۱۲۹۰ مرینې یادونه شوې ده. په دې ترتیب، په دې سروې کې ځرګندیږي، چې دمرینې اندازه به لوړه اټکل شوې وي. دملګرو ملتونو دمیندو دمرینې اندازې دااټکل کارې دله په پام کې لري، چې ددغه سروې شمیرنې او معلومات ځانته داستناد په توګه وبولي او په افغانستان کې دزیږون او ولادت پرمهال دمیندو دمرینې په اړه نوې شمیرې او ارقام وړاندې کړي.

د روغتیا برخه کې پرمختګونه

له پنځو کلونو ځخه د راښکته عمر لرونکو ماشومانو د مرینې اندازه له ۲۰۰۰میلادي کال ځخه تر ۲۰۱۵میلادي پورې په سلو کې ۳۴، یعنې په هر ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونو کې له ۱۳۷ځخه ۹۱ پیښو او واقعو ته کمښت مونډلی دی.

د نویو زیږیدلو ماشومانو د مرینې اندازه ۲۰۰۰ میلادي کال ځخه تر ۲۰۱۵میلادي کال پورې په سلو کې ۳۲، یعنې له ۵۳ ځخه ۳۶ ته په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونو کې راټیټه شوې ده.

د فعالو روغتیایي مرکزونو شمیر په ۲۰۰۲ کال کې له ۴۹۶ ځخه۲۴۰۰ ته په ۲۰۱۶ کال کې پورته شو او په همدې حال کې د ښځینه کارکوونکو شمیر په دې تاسیساتو کې زیات شوی دی.

د تجربه لرونکو روغتیایي کارکوونکو په شتون سره په ټیټ عاید لرونکي قشرکې د زیږیدنې اندازې له ۱۵،۶ سلنې ۵۰،۵ سلنې ته زیاتوالی مونډلی دی.

دروغتیایي خوندیتوب پوښښ، چې د (PENTA3) یا (دپنځو واکسینونو مجموعه: دیفتري، توره ټوخله، تیتانوس او هیپاتیتس B) په نوم یادیږي، له دوه برابرو ځخه زیاته، یعنې له ۲۹ سلنې ځخه ۶۹ سلنې ته د لږ عاید لرونکی قشر په ماشومانو کې، چې عمرونه یې له ۱۲ ځخه تر ۲۳ میاشتو پورې دي، زیاتوالی مونډلی دی.

د امیدواری ضد کولیو (تابلیتونو) ځخه داستفادې عمومیت (له هرې نوې لارې ځخه استفاده) په سلو کې له ۱۹،۵ ځخه په سلوکې ۱۹،۸ ته زیاتوالی مونډلی دی.

دافغانستان دنفوس دروغتیا سروې اوسني اټکلونه دبریالیو زیږونو او ولادتونو دپیښو تر پوښښ لاندې راوستلو له ګراف سره پوره توپیر لري (۵۰،۵ سلنه زیاتوالی نسبت ۲۰۰۳ میلادي کال کې ۱۵،۶ سلنې ته لیدل کیږي). لکه څنګه چې دروغتیایي ساتنو او څارنو دکیفیت ښه والی په بیلابیلو روغتیایي نظرسنجلو کې، روغتیایي خدمتونو ته فزیکي لاس رسۍ (د ۲۰۰۲ میلادي کال په پرتله روغتیایي اسنتیاوو ته دلاس رسی ځلور برابره زیاتوالی) او داغیز کولو په نورو شاخصونو کې پرمختګ (دمثال په ډول: تر پنځو کلونو دراښکته عمرلرونکو ماشومانو مرینه، په هرو ۱۰۰۰ زیږونو کې ۹۱ مرینه) راڅرګند شوی دی. نورې اروندې سروې ګانې هم دمیندو دمرینې شمیره له ۱۲۹۰ ځخه لږه اټکل کړې ده.

د نویو زیږیدلو ماشومانو د مرینې اندازه، له ۲۰۰۰ځخه تر ۲۰۱۵ میلادي کال پورې په افغانستان کې په سلو کې۳۲ کمه شوی ده. په داسې حال کې، چې د نویو زیږیدونکو ماشومانو، زیږون اندازه د تجربه لرونکو ډاکترانو په مرسته زیاته شوې ده، یو شمیر روغتیایي اسانتیاوی له ښځینه کارکوونکو سره هم زیاتې شوې دي. د صحت پروژه د افغانستان خلکو ته د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو د پوښښ د ساحو په پراختیا او پیاوړتیا او د کیفیت په ښه والي کې ډیره مهمه ونده او رول لري.

/ زیر بناء

دافغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د ودې پروژه

دنړیوال بانک ۵۰میلیونه ډالره وړیا مرسته

دغه پروژه د ۲۰۱۷ میلادي کال د دسمبر په ۳۱ نیټه بشپړه شوه

دغه پروژه په دې سکتور کې د مخکینۍ پروژې د لاسته راوړنو او بریالیتوبونو د پراختیا او پیاوړتیا او د راوروسته پراو د ترسره کیدو د اسانتیا د لارو چارو د رامینځته کیدو له پاره تطبیق شوه. نوموړې پروژه د پالیسۍ اود مقرراتو اصلاحات، او داستفاده کوونکو له پاره د باکیفیته تیلیفوني اوانټرنیټي خدمتونو د لاس رسۍ او د اړیکو له پراختیا څخه د ملاتړ له پاره د زیربنایي ستراتیژیکي پانګه اچونې لارې چارې برابرې کړې. دې پروژې همدارنګه د عامه خدمتونو د وړاندې کولو د ښه والي او د حکومتي ستراتیژکو سکتورونو د پروګرامونو په مدیریت کې دموبایل ټیلفونو له اپلیکشن (نرم افزار) څخه استفاده کول ترویج کړل. د دې پروژې له لارې د سیمه ییزې معلوماتي ټکنالوژۍ سکتور د زیات شمیر مسلکي وګړو په لرلو سره پیاوړی شوی او د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژی د کمپنیو له پاره هم دوام لرونکی ملاتړ برابر شوی دی.

د دې پروژې ستر فعالیتونه هماغه د ۱۰۰۰ کیلومترو په اوږدوالی د نوري فایبر مزي غځول دي. د نوري فایبر شبکې ځای پرځای کیدل او استقرار په مرکزي شمال ختیځ تګلوري کې یکاولنګ، کونړ، کاپیسا او غلام خان پورې بشپړ شوی او افغان ټیلیکام ته تسلیم کړل شوی دی.

یکاولنګ، کونړ، کاپیسا او غلام خان د مرکزي تګلوري او همدارنګه د بامیان، مزارشریف د تګلورو کار بشپړ شوی او افغان ټیلیکام ته یې د سپارلو پروسه روانه ده.

شاوخوا ۲۳۰۰ تنه افغان وګړي (چې له ۴۰۰ تنو څخه زیاتې یې ښځې دي) د معلوماتي ټکنالوژۍ د مهارتونو د لوړتیا پروګرام لاندې لازمي زده کړی تراسله کړې دي. له بلې خوا د شاوخوا ۱۵۰۰ بریالیو کارزده کوونکو له پاره د کار موندنې ندارتونونه جوړ شوي دي.

د موبایل تیلیفون له لارې د دولتي خدمتونو د وړاندې کولو لارې چارې برابرول (د موبایل خدمتونو بستر) دافغان ټیلیکام مخابراتي شبکې له خوا پرانیستل شول. د تیلیفون په وسیله د دولتي خدمتونو اپلیکشن او د خدمتونو ډول د مخابراتو اومعلوماتي ټکنالوژۍ د وزارت له خوا تاکل شوی، چې د موبایل خدمتونو نورو وړاندې کوونکو اووزارتونو د یو هوکړه لیک (تفاهمنامې) په اساس به وړاندې شي. دغه پروګرام هر اتباع ته چې موبایل تیلیفون لري دا اجازه ورکوي، چې د خپل موبایل له لارې یو لړ عامه خدمتونو ته لاس رسی پیدا کړي.

له نوښتونو څخه د ملاتړ پروګرام په بهیر کې هغو ۱۵ تنو سیمه ییزو نوښتګرو ته د هغوی د مفکورو او نوښتونو له امله، چې څه ډول ټکنالوژي کارول شوی، چې کولی شي، په بیلابیلو برخو کې د کرنې، پوهنې او روغتیا په ګډون ستونزو او ننګونو ته ځواب برابرکړي، جایزه ورکړې ده.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د برخې د سوداکریز ملاتړ ادارو د مخابراتو دوزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ په ساحه کې جوړه شوی ده او ۲۰ نوي تازه کاربنستونه یې په دې مرکز کې د زده کړې تر پروګرام لاندې نیولی دی. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په وزارت کې د ظرفیت د لوړاوي پروګرام لاندې د وزارت ۴۰۰ تنو کارکوونکو اړونده او لازمه زده کړه تراسله کړې ده.



د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د ودې پروژې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د سکتور د ښه والي یلې برخې ته چنکتیا بخښلی ده او په دولتي ستراتیژیکو برخو کې یې د عامه خدمتونو د وړاندې کولو د ښه والي او ساده کولو د پروګرام مدیریت له پاره یې د کرځند تیلیفون (موبایل) له کارونکو پروګرامونو څخه په استفاده مرسته کړې ده. سیمه ییزې معلوماتي ټکنالوژۍ، صنعت او فن د متخصصینو کارپوهانوپه زیاتوالی سره د کتنې وړ پراختیا موندلې ده. دولت هم له دې سیمه ییزو شرکتونو څخه د دې فن د پراخیدو او خپریدو په منظور مرسته او ملاتړ کړی دی.

د افغانستان د غله جاتو د ستراتیژیکو زیرمو پروژه

۲۰۳ میلیون ډالره وړیا مرسته د نړیوال بانک لخوا

۹.۷ میلیون ډالره وړیا مرسته د جاپان د ټولنیزې پراختیا د صندوق لخوا

ټاکل شوې، چې دا پروژه د غله جاتو د ستراتیژیکو زیرمو په ځانګړې توګه د غنمو د ذخیره کولو په برخه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ له وزارت سره مرسته وکړي، څو په بیرنیو حالاتو کې د اړینو افغان کورنیو د اړتیاوو پوره کولو کې مرسته وکړي او په ورته حال کې ټه ده، څو د غله جاتو د زیرمو مدیریت ښه او ګټور کړي.

دغه پروژه د یو نیمه خپلواک دولتي شرکت درامینځته کیدلو، چې د هیواد دغلو دانو د زیرمو د مدیریت مسوولیت پر غاړه ولري او خپل فعالیتونه له دولتي ادارو او ټولیلوونکو سره همغږي کړي، مرسته او ملاتړ کوي.

دغه پروژه له مخکې څخه د موجودو درې ګودامونو امکاناتو ته لوړتیا بخښلی ده او درې نور لوی ګودامونه یې د غنمو د زیرمه کولو له پاره جوړ کړي دي، سربیره پردې د دې اسانتیاوو د فعالیت په منظور به د نړیوالو معیارونو په رعایت کولو سره د بشري منابعو ملي ظرفیت رامینځته کړي. اټکل کیږي، چې د دغې پنځه کلنې پروژې له پای ته رسیدو وروسته به دهغو غنمو د زیرمه کولو له پاره مجموعي ظرفیت ۲۰۰۰۰۰ متریک ټنو ته زیاتوالی وموميِ، چې د دوو میلیونو افغانانو د شپږ میاشتو لګښت له پاره کفایت او بسنه کوي.

د دې پروژې له پاره د نړیوال بانک له مالي ژمنې پرته ۹.۷ میلیونه ډالره د جاپان د ټولنیزو خدمتونو د پرمختیایي صندوق له لارې هم برابروي.

د منځنی اسیا څخه جنوبي اسیا ته د بریښنا د لیږد پروژه (کاسا - ۱۰۰۰)

۵۲۶.۵ میلیونه ډالره وړیا / یا بې ګټې پور د افغانستان له پاره د نړیوال بانک ۳۱۶.۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته په ګډون

دغه دبریښنا دانتقال زیربنایي پروژه به سودا ګریز او جوړښتي ترتیبات په افغانستان، قرغیزستان، پاکستان او تاجکستان هیوادونکي او همدارنګه دپاینښت لرونکي ۱۳۰۰ میګاواټه سوداګریزې بریښنا له پاره دارتیاوړ زیر بناوې هم ترلاس لاندې ونیسي.

د دې پروژې مجموعي بودجه ۱.۱۷ میلیارد ډالر وړاندوینه شوې، چې له هغې جملې څخه ۵۲۶.۵ میلیونه ډالر نړیوال بانک دپورونو او وړیا مرستې په ډول ځلورو هیوادونو ته تخصیص ورکړی دی. د افغانستان د بیارغونې او پرمختیا بانک، داسلامي پرمختیا بانک او د اروپایي اتحادیې د پرمختیا او بیا رغونې بانک، دامریکا دمتحده ایالتونو دولت، د بریتانیا د شاهي دولت د نړیوالی پرمختیا اداره، او د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیا اداري په ګډون نورو پرمختیایي همکارانو د دې پروژې د ټمویل ژمنه کړې ده.

د (کاسا- ۱۰۰۰) پروژه د ۱۲۰۰ کیلومترو څخه زیاته د بریښنا د لیږد پروژه ، دبریښنا انرژي د تاجکستان او قرغیزستان د بریښنا د تولید سټیشنونو څخه د پاکستان او افغانستان کې سب سټیشنونو ته بریښنا لیږدوي، رامینځته کوي. دا پروژه د مهندسۍ طرح ، د لیږد د شبکو جوړول او تر سره کول او دوه تبدیلونکي سټیشنونه هم ټمویلوي. د تولید سټیشنونه چې د لیږدیدونکی انرژي د (کاسا- ۱۰۰۰) له لارې برابروي، ځینې سټیشنونه، لکه د توکتوګول سټیشن

د قرغیزیستان په جمهوریت کې او د نوریک ستیشن په تاجکستان کې د پخوا څخه فعال دي. د ټرون لیک د محتوا پر بنسټ، په کاسا ۱۰۰۰- پروژه کې یو لږ مهم فعالیتونه لکه: د انجنیرۍ ډیزاین، ودانیزه چارې او د لوړ ولتاژ لرونکې بریښنا انرژۍ عملي لیږد او په قرغیزیستان او تاجکستان کې د هغې اړوند فرعي ټمځایونو جوړښت، له تاجکستان څخه پاکستان ته د افغانستان له لارې د لوړ ولتاژ انرژۍ د مخامخ لیکې لیږد، او په تاجکستان، پاکستان او افغانستان کې د لوړ ولتاژ لرونکې انرژۍ د متناوب بهیر د بدلون د درې مرکزونو جوړښت بلل کیږي. په ورته مهال، په ۲۰۱۶ کال کې د دغې پروژې ځلورو غړو هیوادونو د دغه ټرون لیک مندرجاتو ته بیا کتنه وکړه او پر بنسټ یې په کابل کې د هغې دستګاه له جوړښت څخه لاس واخیستل شو، کوم چې د ډي سي بریښنا بدلون یې په ای سي باندې ممکن کولای شو.

د دې پروژې له مجموعي بودجې څخه افغانستان ۳۱۶.۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته، ترلاسه کړې ده، چې هغه د نړیوال بانک د نړیوالې پرمختیا اداري له خوا برابره شوې وه، دغه مبلغ به ۵۶۰ کیلومتره د لوړولتاژ د شبکې لیږدونې مزې د تاجکستان د سنګتودې له تبدیلونکي ستیشن څخه د پاکستان د نوشهرې تبدیلونکی ستیشن پورې ټمویل کړي. سربیره پردې افغانستان له منځنۍ آسیا څخه ترجنوبي آسیا پورې د بریښنا د انتقال د سیمه ییزې پروژې د مرستې او ملاتړ له پاره دافغانستان دبیارغونې صندوق ۴۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته ترلاسه کړې ده. زیات جزییات یې دلته ولولئ.

داسې هیله او توقع کیږي، چې افغانستان ۳۰۰میګاواټه بریښنا د موجودو ۲۲۰ کیلو ولټه لاینونو له لارې له تاجکستان او قرغزستان له جمهوریتونو څخه د سنګتوده تبدیلونکي سب ستیشن څخه او د پلخمرۍ له لارې په کابل کې د چمتله تر سب ستیشن پورې وارد کړي. د افغانستان بریښنا شرکت د جوړولو او عملیاتو پراووونو امنیت د تامین په شمول د افغانستان د برخې د تطبیق مسوولیت په غاړه لري.

د کاسا- ۱۰۰۰ پروژې عملي کار د ۲۰۱۸میلادي کال د جنورۍ په ۲۴نیټه پیل شو. د لوړ ولټاژ د شبکې د اتصال درې قراردادونه د ۲۰۱۷میلادي کال د ډسمبر په میاشت کې لاسلیک شول، چې په عین وخت کې نړیوال بانک د هغو په برخه کې هیڅ اعتراض نه درلود. د سروې او ډیزاین کارونه هم پیل شوی. په قرارداد کې د مندرج مهال ویش په اساس داسې هیله او توقع کیږي، چې د ولایتونو اتصال د ۲۰۱۹میلادي کال په دویمه ربعه کې پیل شي.

د لوړولټاژ د شبکې د اتصال له پاره د مشخصو هیوادنیو ټولنیزو او چاپیریالي اغیزو د چمتووالي د ارزیابۍ قرار داد تر تطبیق لاندې دی. د افغانستان بریښنا شرکت د لینونو د اتصال د عملیاتي پلان د تطبیق په منظور د نوې ځای پرځای کیدنې له پاره د مشورې ورکول د یو نړیوال شرکت د انتخاب د مراحلو د طی کولو په حال کې دی. د کاسا-۱۰۰۰ د لوړ ولتاژپروژې د برخو له پاره د ځارونکي شرکت قرارداد تر مذاکرې لاندې دی، او داسې هیله کیږي، چې ژر به لاسلیک شي.

دکاسا- ۱۰۰۰ پورې د اړوندو نورو کلیدي زیربناوو له پاره تدارکات په پاکستان او تاجکستان کې د دوو تبدیلوونکو ستیشنونو د تدارک په ګډون په دریو هیوادونو کې ترکار لاندې دي.

د هرات د بریښنا پروژه

د نړیوال بانک ۶۰ میلیونه دالرو وړیا مرسته

د دې پروژه موخه د هرات ولایت په یو شمېر ځانګړو سیمو کې د شاوخوا ۲۳۸۰۰ کورنیو او شاوخوا ۱۶۰۰ دولتي ادارو او خصوصي شرکتونو لپاره د بریښنا انرژۍ د رسولو په موخه د افغانستان له بریښنا شرکت سره مرسته بلل کیږي.

ټاکل شوې، چې دا پروژه به د هرات ولایت د بریښنا انرژۍ په لاندې برخو کې له پانکوني څخه ملاتړ وکړي: (الف) دکروخ په ولسوالی کې ۱۱۰ کیلو واټه انرژۍ د لیږدونې د لیکې او خط رامینځته کول او د کروخ، پښتون زرغون، اوبی او چشت شریف سب ستیشنونه او ۱۱۰/۲۰ کیلو واټه فرعي دستګاه او د هرات ولایت په ځلورو ناحیو کې د کوچنیو او منځنیو ولتاژونو د ویش شبکې. (ب) د هرات ولایت په بیلابیلو سیمو کې د بریښنا رسولو د شته شبکو پراختیا، پیاورتیا او بیارغول، څو هغه له نویو جوړ شویو شبکو سره ونښلول شي. او (ج) د راتلونکو ۵ کلونو څخه په کمه موده کې په کلیو کې ۱مریزې بریښنا د تولید د شبکو او د ترکیبي بریښنا د تولید د کوچنیو شبکو جوړول.

دغه پروژه د موجودو پروسیجرونو او معیارونو ته له کتنې او همدارنګه د بریښنا د لیږدونې د شبکې له هغو کیبلونو څخه استفاده د چمتووالي له پاره له هغو اصولو او ستندردونو څخه کار اخیستنه، چې له نړیوالو منل شویو لارو چارو سره سمون ولري، مرسته او ملاتړ کوي. د ځلورو ولسوالیو د بریښنا رسولو قرارداد ورکړل شوی او د ساحې ابتدایي سروې هم ترسره شوې ده.

د افغانستان دولت به له منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د بریښنا د لیږد له پروژې څخه ګټه واخلي. په عین وخت کې له دې پروژې څخه سیمه ییز ملاتړ د هغو سیمو او خایونو له اوسیدونکو سره، چې په ټکلوري کې واده‌ق دی، مرسته کیږي. چې له زیاتې بریښنا او نورو ټولنیزو اقتصادي پانکه اچونو څخه برخمن شي.

داوبو لګولو سیستم درغونې او پراختیا پروژه

د نړیوال بانک ۹۷.۸ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د بیارغونې صندوق۱۱۸.۴ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دولت۳.۵ میلیونه ډالر مالي ملاتړ

دغه پروژه دافغانستان داوبو لګولو دسیستم رغونې او پراختیا په منظور، چې په بشپړه توګه دنړیوال بانک له خوا ټمویلېدله او د ۲۰۱۱ میلادي کال په ډسمبر کې بشپړه شوه، تطبیقیږي.

ددې پروژې له نوې جوړښت او ۲۰۱۶ میلادي کال دجولای په میاشت کې ددې پروګرام دفعالیتونو د دوام له پاره دپیاورې کوونکي مالي وجهې پرتامین باندې له موافقې وروسته، په ۲۱۵ زره هکټاره ځمکه کې داوبو لګولو سیستم او لږ شمیر داوبو کوچني بندونه جوړ او بیارغول شوي دي، له دې سره یو ځای دغه پروګرام دهوا پیژندنې ، اوبو خدمتونو داسانتاوو د سیستمونو په تاسیسولو توانیدلی دي.

داوبو لګولوسرچینو په برخه کې په مجموعي ډول ۱۷۳ داوبو لګولو دشبکې طرحې رامینځته شوې، چې له هغو څخه داوبو لګولو دسرچینو په اړوندو سیمو کې ۱۷۵۰۰۰ هکټاره ځمکه د پروژې د پای ته رسیدو په مقایسه او پرتلنه، چې ۲۱۵۰۰۰ هکټاره ځمکه او ۳۲۶۰۰۰ بزګري او کروندګري کورنۍ تر خپل پوښښ لاندې نیسي.

د اوبو د کوچني بند په برخه کې، د ۲۲ کوچنیو بندونو د لومړنی ارزونې په ترڅ کې د سیند په شمالي کاسه کې د شپږو غوره بندونو لومړنی مطالعه تر سره شوه. له مالیې وزارت څخه غوښتنه شوې ، چې د دې مطالعې ټولنیز او چاپیریال جزییات حذف کړي. ځکه، چې دولت د دغو شپږو مهمو بندونو د جوړولو مشرحې طرحې د امکان سنجونې په مطالعاتو کې شاملوي.

سربیره پردې د قرغې او درونتی د بندونو مصونیتی / حفاظتي لارښودونه او ترمیماتي کارونه د پرمختګ په حال کې دی.

دهایدرو میتیورولوژی په برخه کې ۱۲۷ ایستګاوو او دواورې داندازه کولو هاریدرو لوژیک ۵۶ ایستګاوو، نصبولو کار، چې په بیلابیلو پنځو سیندنیو حوزو کې واقع دی، دوام لري. سربیره پردې د کیبلي تکلورو ۴۰ مرکزونه دسیندونو د پاسه جوړیږي ، د اوبو د جریان د اندازه کولو په منظور په انتخاب شویو مرکزونو کې هایدرولوژي نصب شوې او د ۳۰ نورو کیبلي تکلورو کار روان دی. یوملي عملیاتي او د څارنې او ساتنې ټیم د ټولو هایدرولوژیکي مرکزونو د حفظ او مراقبت د عملیاتو په منظور رامینځته شوی دی.

د یو کانال بیارغونې، جبه زاره ځمکه
په کرنیزه ځمکه بدله کړه

- **د اوبو لګولو سیسټم د رغونې او پراختیا پروژې د بلخ په ولایت کې له کروندګرو سره مرسته وکړه، چې د اوبو لګولو شبکې او سیسټمونو ته ښه والی ورکړي، ترڅو ډیرې هغه ځمکې، چې د مخه یې د اوبو د کمښت له امله نشوې کرلای، د کر وړ وګرځوي.**
- **له دې پروژې ځخه له ۱۴۰۰۰ زیاتو کورنیو، چې پرکرنه او بنوالی (باغداری) مټکي دي، ګټه اخیستې او عوایدو یې زیاتوالی موندلی دی.**
- **د کانال بیارغونه او جوړونه ۱۳۰۰۰ هکټاره ځمکه خړوبوي، هغه ځمکې، چې د مخه خاره وې، اوس په کرنیزو او حاصلخیزو ځمکو بدلې شوې دي.**
- **«دا دویم کال دی، چې کولی شم خپله څلور هکټاره ځمکه وکرم، د دې پروژې له خوا د کانال د بیارغولو او جوړونې له امله مننه کوم»**

په شوندو یې د خوښۍ موسکا خپریږي او د غنمو د هغه حاصل په هکله فکر کوي، چې له خپلې څلور هکټاره ځمکې یې ترلاسه کوي. هاشم په داسې حال کې پرخپله ځمکه کې یې قدم واهه وویل: "دا دویم کال دی، چې کولی شم خپله ټوله څلور هکټاره ځمکه وکرم. د دې پروژې له خوا د کانال جوړولو اوبیا رغولو له امله مننه کوم." نومورې د پخوا په هکله، چې بزګران او کروندګر د اوبو له کمښت سره مخامخ وو، خبرې کولې. د همیشني استنادي دیوال له موجودیت پرته، به بزګرانو له وچکالۍ برسیره باید له سیلابونو سره هم مجادله کړی وای. د اوبو لګولو سیستم ته د لاس رسۍ نشتوالی زیاتره د فصل او کرنیزو محصولاتو د خرابۍ سبب ګرځیده او سیلابونه به د ځمکې د خاورې د وړلو او ښویدلو سبب کیدل او زیاتره ځمکې به په شاړو او خرابو بدلیدلې.

خو که افغان بزګران انعطاف منونکی نه وای ښایي دې کار دوام نه وای کړی، ډیرو کوښښ وکړ، چې استنادي دیوالونه د شړو له بوجیو ځخه په استفادې جوړ او رامینځته کړي، خو دا کړنه ، نه یوازې دا چې ډیره ګرانبیه او قیمته ټامیدله، ګټوره او پایښت لرونکې هم نه وه.

یو بل بزګر پنځوس کلن محمد اشرف د حساب له ضرب او تقسیم ځخه وروسته وویل:"مونږ هر کال له ۵۰۰۰۰۰ افغانیو ځخه زیاتې (۷۵۰۰ ډالر) د هغو استنادی دیوالونو له پاره لګولې، چې د شړو د بوجیو په وسیله به مو جوړول، ترڅو له دې لارې زمونږ ځمکو ته د خړوبولو له پاره اوبه راشي. اوس د دې کانال په جوړیدلو سره دغه اندازه پیسې مونږ ته سپما اوزیرمه کیدلی شي. ټول بزګران له دې امله ډیر خوښ دي.

په عوایدو او ګټه وټه کې زیاتوالی

هاشم او اشرف د "شرقي" په نوم د هغه بیارغول شوي کانال ځخه د زیاتې ګټې اخیستونکو وګړو له ډلې ځخه دي، ورځخه له ۱۴۰۰ځخه زیاتې کورنۍ د خپلو ځمکو د خړوبولو له پاره استفاده کوي. "شرقي" کانال چې د مزار شریف ښار په شمال ختیځه برخه کې د خلم ولسوالی د نصرالله کلي د چهل ایوان پرسیندجوړ شویدی. د هغو بزګرانو له پاره د عایداتو اصلي منبع او سرچینه، چې له شرقي کانال ځخه استفاده کوي، باغداري، کرنه او مالداري ده. د هغوی زیاتره تولیدات انار، هندوانې او غنم دي.

د شرقي کانال نوي بیارغونه او جوړونه، چې له ۱۳۰۰۰هکټارو ځخه زیاته ځمکه خړوبوي، د دې سبب شوی، چې شاړې او خاره ځمکې هم په کرنیزو حاصلخیزو ځمکو بدلې شي. سربیره پردې دغه نوي استنادي دیوالونه، چې د اوبو لګولو سیستم د رغونې او پراختیا پروژې له خوا جوړ شوي، د سیند د بستر د ټینګښت او تحکیم لامل شوي دي. له کانال ځخه بیلابیلو کرنیزو ځمکو ته د اوبو بیولو له پاره یې آبکردانو نه (سربندونه) هم جوړ کړي دي. پردغه پروژه ۵۷ میلیونه افغانۍ (تقریباً ۸۵۳۰۰۰ ډالر) لګښت راغلی دی، چې د ۲۰۱۴میلادي کال د جون په میاشت کې پیل او د اوبو رسولو شبکه یې په ۲۰۱۵میلادي کال د نومبر په میاشت کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې ده. اوبه لګول او د ځمکو خړوبول د شرقي کانال یو مثبه نتیجه وه، چې د اوبو لګولو سیستم د رغونې او پراختیا د پروژې له خوا یې ژمنه او تعهد شوی و.

د اوبو لګولو سیستم د رغونې او پرمختیا پروژې د بلخ په ولایت کې د قرارداد شویو ۲۷پروژو له جملې ځخه ۱۸پروژې بشپړې کړې دي."داوبو لګولو سیستم د رغونې او پراختیا پروژې د افغانستان د شمال د اوبو رسولو شبکې بیارغولې او یاپې هغو ته پراختیا ورکړې ده."دغه مطلب په مزار شریف کې د اوبو لګولوسیستم د رغونې او پراختیا پروژې د ساحوي دفتر مرستیال انجینر ذبیح الله عصمتي بیان کړی دی.

نومورې زیاتوي:

"دغه کار په نومورو ولایتونو کې د بنوالۍ او کرنیزو فعالیتونو د هڅونې او تشویق سبب شوی او مستقیماً د کرنې د عوایدو په زیاتوالي تعبیریږي".

> «دا دویم کال دی، چې کولی شم خپله څلور هکټاره ځمکه وکرم، د دې پروژې له خوا د کانال د بیارغولو او جوړونې له امله مننه کوم.»
>
> –**محمد هاشم**، د خلم ولسوالۍ یو تن بزګر

د ګمرکي اصلاحاتو او سوداګریزو اسانتیاوو دویمې پروژې له لارې په ګمرکي سکتور کې اصلاحات د وډې او پرمختیا په حال کې دی. د ګمرکونو په دفترونو کې د خپل کاري سیستم نصبول او اتومات جوړول دوام لري او له هغو ځمنه زیات اوس د استفادې وړ دی. د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې د هغو وصلولو د کتنې وړ ښه والی موندلی دی. تراوسه پورې ۱۳ اداری د نورې فایبر له لارې یو له بل سره وصل شوې دي.

دګمرکی اصلاحاتو او سوداګریزو اسانتیاوو دویمې پروژې ټمویل په منظورد پیاوړې کوونکې مالي مرستې تامین

دنړیوال بانک ۲۱،۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دپیاوړې کوونکې مالي مرستې تامین دګمرکي اصلاحاتو او سوداګریزو اسانتیاوو ددویمې پروژې دفعالیتونو د دوام له پاره، مطلوبې پرمختیایي موخې ته درسیدو په لار کې دمالي ټمویل د تشې او خلاء رفع کولو سبب ګرځي، دافغانستان له دولت سره مرسته کوي، چې دګمرکي اصلاحاتو او سوداګریزو اسانتیاوو په برخو کې اوږده مهاله لومړیتوبونه ترسره او نهایي کړي.

دغه مالي وجهې به دګمرکي اصلاحاتو او سوداګریزې اسانتیا دویمې پروژې له فعالیتونو سره یوځاې او موازي دامرسته وکړي، چې دپروژې وروسته پراو دضروري فعالیتونو دپیژندلو پورې اړوند لکښتونه هم تامین شي. په دې فعالیتونو کې دغه موارد شامل دي: په نورو پاتې سرحدي بندرونو کې دخپل کارو اوتوماتیکو تنظیموونکو دستګاوو نصبول او له داخلې ګمرک ځمنه دکالو او مالونو درتخیص مخزنونه، پایښت لرونکې نوې جوړنه ، دګمرکي دزیربناوو نوې رغونه او جوړونې، دتخنیکي مرستو وړاندې کولو او په کلیدي برخو کې ظرفیت جوړونه دګمرکي ادارې دنویو او مدرنو لارو چارو دمعرفې کولو په منظور، دګاونډیو هیوادونو له ګمرکي ادارو سره دهمکارۍ دښه والي په منظور اغیزناک میکانیزمونه او بالاخره دګاونډیو هیوادونو په ګمرکونو کې له کرنو او اجراتو ځمنه دخارنې دسیستمونو زیات ښه والی، دیو اتوماتیک او خپلې کارې خبرووونکي میکانیزم له لارې.

له بلې خوا نومورې مرسته د سوداګریزو اطلاعاتو دیو ویب سایټ (TIP) دطرحې ، واحدې ملي کړکۍ (NSW) او همدارنکه دزده کړې دملي نصاب دپرمختیا او تدریسي موادو برابرول هم ټمویلوي.

د دې پروژې د برخو د سرته رسولو اوتطبیق له پاره ښه پرمختګونه شوي دي. د مثال په ډول : د اسکودا د ګمرکي احصائیو او ارقامو خپل کاري سیستم ، په ۱۷ ګمرکونو کې د ګمرکي اطلاعاتو د سیستم د نړیوالې اعلامیې سره، په ۱۰ ګمرکونو کې د خطراتو د مدیریت واحد او په اوو ګمرکونو کې د ارزښت د کنترول واحد فعال دی. په شپږو ګمرکونو کې خروجي او د خولې دروازې فعالیت لري، په داسې حال کې، چې نړیوال ترانزیت په اوو دهلیزونو کې داجراء وړ ګرځیدلی دی.

د نویو رپوټونو په اساس د الکترونیکي تادیاتو سیستم په ځلورو ګمرکونو کې تطبیق شوی دی. د مسافرو د اظهارنامو موډل او نقدي مقادیر په ځلورو موقعیتونو کې تطبیق شوي دي. د عراده جاتو د کنترول واحد د موټر سایکلونو د شمولیت د اظهارنامو په برابرولو سره اصلاح شوی دی.

د معلوماتو ټکنالوژي، د نوري فایبر له لارې د ۱۳دفترونو په اتصال سره، خپره شوې او ښه والی پې موندلی دی، د ګمرکونو له ګمرکونو سره د مرستې او همکارۍ له پاره د ایران د ګمرکونو د سیستم او د افغانستان اسیکوډا سیستم ترمینځ اتصال تامین او ازموېل شوی دی. د افغانستان او پاکستان ترمینځ د ارقامو تبادله د ځینو دلیلونو له املې ځنډول شوې ده.

د زیر بناء د پرمختیا په برخه کې، په مجموع کې ۱۲ قراردادونه شوي دي، چې له دې جملې ځخه ۷ قراردادونه بشپړشوی، درې قراردادونه په جریان کې دي او دوه فرعي پروژې په نړدې راتلونکې کې پیل کیږي.

د معلوماتو اجرائیوي سیستم د اضافې لیکلو پیغامونواو د مدیریت له پاره د راپورونو په شمولیت، ډیر پرمختک کړی دی. د ملي واحد کړکۍ د امکان سنجونې مطالعه او د سوداګریزو اطلاعاتو باب ټرون شوی او داسې هیله کیږي، چې ژر به په سلاکارانو او مشاورینو سنبال شي.

همدارنکه د دې پروژې له لارې د پښتو تعرفو د کتاب اصلاح او سمون او د توضیحي یادښتونو ژباړې حمایت او ملاتړ شوې او د ګمرک د استفاده کوونکو د پوهاوي او خبراوي دریمه سروې د ۲۰۱۷میلادي کال د جولاې په میاشت کې بشپړه شوه.

دګمرکاتو دقانون په بندونو او مادو پورې اړونده سمونه او تصحیح ترسره او نهایي شوې ده، دافغانستان اسلامي جمهوري دولت دولسمشر دتقنیني فرمان په صادریدو سره تائید او توشیح شوې ده . دافغانستان دګمرکونو دخانګو د ۱۳۹۵مریز کال تشکیل (دادارې جوړښت) چې ګمرکاتو دقانون دتطبیق ریاست هم پکې شامل اود ادارې اصلاحاتو او ملکي خدمتونو دکمیسیون له خوا تصویب شو.

د یو اجرائیوي واحد درامینځته کیدو په منظور د پلان دعملي کولو طرح تر کتنې او څیړنې لاندې ده. په اوس وخت کې دانتقال پروسه او د اجرائیوي ځانګو په برخه کې دکار کوونکو ګومارل پیل شوي او دغې ټیم دافغانستان دګمرکونو ملي اکاډمۍ دظرفیت جوړولو لنډ مهالو کورسونو کې ګډون کړی دی. دیادونې وړ ده، چې په دې اکاډمۍ کې دګمرکونو دپولیسو له پاره ځانګړې زده کړې همدا اوس جریان لري.

/ د کلیو پراختیا

د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړولو پروګرام

دنړیوال بانک ۱۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دافغانستان دبیارغوني صندوق ۳۱۲ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دافغانستان دکلیوالي لارو او سړکونو جوړولو پروګرام دکلیوالو استوګنو دخواکمنولو لپاره، چې ددغو لارو او سړکونو په وسیله په هر ډول جوي حالاتو کې اساسي خدمتونو او اسانتیاوو ته لاس رسی موندلای شي، په ټول افغانستان کې مرسته کوي. دغه پروژه په پام کې لري چې یو شمیر هغه استوګن، چې له هغو کلیوالي سړکونو ځخه ددوه کیلومترو په واټن استوګنه لري، چې د کال په اوږدو کې ورځخه استفاده کړې، زیات کړي او ضروري خدمتونو ته دلاسرسي لپاره د تک وخت راکم کړي، او د کلیوالو استوګنو لاسرسی ضروري خدمتونو ته اسانه کړي.

د۲۰۱۸ کال د جنوري تر میاشتې پورې ددې پروژې له لارې په ۶۵۰ کیلومتره دویمه درجه سړک کریر اچول شوی، ۲۶۰ کیلومتره دویمه درجه سړک قیر شوی،۱۳۸۰ کیلو متره دریمه درجه سړک بشپړ شوی دی. سربیره په دې د ۱۴۰۰ مترو په اوږدوالی دویمه درجه او ۱۶۰۰ مترو په اوږدوالي دریمه درجه پلونه هم جوړ شوي دي. په عین وخت کې له ۱۳۰۰ کیلومتره دویمه درجه سړک ځخه ورځنۍ ساتنه او له ۵۰۰ کیلومتره دویمه درجه سړک منظم ځارنه او ساتنه تراس لاندې نیول شوي ده. د۱۰۰۰ کیلومتره دریمه درجه سړک ورځنۍ ساتنه او ۳۶۰۰ کیلومتره دریمه درجه سړک منظمه ساتنه او ځارنه هم بشپړه شوې ده.

د هیواد په سطحه د کلیوالي سرکونو او لارو لومړنۍ موجودې او سروې (ارزیابي) بشپړه شوی او همدارنکه په سلو کې ۷۰ د دویمې درجې او له هغې ځخه دلوړو سرکونو موجودي دهیواد د ۳۴ولایتونو له جملې ځخه په ۲۵ ولایتونو کې تراوسه بشپړه شوې ده.

په یوې لرې پرته کلیوالي سیمې کې دیوپُل
په جوړیدو ژوند څه ډول بدلون وموند؟

- **د کندهار ولایت په یوې لرې پرته ولسوالی کې د یونوې پُل جوړیدل د هغه ولایت د خلکو په ژوند کې د بدلون سبب شوی، روغتیایي خدمتونو او د ژوند نورو اړتیاوو ته په لاس رسۍ کې یې ښه والی او اسانتیا راوستې ده.**
- **دې پُل شاوخوا نیم میلیون کلیوالو وګړو ته د دې ولایت له نورو ولسوالیو سره د ارتباط او اړیکو لارې چارې برابرې کړې دي.**
- **د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړولو پروګرام، نه یوازې دا چې د دې پُل د جوړولو لارې چارې یې برابرې کړې دي، په دې ولایت کې د زرګونو خایي خلکو له پاره د کار کسب او روزګار فرصتونه هم برابر کړي دي.**

خو کلک کانکریټي ساختمان، ناڅاپه له نازکو زنګونو سره ټکان خوري، چې ګوندې د کوچیانو د کاروان تیریدل، چې د خپلو پسونو او وزو د رمو د څرولو په حال کې دی. شپانه او څاروي یې په ډیرې اسانۍ سره له هغه پُله څخه تیریږي، چې د کندهار د ښار په (۱۰۰) کیلو مټرۍ واټن کې د دې ولایت دیوې لیرې پرتې ولسوالۍ په لاره کې پر سیند باندې جوړ شوی دی.

نوموړی سیند د ارغستان ولسوالۍ سویلي (جنوبي) برخې له شمالي برخو څخه جلا کوي او همدارنګه د هیواد په سویل کې نورې سیمې هم یو له بلې بیلوي. د مخه د دغسې یو پُل په نشتوالي کې به د سیند د دواړو غاړو استوګنې کلیوال وګړي د ژمي د موسم په وروستیو او د پسرلي په لومړیو کې له دې سیند څخه په تیریدو راتیریدو کې له ډیرو ستونزو سره مخامخ کیدل.

"په دې وروستیو کې د دې پُل په رامینځته کیدو او جوړیدو سره د جنوبي سیمو کلي د ارغستان ولسوالۍ له مرکز سره وصل شول او په دې ترتیب د دې سیمې په زرګونو استوګنو ته دژوند اساسي خدمتونو، لکه روغتیایي خدمتونو او بازارونو ته لاس رسی برابر شوی دی". د پُل له جوړیدو څخه د مخه مور په دوو دریو میاشتو کې نشو کولی له سیند څخه تیر شو". یو کلیوال ۶۵ کلن پیر محمد د باقرزي کلي اوسیدونکی وایي: "کلیوال مجبورو، چې روغتیایي مرکز ته د مراجعه کولو په منظور (۵۰) کیلو مټره واټن (فاصله) ووهي، د دې پُل له جوړیدو څخه وروسته اوس مور په اسانۍ سره کولی شو، په لږ وخت کې ځان روغتیایي مرکز او د ولسوالۍ بازار ته ورسوو. اوس زمونږ مشکلات او ستونزې حل شوې دي". هغه دخپلو خبرو په دوام وویل: "د مخه مور مجبور وو، چې د کندهار ښار مرکز ته د ورتلو له پاره (۸) ساعته لاره ووهو، خو اوس مور همدغه لاره او واټن څلورو ساعتونو ته راکم شوی دی".

د ګاونډیو کلیو او قصبو کلیوالو هم په خپل وار سره د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړولو پروګرام له خوا د دې پُل له جوړولو څخه خوښي څرګندوي، ځکه چې د همدې پُل له جوړیدو څخه وروسته د هغوی په ژوند کې د کتنې وړ ښه والی هم راغلی دی. دغه کلیوال، چې زیاتره یې په کرنه او مالدارۍ د ژوند شپې ورځې تیروي، د مخه په مستقیم ډول د کندهار د ښار له بازارونو سره وصل نه وو. بنوال (باغوانان) به ار او ناڅاره وو، چې کندهار ښار مرکز ته د تللو له پاره اوږده او کنډکړ لاره ووهي، چې دا کار د کرنیزو محصولاتو، په ځانګړې توګه د هغوی انارو ته دیر زیان وراړوه. د انارو یو باغوان وایي: " د دې پُل له جوړیدو څخه د مخه مور مجبور وو، چې خپل محصولات په ډیره تیټه بیه وپلورو. خو اوس ټولو شیانو تغیر او بدلون موندلی، مور په ډیرې آسانۍ سره له دې پُل څخه تیریږو، پاخه (قیر) سړک ته ورځو. اوس مور خپل محصولات په مناسبه بیه بازار ته وړاندې کوو. "

د سیمې او ځایي اقتصاد پیاوړتیا

پیر محمد د کندهار ولایت له ۵۰ زرو کلیوالو څخه یو اوسیدونکی دی، چې د نورو کلیوالو په څیر یې د دې پُل د جوړیدو له ښیګڼو او ګټو څخه استفاده کړې. فعلاً له دې لارې د ګاونډیو ولسوالیو، لکه سپین بولدک، معروف او دامان ولسوالیو سره وصل شوی دی. نوموړی پُل د ۲۶۰ مټرو په اوږدوالی او ۹ متر پلنوالی د ۱۶۲میلیونه افغانیو (شاوخوا ۲،۴ میلیونه امریکایي ډالر) د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړولو د پروګرام په مالي مرسته او ملاتړ سره جوړ شوی دی.

دغه پُل د سیمې او ځایي خلکو د اقتصاد دهځوني او پیاوړتیا سبب شوی . د ارغستان ولسوالۍ د جنوب برخې خلک اوس د خپلې ورځنۍ اړتیا وړ شیان د سپین بولدک د ولسوالۍ پرځای په خپل کاوند کې له نږدې بازار څخه د ارغستان ولسوالۍ په مرکز کې خریداري کوي. د ولسوالۍ په مرکز کې د سوداګرۍ او کاروبار اندازې له دې او پرمختیا سره په یو وخت کې د ځای او محل دیر شمیر وګړي د کار کسب د لارو چارو ایجاد او دوکانونو رامینځته کولو ته علاقمند او مینه وال شوي دي.

د افغانستان د کلیوالي لارو جوړولو د پروګرام د فعالیتونو کتنې او شیکنې د کلیوالو خلکو د ژوند په نورو برخو کې هم د لیدنې کتنې وړدی. دې پروژې د ځایي او سیمې د خلکو له پاره د کار کسب په زرګونو فرصتونه رامینځته کړي، د مثال په ډول: له ۱۵۰۰ تنو څخه زیات د ځایي او محلی کارکوونکي د دوو کلونو له پاره استخدام شوي دي، ترڅو دغه د ارغستان پُل جوړ کړي.

په دې سیمه کې د نورو ډیرو پرمختیایي پروګرامونو سره د دې ځای اوسیدونکی کولی شي، په خپل ژوند کې ډیرښه والی وویني " د ارغنداب پرسیند باندې د دغه پُل جوړیدل بازار او اساسي خدمتونو ته د خلکو د لاس رسۍ د ښه والی سبب شوی دی، خو دا د کار پای نه دی . مور غواړو د کندهار په ولایت نورې ډیرې پروژې هم ترسره کړو." انجینر فاضل عمر، د فواید عامې په وزارت کې د کندهار د زون د کلیوالی سړکونو جوړولو د پروګرام مسوول، دغه مطلب بیانوي.

> "د دې پُل له جوړیدو څخه وروسته، اوس مور کولی شو په اسانۍ سره په لږ وخت کې خپل ځان روغتیایي مرکز او یا بازار ته ورسوو. اوس زمونږ ستونزې حل شوي دي."
>
> -پیر محمد، د باقرزي کلي اوسیدونکی

د افغانستان د کلیوالي صنایعو د ودې پروګرام

دنړیوال بانک ۲۸.۴ میلیونه ډالره ورپا مرسته

دافغانستان دبیارغونې صندوق ۱۱.۲ میلیونه ډالره ورپا مرسته

ددې پروژې هدف داقتصادي فعالیتونو د انسجام او د سپما او پور په کړوپونو کې دښوزلو کلیوالو استوګنو تنظیمول دي. دغه پروژه به وروسته ددغو ډلو او ګروپونو لپاره تخنیکي مرستې هم برابرې کړي چې وکړای شي چې دسپما او پور ورکولو دفعالیتونو له لارې یو لړ مالي اصول رامنځته کړي او هم سوداګریزو شرکتونو ته تخنیکي خدمتونه برابرکړي.

تر اوسه د دې پروګرام له لارې د سپماځه باندې۵۹۹۶ ډلې، چې شاوخوا۶۰۷۰۰ ښوزله کلیوالي غړی لري (۵۴ سلنه یې ښځې دي) په ۶۹۴ کلو کې تنظیم شوي دي. د سپما دغوډلو څه باندې ۴،۲ میلیونه ډالر سپموليې دي او غړو یې تر ۴۱۹۰۰ زیات داخلي پورونه د تولیدي او بیرنیو موخو لپاره تر لاسه کړي دي، چې د پورونو د بېرته ورکړې کچه ۹۵ سلنه ده.

د پام ور کاروبارونو د رامنځته کېدو په موخه «د سپما ډلو د ټولنو» تر نامه لاندې د سپما او پورونو۵۰۵ صندوقه رامنځته شوې دي. دا ټولنې د حسابونو دقیق او تازه ارقام او شه مدیریتي جوړښتونه او امکانات لري. په منځنۍ کچه د سپما هره ټولنه د پور ورکړې لپاره ۵۷۸۰ ډالر پانګه لري، چې د نورو مالي مرستو په ورزیاتېدو یې اندازه لوړېږي. دغه ټولنې د خپلو هغو غړو، چې غواړي د خپلو تولیداتو کچه لوړه کړي او یا یه سوداګریزو فعالیتونو کې ونډه واخلي خو د سوداګریزو بانکونو او کوچنیو پور ورکوونکو نقدي پورونه نشي ترلاسه کولای، لاسرسی دې ډول مالي خدماتو ته برابروي.

د افغانستان د کلیوالې صنایعو د ودې اوپرمختیا پروګرام هم د خپلو تخنیکی مرستو په برابرولو سره ۱۳۳۸ متشبثینو کروپونو څخه (چې ۶۳ سلنه یی ښځې دي) او ۶۵۷ کوچني او منځنۍ متشبثین (چې د هغه ۱۵ سلنه میرمنې دي) چې د دوی د ورتیاوو په پام کې نیولو سره سم د کار لارو چارو او د عوایدو په را منځته کولو کې د عمده عواملو په توګه په کلیوالو سیمو کې ټاکل شوي دي د بازار د اړیکو او ارځښت د ځنځیر په پیاوړتیا کی د کلیوالو صنایعو له پاره فعالیت کوي.

دشپارلسو ولایتونو د حالت تحلیل او ارزیابي بشپړه شوی او ۱۰۵ نورو ولایتونو روانه ده. ۱۳۶ کوچیان او ۱۳۶ تنه معیوب وګړي د صنایعو د پرمختیا د مهارتونو د شه والي او د هغوی د تولیداتو د زیاتوالي له امله تر مرستې او د ملاتړ لاندې ونیول شول. نوموړې پروژې له سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو څخه ټولنې ته د داخلیدو د نقطې په توګه استفاده کړی او په اوس وخت کې په ۵ ولایتونو، لکه: پروان، ننګرهار ، بامیان ، بلخ اوهرات کې فعالیت لري.

د افغانستان د کلیوالی صنایعو د ودې پروګرام له لارې لازم چمتووالی د ((دښځو د اقتصادي ځواکمن کولو)) ترسرلیک لاندې د وروستۍ پروژې د تطبیق له پاره د ۱۵ ولایتونو په ۵۰ ولسوالیو کې ښځې د پاملرنې تر محراق لاندې نیولو په منظور اړوندې پالیسۍ او پلانونه تر لاس لاندې نیولې شوې دي. په دغو اقداماتو کې تطبیقي ستراتیژۍ، د تسهیل کوونکو همکارانو سره د مشارکت موډلونه د ولسي ټرون د پروګرام سره په نږدې همغږۍ کې، دسوداګرۍ د پراختیا د خدمتونو وړاندې کول، د بشري منابعو ستراتیژۍ، رسمي مالي سرچینو ته ارتباطي موډلونه، د افغانستان شموله پروګرامونه د طرحې او عملي کولو پرجوړښت له سره نوې کتنه، د سیمه ییزو بنسټونو د پرمختیا ستراتیژي، د ۶-۸ ارزښي زنځیرو تحلیل او تجزیه (پرښځو متمرکزه) او د بازار موندنې او تخنیکي حمایوي پلانونه شامل دي.

له هر څه ډیره مهمه د افغانستان د کلیوالي صنایعو د ودې پرګرام، ولسوالۍ او احتمالي ولایتونه دښځو داقتصادي توانمندۍ او ځواکمنۍ پروژه د کلیو د پرمختیا په پروژه کې په اتو مؤلفو، لکه: دفقر او غربت اندازه، د ډیرو غربیو او بیوزلو وګړو شاملول، د ولسي ټرون پروګرام حضور، مالي سرچینو او خدمتونو ته لاس رسیو د بنوالی (باغدارۍ) او مالدارۍ ملي پروژه، امنیت او لاس رسي انتخاب کړي دی. دغه کړنه مداخلوي ستراتیژي نوره هم ډیره عام شموله کوي او دفقر او غربت د له منځه وړلو له پاره بیلابیل ټمویلونکو د نږدیوالي احتمال له موجود پروګرامونو سره زیاتوي.

د افغانستان ولسي ټرون پروګرام

د نړیوال بانک ۲۲۷.۷ میلیونه ډالره ورپا مرسته

د افغانستان د بیارغونې د صندوق ۴۴۴.۳ میلیونه ډالره ورپا مرسته (د نړیوال بانک د ۱۲۷.۷ میلیونه ډالره پیاوړی کوونکي ورپا مرسته او د افغانستان د بیاغونې د صندوق ۴۴.۳ میلیونه ډالره ورپا مرستې په ګډون، چې د سیمه ییزو بې ځایه شویو له پاره یې د بیرنۍ ځواب ویلو په منظور د ولسي ټرون پروګرام له پاره ورکړې دي.

۱۲۸ میلیونه ډالر دافغانستان د دولت له سرچینو څخه

د ولسي ټرون پروګرام د ملي پیوستون د ډیر بریالي پروګرام ځای ناستی دی، چې په تیرو ۱۴ کلونو کې یې دزیربناوو ټولنمحوره پرمختیا او د خدمتونو وړاندې کول کلیو او باندو ته معرفي کړل او د هغو ټلنه یې ۳۵۰۰۰ کلیو ته

دسپما او پس انداز او کلیوالي پور له اتحادیې څخه د پورونو په ترلاسه کولو دیر استفاده کوونکی، لکه دا کنډونکی (خیاط) په دې توانیدلی دی، چې له خپلې کورنۍ سره په مالي لحاظ مرسته او ملاتړ وکړي. " له دې پور څخه پرته هیڅ وخت دا ممکنه نه وه چې یو کوچنی تشبث ولرم" دا مطلب هغې میرمني بیان کړ، چې یوه غوا او یو ماشین یې د پور له لارې اخیستې او د خپلې کورنۍ پوازینۍ دودۍ راوروونکې ده، هغه د افغانستان د کلیوالي صنایعود ودې پروګرام د مرستې او ملاتړ په نتیجه کې وکړای شول، چې له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي او خپل ماشومان ښوونځي ته ولیږي.

خوره او پراخه کړه. داسې هیله کیږي، چې دغه پروګرام په راتلونکو ځلورو کلونو کې تطبیق او په عمل کې پلی شي.

دغه پروژه د افغانستان د دولت د ولسي ټرون د لس کلن پروګرام د لومړۍ پراو مرسته او ملاتړ کوي، چې دا لومړنی پراو به یې د هیواد یو پر دریمه برخه تر خپل پوښښ لاندې راولي.

د ولسي ټرون د پروګرام موخه او هدف ګډون کوونکو سیمو او ځایونو ته دسیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو د پیاوړتیا له لارې د اساسي زیربنایي خدمتونو او عامه خدمتونو د وړاندې کولو شه والی دی. په دغو خدمتونو کې لړ تر لړه هغه معیاري خدمتونه شامل دي، چې د افغانستان دولت یې دهیواد اتباعو ته په وړاندې کولو مکلف دی.

د ولسي ټرون پروګرام یو بین الوزارتي پروګرام دی ، چې د اساسي خدمتونو د بستې د وړاندې کولو له پاره رامینځته شوی او په ځلورو برخو کې تنظیم شوی دی:

لومړۍ برخه: د معیاري خدمتونو ورپا مرسته، دغه برخه د سیمې او محل پرمختیایي شوراګانو ته دوه ډوله ورپا مرستې برابروي:

(الف) کلیوالی معیاري خدمتونو ورپا مرستې ، د کلیو د پرمختیا او بیارغونې وزارت د دغو ورپا مرستو د هر اړخیز تطبیق مسوولیت په غاړه لري. دغه فرعي جز لړ تر لړه معیاري زیربنایي خدمتونه تر خپل پوښښ لاندې کلیو ته وړاندې کوي. د هرې ټولنې له پاره تخصیص به د لومړنیو اړتیاوو د ارزیابۍ په اساس د لړ تر لړه اړتیاوو په وړاندې دخدمتونو د معیارونو پربنسټ وټاکل شي. په پانګه اچونو کې به د اوبو رسول او د یوې پروژې انتخاب له هغې جملې څخه لومړنیو سرکونو ته دلاس رسۍ، بریښنا او یا د اوبو لګولو کوچنۍ پروژې شاملې دي.

(ب) په شاري ساحو کې نغدي ورپا مرستې. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره ، د ولسي ټرون تطبیقوونکی برخه. دغه ارګان په کوچنیو زیربنایي پروژو کې د ورپا

مرستو د هر اړخیز تطبیق دنده او مسوولیت پرغاړه لري، چې د ۶۰۰محلي شاري شوراګانو او ۱۲۰ د ګذر شوراګانو له لارې په ځلورو ستر ښارونو (هرات، مزارشریف، کندهار او جلال آباد) کې تطبیقیږي. د غوراوي او انتخاب په لیک لړ کې د سړکونو، پارکونو، پلیو لارو د څراغونو د نصبولو ، دځښلو داوبو برابرولو ، د جامدو کثافاتو مدیریت ترتیبات او د ښخو اقتصادي فعالیتونو ښه والی شامل دی. دغه فرعي جز د خدمتونو وړاندې کول او دسیمه ییزو (محلي) پرمختیایي شوراګانو کلستر/ ګذر ، دښارونو د ناحیې او ښاروالی تر مینځ د اړیکو رامینځته کول تر خپل پوښښ لاندې راولي.

۲ برخه: د بنسټونو تاسیس او د رامینځته کیدل، دغه برخه د ظرفیت د لوړولو فعالیتونه ، تخنیکي مرستې او د ټولنیزو خدمتونو اسانتیاوې ترخپل پوښښ لاندې راولي. د کلیو د رغوني او پراختیا وزارت په کلیو او باندو کې له ۱۴ تسهیل کوونکو بنسټونو سره یو ځای، چې ولایتي او د ولسوالیو کارکوونکو ته د ځارنې د پروژې د پرمختیا راپور ورکولو، ټولنیزو کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د زده کړو او په ۳۴ ولایتونو کې دانجینري او تخنیکي مرستو د برابولو مسوولیت په غاړه لري، کارکوي.

په ښاري ساحو کې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د ملګرو ملتونو دهبیتات له پروګرام سره ، چې د ځارونکی مشاور او سلاکار په توګه او همدارنګه د ځلور محلي تسهیل کوونکو بنسټونو سره د ظرفیت د لوړولو د ځارنې او د پروژې د پرمختیا د راپور ورکولو په برخه کې د ښاروالی د کار کوونکو د زده کړې په برخه کې کارکوي.

۳ برخه: ځارنه او د پوهې زده کړه. په دغه برخه کې قوي ځارنه او دزده کړې فعالیتونه دکلیو له سطحې ځخه ترملي سطحې پورې، دسیمو اومحلونو یا ټولنو ترمینځ لیدنې کتنې، په ځانګړې توګه د ښځو له پاره، موضوعي مطالعات او ارزیابۍ شاملې دي. دغه برخه د ځارنې او د کډې ارزیابۍ د اسبابونو یا ابزارو یو طیف لري، د هر اتباع او وګړی دامتیازي کارتونو د رامینځته کولو په شمول، چې باید د محلي یا سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو او ټولنیزو تنظیمووونکو په واسطه د حد اقل خدمتونو د معیارونو د راپور ورکولو له له پاره باید تکمیل شي.

۴ برخه : (نوې برخه او د پیاوړی کوونکو بودجې ترتامین لاندې): د پروژې تطبیق او مدیریت دغه جز د پروژې مدیریت او ځارنه په ملي، ولایتي او ولسوالیو په سطحو په کلیوالو ساحو او د زونونو په ځلورو مرکزي ښارونو کې د ښاري مدیریتونو په واحدونو کې ترخپل پوښښ لاندې راولي، چې پکې خینې برخې، لکه: د پالیسۍ او علمیاتي پلان جوړونې، د ظرفیت د لوړولو، د معلوماتي مدیریتونو سیستمونه، شکایتونو ته د رسیدنې میکانیزمونه، د بشري منابعو مدیریت، ارتباطات، له ساحې سره د ټمویلوونکی همغږي اوهماهنګي، د ملي سرچینو (منابعو) او تدارکاتي فعالیتونو مدیریت او د امنیتي چارو ځارنې برخې شاملې دي.

په پام کې دي چې تر یو میلیون پورې افغان وګړي د افغانستان د ولسي ټرون له پروګرام ځخه ګټه واخلي. په دغه مرسته کې د روغتیا، پوهنې، کلیوالي سړکونو او بریښنا رسولو د باکیفیته خدمتونو د وړاندې کولو ښه والی شامل دی.

د ولسي ټرون د لومړي پراو له تطبیق ځخه ټه کیږي، چې لاندې پایلې ترلاسه شي:

- د ولسي ټرون د لومړي پراو د تطبیق په ترڅ کې د ۱۰ میلیون تنو وګړو له دې خدمتونو ځخه برخمن کیدل
- صحي اوبو ته د هیواد ۳.۴ میلیون وګړوته لاس رسۍ
- د روغتیا، معارف ، سړکونو او بریښنا انرژی په برخه کې ښه والی
- په دولت باندې د خلکو رضایت او اعتبار زیاتیدل
- په زیربنایي پرژو کې له پانګه اچونې ځخه، د ۳۵ سلنه ګټې ترلاسه کول

۵ برخه (نوې برخه او د پیاوړی کوونکي بودجې تر تامین لاندې): د ټولنیز مشارکت اوګډون له پاره وړیا مرستې، د جوړولو له پاره ساتنه او ځارنه، دغه جز د ټول ګټو او عام المنفعه او د انساني ځواک په واسطه تطبیق کیدونکو پروژو له لارې د لنډ مهاله او عاجلو بیرنیو کاري فرصتونو برابرونکی دی.

همدارنګه له ډله ییزو فعالیتونو ځخه مرسته او ملاتړ، د عامه ګټو له چوکاټ ځخه د باندې، چې موخه او هدف یې د زیات ټولنیز ګډون او مشارکت رامینځته کیدل او له ډیرو بیوزلو، غریبو او زیانمن شویو وګړو سره مرسته په دې برخه کې شامله ده.

دوه فرعي برخې:

(۱) د ټولنیز مشارکت او ګډون وړیا مرستې او په تطابقي بنه ډله ییز فعالیتونه د ۲۰۰۰ ډالرو په ارزښت د هر محل یا اجتماع له پاره د انګیزې ورکولو او ټولنیزو د خیر شیکنې فعالیتونو د هڅونې له پاره تخصیص ورکول کیږي. دتطابقی وړیا مرستو او ټولنیزو مرستو یو ځای کول، په لومړیو کې په کلیو او یا پام وړ ټولنو کې د ډیرو غریبو او بیوزلو وګړو له پاره د غذایي موادو/ غنمو یو بانک رامینځته کول به تر استفادې لاندې ونیول شي. داسې هیله او توقع کیږي، د بې وزلو ا وغریبو وګړو له پاره د خوړو (غذاوو) دویش او لګښت ځخه وروسته دغه غذایي بانک باید په دوراني بنه دټولنیزو مرستو په واسطه دوه ځله ډک شي.

(۲) د ساختمان او جوړښت د ځارنې او ساتنې په خاطر وړیا نغدي مرستې: د ډیرو غریبو او زیانمن شویو کورنیو او د سیمې او محل کارکوونکو کورنیو له پاره د کار په مقابل کې په نغدي بنه اجوره ورکول، په کلیو کې د عام المنفعه پروژو د جوړولو چارو د ساتنې او ځارنې په منظور په بیرنۍ او عاجله توګه ورکول کیږي. دغه کارګره طبقه او زیانمن شوې کورنۍ، چې د ټولنیزې پرمختیا دیوې طریقې او روش په اساس یې پیژندنه او مدیریت کیږي، له دغو نغدي وړیا مرستو ځخه ګټه اخلي. د پیسو په مقابل کې کار برخه کې به ترمیمونه، بیارغونې، پاک کارۍ، توسعه او ودانیز (ساختماني) کارونه شامل وی. د خدمتونوپه مقابل کې نغدي وړیا مرستې به دیرو غریبو او بیوزلو کورنیو ته، چې نشې کولې په عامه کارونو کې ونډه واخلي، تر خپل پوښښ لاندې راولي.

د لومړي کال په فعالیتونو کې دا لاندې موارد شاملیږي

په کلیوالي سیموکې: له ۲۲۰۰ ځایونو او محلونو ګلي طرحې بشپړې شوي او له ۱۷۰۰ ځخه زیاتې د سیمو پرمختیایي شوراګانی انتخاب اوله ۱۴۰۰ ځخه زیات محلي او سیمه ییز پرمختیایي پلانونه بشپړ شوی او له ۵۰۰ ځخه د زیاتو فرعي پروژو وړاندیزونه چمتو شوي دي.

په ښاري ساحو کې: له ۲۵۰ ځخه زیاتو ځایونو کې تطبیق شوي دي (د ۲۳۵ځایونو ګلي طرحې بشپړې، ۱۲۸ سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې نوې انتخاب شوي، ۹۳ سیمه ییز پرمختیایي پلانونه بشپړ او ۲۳ فرعي پروژو وړاندیزونه چمتو شوي دي.

په مجموع کې د مخه دسیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو ۹۰ سلنه غړیتوب، د ملي پیوستون د پروګرام تر پوښښ لاندې ساحو کې د نویو غړیو په ګډون (دمثال په توګه: هغوی چې هیڅ وخت کې په سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو کې فعالیت نه درلود) او نیمایي ته نږدې (په مجموع کې ۴۷سلنه او ۴۸ سلنه د دفتر کارکوونکی) ښځې تشکیلولي. دغه نښې نښانې ځرګندوي، چې د ټاکنو نوی سیستم او د سیمه ییزوپرمختیایي شوراګانو اداري نورمونه ډیرې قوي اغیزې لري.

د هندوکش د غرونو د لړۍ د مواصلاتي سړکونو پروژه

د نړیوال بانک۲۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دې پروژې موخه او هدف د هندوکش د غرونو په لړۍ کې د ترانسپورتي ارتباطاتو د ښه والي په برخه کې په ګډون سره د دولت له هڅو او هلوځلو ځخه ملاتړ دی. دغه پروژه دغرنیو سیمو په تګلوري یې دباور وړ دتیریدو راتیریدو بهیر ته پراختیا ورکوي. او د کال په ټولو فصلونو او موسمونو کې به دهندوکش دغرونو له لړۍ ځخه دمسافرینو او مالونو دتګ راتګ او وړلو راوړلو له پاره فرصتونه برابر کړي.

په اوس وخت کې یوازې دوه سړکونه دهندوکش دغرونو دلړۍ له لوړو برخو ځخه تیریږي ، چې یو له هغو ځخه دسالنګ لویه لاره ده. دغه سړک دهندوکش دتګلوري دترافیکي ګنډې ګونې دلوی بار زغمل په غاړه لري او بل تګلوری یو خام دویم درجه سړک دی، چې له بغلان او بامیان ځخه تیریږي . دغه پروژه دفواید عامې له وزارت سره مرسته کوي ، چې دبغلان - بامیان سړک، چې ۱۵۲کیلو متره اوږدوالی لري، قیر کړي او همدارنګه دسالنګ لاره او تونل دواړه د (۸۷) کیلو مترو په اوږدوالي سره بیاوغوي.

تردې پروژې لاندې مقدماتي فعالیتونه پیل شوي دي. دځمکې داستملاک کولو له پاره کار، دساختماني طرحو کتنه او ځیرنه، تدارکاتو پروسه او د دفتر رامینځ ته کول پیل شوي دي. تر اوسه پورې د بغلان ځخه تربامیان پورې دوو سړکونو جوړولو له پاره دځمکې استملاک بشپړ شوی او په پام کې دي چې ددې سړک او لویې لارې دځلورو نورو برخو له پاره ځریداري پروسه ژر وروستي پراو ته ورسیږي.

له تطبیقووونکي سلاکار (مشاور) سره قرار داد لاسلیک او د پروژې د تطبیق له پاره د فوایدعامې وزارت سره د مرستې په منظور تخنیکي ټیم ساحې ته لیږل شوی دی.

د بغلان-بامیان سړک د ټولو برخو طرحې کتنه د ۲۰۱۸میلادي د مارچ په میاشت کې بشپړه شوه. له بغلان ځخه تر بامیان پورې د ۱ او ۲ برخې تدارکاتي پروسه بشپړه شوې او همدا اوس قرار داد یان په ساحه کې ځای پرځای شوي دي او عملي کار به د هوا په ښه کیدو سره پیل شي. د پاتې برخو تدارکاتي پروسه به د ۲۰۱۸م کال په جریان کې بشپړه شي.

له تدارک سربیره د سالنګ دلویې لارې د بیارغونې د کار د طرحې په خاطر د یو مشاور د استخدام کار بشپر شوی، او داسې هیله کیږي، چې نوموړی قرارداد د واطلبی ته وړاندې او ژر نهایي شي.

/ دټولنیز خوندیتوب شبکه

د افغانستان د ټولنیز خوندیتوب شبکې او د تقاعد د ملاتړ پروژه

د نړیوال بانک ۲۰ میلیونه ډالره ورپا مرسته

دغه پروژه د ۲۰۱۷ میلادي کال د ډسمبر په ۳۱نیټه بشپړه شوه

د دې پروژې په موخه او هدفونو کې دغه مسایل شامل دي: (الف) د کارکوونکو د تقاعد سیستم د اداري ظرفیت سمه والی او (ب) د ټولنیز مصؤنیت د شبکو د رامینځته کولو له پاره د اغیزناکو لارو چارو د موندنې په منظور د مناسبې پالیسۍ دچوکاټ پرمختیا، په ځانګړې توګه په پیژندل شویو ولسوالیو کې د نغدي مرستو د برابرولو له لارې اړمنو وګړو ته پراغیزناکو پروګرامونو باندې ډیره پاملرنه لرل.

د متقاعدینو د سیستم د اصلاح او سمون برخه: د متقاعدینو د حقوقو د ورکړې د یو اصلاح شوي سیستم کلیدي عناصر، د تقاعد د خزینې د بشري منابعو د اداري جوړښت، بیا کتنې په ګډون د معلوماتي مدیریت نوی سیستم (MIS)، دکاري پروسو بسته، دعاید او لګښت له پاره د پیش بینۍ موډلونه یا نمونې او د تقاعد د محاسبې د سیستم نوی چارټ ترا جراء لاندې نیول شوی دی.

تقریباً د ۱۱۸۰۰۰تنو متقاعدینو د معلوماتو د مدیریت په نوي سیستم کې نوم لیکنه شوې ده، چې دهغو حقوق د بانکی حسابونو له لارې ورکول کیږي. د کابل په ښار کې د تقاعد په مرکزي اداره کې د بایومتریک تائیدي او تشخیصه سیستم نصب او فعال دی، چې دهغې مطابق شاوخوا ۸۷۵۰۰ تنه متقاعدین د بایومتریک په بڼه ثبت او تصدیق شوي دي.

د معلوماتو د مدیریت دغه سیستم د بلخ، ننګرهار او کندهار په ولایتونو کې هم د متقاعدینوپه ولایتي دفترونو کې همدا اوس عملي کیږي.

د شهیدانو او معلولینو فرعي برخه: دې پروژې د معلوماتو د مدیریت سیستم رامینځته کول او بریالی نصبول د شهیدانو او معلولینو د حقوقو له مډرن کولو څخه د ملاتړ او مرستې په منظور پای ته ورساوه. په کابل کې د مرکزي دفتر د ودانۍ بیارغونه اوفرش کول هم بشپړ شوې ده. د معلوماتو د مدیریت سیستم د ۲۰۱۸میلادي کال د مارچ په میاشت کې دکابل بایو متریک تصدیق په تسهیل سره خپل فعالیت پیل کړ.

د ټولنیز مصؤنیت د شبکې برخه: د دې برخې هدف او موخه د مستحقینو له پاره د یو خدماتي او مرستې رسولو د سیستم پراخول دي، چې یوه مهمه برخه یې دهغو غریبو او بیوزلو کورنیو له پاره په امتحاني ډول د نغدي مرستو ویشل دي، چې ماشومان یې له پنځو کلونو څخه راښکته عمر لري، په پنځو ولسوالیو (خاص کونر، نورګل، دولت یار، یکاولنګ اوخمکنی) کې د ژمې او پسرلي د فصلونو په لومړیو کې دغذایي مصؤنیت د نشتوالي له امله ستونزې زیاتیږي.

دغې پروژې د ډیرو غوره نړیوالو روشونو او لارو چارو سره په مطابقت او سمون کې کورنیو د اړتیاوو پیژندنې او معلومولو له پاره یو لړ عملیاتي لارښودونه رامینځته کړي دي، چې هغه دا دي: د کورنیو د فقر او غربت د حالت پورې اړوندو معلوماتو د څرنګوالي میکانیزم، دعیني اوشفافو معیارونو له مخې د هغوی تشخیص او پیژندنه، د کورنیو د ټولنیز او اقتصادي حالت څرنګوالي له معاصرې ټکنالوژۍ څخه په استفاده ورکړې (پرداختونه) او د تصادفي روش له مخې داغیزکولو ارزیابي.

په وروستي پراو کې یوه نوی هدفمنه میتودولوژي په پنځو ولسوالیو کې دغربیو او بیوزلو کورنیو د نوم لیکنې او ثبت په منظور تطبیق شوې، چې په نتیجه کې اړمنو او مستحقو وګړو او کورنیو ته، چې د نغدي د مرستې د ورکړې شرایط یې پوره کړي، نغدي مرستې ورکړه، د موبایل او سوداګریزو بانکونو له لارې ویشل شوې ده.

په مجموع کې ۳۳۵۰۰ بیوزلي او غریبې کورنۍ معلومې او پیژندل شوي او بیا یې نغدي مرستو څخه ګټه اخیستې ده.

/ شاري پراختیا

دافغانستان دنویو بازارونو دپراختیا پروژه

د نړیوال بانک ۲۲ میلیونه ډالره ورپا مرسته

دغه پروژه د ۲۰۱۷میلادي کال دنوامبر په میاشت کې بشپړه شوه

د دې پروژې موخه په څلورو لویو ښارونو: کابل، مزارشریف، جلال آباد او هرات کې، چې د اقتصادي فعالیتونو ستر مرکزونه دي، د یو سوداګریز امتحاني پروګرام رامینځته کول وو، دې پروګرام له شرکتونو سره مرسته وکړه، چې د بازار موندنې یا مارکیټینګ په برخه کې لازم معلومات او اطلاعات ترلاسه کړي، د محصول کیفیت لوړ کړي، دتولید ظرفیتونه ډیرکړي، نوي ټکنالوژۍ زده کړي او خپل سوداګریز پلانونه په کورنیو مارکیټونو او صادراتي پرمختیا کې د خپل حضور د زیاتوالي په منظور تطبیق کړي.

په مشخص ډول د دې پروژې له لارې ۳۷۲ کوچني او منځنی متشبثین او ۵۳ سوداګریز انجمنونه د لګښتونو له تشریک څخه په استفاده سوداګریزو پرمختیایي خدمتونو ته دهغوی لاس رسي تامین او ترخپل پوښښ لاندې یې راولي. دغه پروژه د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت له خوا تطبیق شوې دی.

د نوي مارکیټ د پرمختیا اسانتیا او تسهیل د دې پروژې په مرسته او ملاتړ د ۲۰۱۳ میلادي کال د مارچ په میاشت کې رامینځته شو. دې مرکز د څلورو لویو ښارونو: کابل، مزار شریف ، جلال آباد ا هرات څخه ټول ۱۰۵۰ غوښتلیکونه ترلاسه کړي، چې دهغو له جملې څخه ۳۷۲ شرکتونو (د ۳۷۵ ټاکل شوي هدف په مقابل کې) او۵۳ سوداګریزو انجمنونو (د۳۰ ټاکل شوي هدف په مقابل) ته لازمې مرستې برابرې کړي دي.

د تقاعد د سیستم د اداری پروژې او د افغانستان د ټولنیز مصؤنیت د شبکې د رامینځته کولو له لارې ۸۷۵۰۰ تنه متقاعدین د کابل د تقاعد په اداره کې د بایومتریک د نوې سیستم څخه په استفاده ثبت، تائید او پیژندل شوي دي.

د دې پروګرام له موخې او هدف څخه زیات، چې د ۱۵۰۰ کارکسبونو او شغلونو رامینځته کیدل وو، د ۱۵۱۶ په شمیر د کار کسب او شغل فرصتونه د دې پروژې له خوا رامینځته شوي دي، په داسې حال کې، چې د ښځو ونډه په سلو کې ۵ ټاکل شوی وه، له نیکه مرغه، چې دغه شمیر په سلوکې ۳۰،۶ زیاتوالی وموند.

د مارکیټ او محصولاتو تنوع له پاره په سلو کې ۲۰ټاکل شوی هدف هم د ۲۱ تولید په زیاتوالي سره سمه والی موندلی او په ۱۲ هیوادونو کې یې ۴۴ نړیوالو مارکیټونو ته لاره پیدا کړه.

د شاري پراختیا د ملاتړ پروژه

د نړیوال بانک د ۲۰ میلیونه ډالرو ورپا مرسته

دا پروژه د شاري پراختیا او کور جوړونې له وزارت سره د هېواد په کچه په اړوند ادارو کې د ښار جوړونې د پالیسیو د ظرفیت لوړونې او د پالیسۍ د یوه چوکاټ جوړولو لپاره او همدارنګه د شاري پلان جوړونې تنظیم، په پنځو ولایتي سترو ښارونو کې د خدمتونو وړاندې کولو ظرفیت او مدیریت سره مرسته کوي. دا پنځه ښارونه د هرات، جلال آباد، خوست، کندهار او مزار شریف ښارونه دي.

په دې پروژه کې لاندې برخې شته:

لومړۍ برخه: شاري معلومات: د ښاري معلوماتو د مدیریت د سیستم جوړول. د احصائیوي ارقامو، نقشو او جغرافیایي معلوماتو د سیستم (جي آی ایس) لپاره د ډیټابیس او ځانګړې ویب سایټ جوړولو په موخه د تخنیکي مرستو برابرول او د ارقامو را ټولولو، ځو د ښاري پلان پراوونه او د هغه د پایلو ارزول په غوره توګه ترسره شي.

دویمه برخه: شاري اداري: د ادارو او ورتیاوو پراختیا. د شاري پراختیا او کور جوړونې په وزارت او پنځو سترو ښارونو په مرکزونو کې د پلان جوړونې د بهیر اړوند د دندو او مسوولیتونو، تګلارو او ورتیاوو د څرنګوالي ارزونه، د قوانینو، مقرراتو، پروګرامونو او کارکوونکو په برخه کې د ستونزو او کمزورتیاوو ته په پام د عملیاتي پلان جوړول. د پالیسۍ مهمو برخو په اړه، چې په کې پلان جوړونه، له ځمکې څخه د ګټې اخیستلو مدیریت، په مناسبو بیو د اوسیدلو د ځای برابرول، شاري بیارغونه او شاري مالي چارې؛ شاملې دي، د تشخیص او په دې اړه د سپارښتنو لپاره د څلورو " کاري کمیټو" لپاره د مرستو برابرول.

دریمه برخه: شاري یوځای کېدل: د ښار او ولایتونو په کچه د شاري پلان جوړونې پیاوړتیا. د پنځو سترو ښارونو مرکزونو لپاره د ستراتیژیک پراختیایي پلانونو د پشړولو په موخه مالي ملاتړ، چې پر بنسټ به یې منځ مهاله پراختیایي پلانونه له نورو ټولو اړوندو ادارو او کاري شریکانو سره په همغږۍ جوړ او بشپړ شي. شاري ستراتیژیک پراختیایي پلانونه د ۱ برخې د ارقامو او شمېرو څخه په ګټې اخیستنې، جوړ او رامنځته کیږي، له دې وروسته مهمې ستونزې او پراختیایي موخې مشخص کیږي او د هغه پر بنسټ د پانکونې فعالیتونه او پلانونه جوړ او پلي کیږي. په پام کې ده، څو د پلان جوړونې د فرهنګ رامنځته کولو په موخه د شاري پلان د برخې زده کړیالانو لپاره یو شوونیز نصاب جوړ شي.

څلورمه برخه: شاري پانګونه: د شاري بنسټونو د جوړولو او ډیزاین کولو لپاره د امکان شتون په موخه د ځیرنې ترسره کول. د پنځو سترو ښارونو د مرکزونو لپاره د شاري ستراتیژیک پراختیایي پلان پر بنسټ، چې لومړیتوب لرونکي پروژو (حساب شوي او د پلي کېدو وړ پروژو) او له د وړاندې مشخص شوې پروژې (د ښار ستراتیژیک پراختیایي پلان او د لیږد وړ اقتصادي پروژو لاندې مشخص شوې وي) پلي کېدلو امکان په کې وي، د څو کلن پانګوني پلانونو جوړول. د پانکوني پلانونه همدارنګه د پلان شویو شاري پروژو د پراختیا په موخه د خصوصي بانکونو د ملاتړ جذبولو لپاره هم ترسره کیږي، په راتلونکي کې د دې سکتور د پراختیا ځرنګوالي پر بنسټ؛ د ښار جوړونې له پروژو څخه مالي ملاتړ ترسره کیږي.

د نړیوالې مالي اداري پانګونې او مشورتي خدمتونه

دنړیوالې مالي اداري مهم او کلیدي فعالیتونه زیاتره دمشورې ورکولو له لارې دپانګه اچونې دفضاء په شته والي او په ظرفیت جوړولو باندې متمرکز دي او له هغو ټاکلو پانګه اچونو سره مرسته کوي،چې دپرمختیایي اغیزې کولو او کارکسب پیدا کولو لوړه کچه ولري دنړیوالې مالي اداري اوسنۍ ستراتیژي دافغانستان له پاره دنړیوال بانک ګروپ دکډون چوکاټ له ستراتیژی (۲۰۲۰-۲۰۱۷) سره په سمون کې ده.

د پانګې اچونې کړکۍ

نړیواله مالي اداره په افغانستان کې دمالي مارکیټ، خدماتو، مخابراتو، کرنیزو محصولاتو او زیر بناوو باندې په تمرکز سره د پانګه اچونې دیو لړ خدمتونو برابرونکې ده. د نړیوالې مالي اداري دپانګې اچونې د کړکۍ مجموعي ژمنه او تعهد د ۲۰۱۷مالي کال په پای کې ۲میلیونه ډالرو او دهغې د مشاورتي خدمتونو د کړکۍ تعهد ۸،۸ میلیونه ډالرو ته رسیږي.

د نړیوالې مالي اداري پانګې اچونې، مالي سرچینو ته دلاس رسۍ بهیر ته، په ځانګړې ټوګه د کوچنیو پورونو په سکتور او مخابراتو کې بدلون ورکړی دی. دغه اداره خپلو هلو ځلو ته د پانګه اچونې نویو پورونو ترلاسه کولو، له اقتصادي اړوندو ادارو سره کډې هڅې او مرستې په افغانستان کې له خصوصي سکتور څخه دملاتړ په منظور ، په ځانګړی توګه د زیر بناوو، مالي چارو، تولیدي چارو، دکرنیزو محصولاتو سوداګري او خدمتونو په برخو کې دوام ورکوي.

په اوس وخت کې د نړیوالې مالي اداري د پانګې اچونې کړکۍ د مخابراتو او د مالي چارو مارکیټونو په سکتور کې له پانګه اچونو څخه برخمنه ده، د پانګې اچونې لړۍ هیله من کوونکې ده، چې پکې دبریښنا او کرنیزو محصولاتو د سوداګرۍ په سکتور کې پانګه اچونه شامله ده.

مالي خدمتونه ته لاس رسي

نړیواله مالي اداره د نړیوال بانک اروند د مالي سکتور د پیاوړتیا د برنامې په مرسته، د افغانستان بانک سره مرسته کوي، څو پر منقول اموالو د رهنې حقوقو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم لپاره لومړنی ګرځنده بریښنایي سیستم جوړ کړي.

همدارنګه، نړیواله مالي اداره له افغانستان بانک سره مرسته کړي، څو د اجارې خدمتونو اړوند چارو لپاره قانوني چوکاټ جوړ کړي. اوسمهال دا اداره هڅه کوي، څو په افغانستان بانک کې د مشرۍ یا مدیریتي رول رامنځته کړي، څو دا بانک وکولای شي، چې د اجاره ورکونکو شرکتونو د جوازونو او څارنیزې چارې مدیریت کړي او په پایله کې په افغانستان کې د اجاره سکتور پرمختګ وکړي. دغه پروګرام هم د پوهاوي او خبراوي د پروګرام پرتطبیق او ذیدخلو شریکانو (دولت او خصوصي سکتور) دپوهنې او خبرتیا د سطحې د لوړولو او ظرفیت جوړونې د اجاره اخیستنې د شیکنو او ګټو، او په نتیجه کې د ډیرو کوچنیو، کوچنیو او متوسطو تشبثاتو مالي چارو ته دلاس رسی ښه والی پکې شامل دی.

د افغانستان دممیزو د زنځیري وړاندې کولو پراختیا

د دې پروژې موخه او هدف د افغانستان د ممیزو د وړاندې کولو د زنځیرې پراختیا او د پروسس تطبیق او د غذایي مصونیت دسیستمونو مدیریت، د مالي چارو مدیریت په برخو کې د ظرفیت لوړولو په واسطه دعرضې د زنځیرې دپراختیا سبب کیږي او په هیواد کې د نورو صنایعو له پاره ښه بیلکه او مثال جوړوي.

د حکومتوالۍ د پیاوړتیا لپاره حقوقي چوکاټ

د حقوقي چوکاټ د پیاوړتیا پروژې هدف د افغانستان د بانکداري سکتور په بازار کې د نیمګړتیاوو او ناکامیو لپاره د حل د لارو چارو موندل، بلل کیږي. د هغه شمېر فعالیتونو او هڅو په ړنا کې چې پخوا په دغه سکتور کې ترسره شوي، د بانکداري سکتور په وړاندې ستونزې او د ناکامیو د لاملونه ټولګه پیژندل شوي دی، چې روښانه بېلابېل پې په انفرادي توګه په بانکونو او د دغه سکتور په حقوقي او څارنیز چوکاټ کې تر سترګې کیږي.

نړیواله مالي اداره د افغانستان له بانکونو سره د هغوی د تګلارو د ښه والي (په تصمیم نیونې کې ښه والی، د ګواښونو مدیریت، عملیاتي اغیزمنتیا، ګټه او ارزونه) او مالي سرچینو ته د لاسرسي زیاتوالی (د پانګې د بېې کموالی، د پور ورکونې د پروسې ښه والی او پانګوالو ته د لاسرسي زیاتوالی) په برخه کې د افغانستان له بانکونو سره د یو اندولیزه حقوقي چوکاټ د پراختیا له لارې مرسته کوي.

د افغانستان د روښانتیا پروګرام

د افغانستان روښانه کول د سوداګریزو بازارونو د بدلون د پروګرام په ځیر ده، چې موخه یې پاک او د کټې اخیستلو وړ انرژۍ ته د افغانستان د کلیو د لاسرسي زیاتوالی دی. دا پروژه نړیوال مالي اداري پر وړاندې "د نړیوال روښانتیا" پروګرام بنسټیزه برخه ګډل کیږي.

د یاد شوې برنامې موخه، د هیواد په لیري پرتو کلیو کې ځمریزې انرژۍ د تولید پرمختللو وسایلو او خدمتونو ته د ۲۵۰۰۰۰ افغانانو لاسرسی دی. د دې پروګرام د پام وړ اغیزې به د ځمریزې انرژۍ د با کیفیته تولید لپاره د تل پاتې سوداګریز بازار جوړولو لپاره د چټکو هڅو سره به روښانه شي. له بلې خوا، دا پروګرام له خصوصي سکتور سره په راکړه ورکړه کې مرسته کوي، څو بازار ته د مالونو راتک په وړاندې د خنډونو لیري کول، د بازار د اړتیاوو په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو، د سوداګریزو اړیکو په پراختیا او له پرمختللو تولیداتو څخه، چې په ځمریزې انرژۍ فعاله کیږي، د کارونې په اړه د ګټه اخیستونکو د پوهاوي کچه لوړه کړي.

د حکومتوالۍ مرکزي واحد

د حکومتوالۍ مرکزي واحد پروژه، په افغانستان کې د بانکداري سکتور په بازار کې د بنسټیزو ستونزو د حل په موخه رامنځته شوې ده. د بانکداري سکتور په بازارونو کې ګڼ شمیر ستونزې؛ په بیلابیلو کچو د لومړنیو فعالیتونو له لارې (په هر بانک کې په انفرادي ډول، د مقرراتو د تنظیم چوکاټ او د سکتور په کچه) پیژندل شوي دي.

نړیواله مالي اداره له بانکونو سره مرسته کوي، څو د خپلو بنسټونو فعالیتونو (د تصمیم نیونې د بهیر بدلون، د خطرونو مدیریت، د عملیاتي فعالیتونو اغیزمنتیا، ګټه او ارزښت ورکونه) ښه کړي او مالي امکاناتو ته د لاسرسي زمینه (د پانګې د لګښت کمول، د پور ورکولو د شرایطو آسانول او پانګوالو ته د لاسرسي پراختیا) زیاته کړي، څو په دې ډول د افغانستان په بانکونو کې د مرکزي حکومتوالۍ پلان شوي تکلارې پلي او وهڅول شي.

د پانګه اچونې شرایط

نړیواله مالي اداره د افغانستان د ساختمان جواز د صادرولو د اصلاح اوسمون پروژه او په ولایتونو کې د سوداګرۍ د سرته رسولو سروې بشپړه کړې ده. نومورې اداره په اوس وخت کې د سوداګرۍ اوصنایعو وزارت سره د سوداګریزو جوازنامو د صادرولو پروژې په دوهم پراو کې دی و مطلوب او برابر چاپیریال د رامینځته کولو او هڅولو په غرض، چې د خصوصي سکتور د ودې او پراختیا سبب کیږي، مرسته او ملاتړ کوي.

په پام کې دي، چې د پانګه اچولو د شرایطو تر پروګرام لاندې ډیره مطالعه په افغانستان کې د ښځو تشبثت حقوقي مانع او خنډونه، د سوداګرۍ آسانتیا او د صادراتو لوړول، د سوداګرۍ پیاوړتیا او د شاخص په اساس د اصلاحاتو په برخه کې مشاورې ترسره شي.

د سوداګریزو جوازنامو دصادرولو داصلاحاتو او سمون پروژې دوهم پراو

د سوداګریزو جوازنامو داصلاحاتو د پروژې دوهم پراو د هغې لومړی پراو دلاسته راغلو اصلاحاتو تداوم دی. د سوداګرۍ اوصنایعو په وزارت کې د سوداګریزو جوازنامو د ثبت د واحدی مرجع رامینځته کیدل، په مجموع کې د دې پراو موخه په هیواد کې د سوداګریز جواز د اخیستلو د لګښت او وخت کمښت او ولایتونو ته د سوداګریزې جوازنامې د صدور د اصلاحاتو او سمون د بهیر پراختیا ده.

د دې پروژې هدف د ساده روشونو د عملي کولو او د بنسټونو د ظرفیت لوړتیا له ملاتړ څخه لاس ته راتلای شي. دغه موخې او هدفونه عبارت دي له: (۱) د سوداګریزې جوازنامې د صدور د پراو ساده کول او د سودا ګریز جواز نوي کول (۲) د نوي جواز د اخیستلو د وخت کمښت او د موجود سوداګریزجواز نوي کول، او (۳) د سوداګریز جواز د صادریدلو داصلاحاتو او سمونونو خپریدل له کابل څخه د افغانستان د ولایتي سوداګریزو خونو ۲۱ دفترونو ته.

د دې پروژې اغیزې د خصوصي سکتور له پاره د پانګې او بودجې په چوکاټ کې کمښت دی، چې د پروژې له بشپړیدو څخه وروسته ترلاسه کیږي.

د افغانستان د سوداګریز چاپیریال د پیاوړي کولو پروژه

د افغانستان د سوداګریز چاپیریال د پیاوړي کولو پروژه د پانګې اچونې د شرایطو ترپروګرام لاندې طرحه او تدوین شوې ده، ترڅو په افغانستان کې د سوداګرۍ د اصلاحاتو بهیر ته چټکتیا ورکړي.

د دې پروژې تمرکز د سوداګرۍ د سرته رسولو په ساحو باندې دی، چې د پانګې اچونې د چاپیریال د ښه والی له پاره د ګډون له بالقوه توان څخه برخمن دی. دغه هدف د سوداګریزو بنسټونو د ظرفیت د لوړاوی د ادارو ترمینځ دهمغږۍ دښه والي، د خصوصي او دولتي سکتور د خبرو اترو او مذاکرو او د پانګې اچونې د ساتنې په منظور به د پانګه اچوونکو د شکایاتو له مدیریت څخه ترلاسه شي. دغه موخې او هدفونه دا لاندې دي:

(۱) دحقوقي چوکاټ ساده کول او د سوداګرۍ د سرته رسولو له پاره مقررات، لږ تر لږه په دوو ساحو کې د سوداګرۍ ترسره کول،(۲) د ادارو ترمینځ د همغږۍ د میکانیزمونو پیاوړی کول د پانګه اچونې د شرایطو په اصلاحاتو کې د عامه او خصوصي سکتور ترمینځ دویلو او اوریدلو د اغیزناک میکانیزم رامینځته کیدل؛ (۳) د پانګې اچونې دچاپیریال پانګه اچونکي ته ((ځواب ورکولو د سیستماتیک)) میکانیزم تطبیق او په عمل کې پلي کول.

دغه پروژه دوه برخې لري:

لومړی برخه: د سوداګرۍ د شرایطو د پیاوړي کولو ښه والی او د بنسټونو له رامینځ ته کیدو څخه ملاتړ.

دا برخه دري فرعي برخې لري:

۱.۱. د سوداګریز چاپیریال داصلاحاتو په پرمختیا او تطبیق کې د افغانستان د دولت مرسته او همکاري، په هغو ساحو کې د سواګرۍ د سرته رسولو پروژې په واسطه انتخاب او اندازه ګیري شوي دي.

۱.۲. د بنسټیزو میکانیزمونو رامینځته کیدل د پانګې اچونې د چاپیریال د اصلاحاتو له پروګرام څخه مرسته او ملاتړ.

۱.۳. د جنسیت له مخې په حقوقي او قانوني چوکاټ کې د هغو شمیر توپیرونو پیژندنه، چې ښځو ته د سوداګریزو فرصتونو لاس رسۍ محدود وي.

۲ برخه: دپانګې اچونې ساتنه او ترویج

جګړه ځپلې حالت لرونکو هیوادونو (لکه افغانستان) کې د نویو پانګه اچوونکو جلب ستونزمن کار دی، خو د هغو دموجودو پانګو اچونو مصؤنیت ضروري دی. په افغانستان کې د پانګه اچوونکو مصؤنیت د مصؤنیت دیوې ځرګندې او واضح ستراتیژۍ غوښتنه کوي او له پانګه اچوني څخه وروسته د پام وړ پانګه اچوونکو له پاره د ځارنو او ساتنو پروګرام د سیرم (SIRM) په واسطه بشپړ شوی دی.

سیرم دهغو شکایتونو د حل / موضوعاتو د پیژندنې له پاره، چې د دولت دکړنو له امله مینځته راځي، د خبراوي او پوهاوي د یو سملاسي او فوري میکانیزم په توګه عمل کوي. د سیرم (SIRM) تطبیق د یوې اداری یا بنسټ غوښتنه کوي، چې د هغو منازعو او شخرو د منځګړیتوب یا حل ظرفیت او وړتیا ولري، چې پانګه وال ورسره مخامخ دي.

د افغانستان دبنوالۍ د محصولاتو د صادراتو پیاوړتیا

نړیواله مالي اداره دافغانستان د بنوالۍ، محصولاتو د صادراتو د پرمختیا په لارو چارو کې د بزګرانو او کروندګر د حاصلاتو دښه والي او د کورنیو او بهرنیو بازارونو کې د فرصتونو د پراختیا او پرمختیا له پاره مرسته او ملاتړکول. د دې پروژې موخه او هدف د بنوالانو د اقتصاد او ژوند د سطحې ښه والی او د کرنیزو قراردادونو له لارې د میوو د پروسس له کمپنیو سره دهغوی وصل او د خپل مارکیټ د پراختیا په خاطر د پروسس کوونکو کمپنیو مرسته او ملاتړ دی.

د افغانستان د بیارغونې صندوق

د افغانستان د بیارغونې صندوق په ۲۰۰۲ میلادي کال ددې له پاره تاسیس شو،چې دافغانستان د دولت بودجې او دپانکه اچونې ملي پروژو ته یو همغږی کوونکی میکانیزم جوړ کړي. ددې صندوق دفعالیت دپیل له وخت څخه ۳۴ بنسټونو او مرسته کوونکو هیوادونو ۱۰،۳ میلیارده ډالر دافغانستان دبیارغونې له صندوق سره ژمنه کړې ده، چې په دې ترتیب دغه صندوق دافغانستان د دولت دعادي او پرمختیایي بودجې دیوې ستړې ټولیوونکې سرچینې په توګه ګڼل کیږي.

مدیریت

دافغانستان دبیارغونې صندوق په خپل چوکاټ کې درې کمیټې (رهبري کمیټه، مدیریتي کمیته او اداري کمیته) لري. همدارنګه داصندوق درې کاري ګروپونه لري. دې کاري چوکاټ صندوق ته دا توان او خواک ورکړی دی ، چې دشرایطو په بدلون سره پرمختیا یې لومړیتوبونه په نښه کول ټینګښت او اجماع رامینځته کړي. دافغانستان دبیارغونې صندوق دنړیوال بانک له خوا اداره کیږي. رهبري کمیټه، چې له نړیوال بانک، اسلامي پرمختیایي بانک،آسیایي پرمختیایی بانک، دملګرو ملتونو پرمختیایي سازمان او دمالیې وزارت څخه جوړه او تشکیل شوې ده، چې په دې منځ کې دافغانستان له پاره دملګرو ملتونو ځانګړی استازی دځارونکي او ناظرپه توګه شتون لري. دمدیرانو کمیټه په منظمه توګه په کابل کې لیدنې او کتنې کوي چې دافغانستان دپیا رغونې دصندوق مالي مسایل وڅیړي او د پروپوزلونو مالي ټمویل تائید کړي. دافغانستان دبیارغونې دصندوق دستراتیژی ګروپ له ټمویل کوونکو او مالیې وزارت څخه تشکیل شوی دی، چې دمیاشتې یو ځل په خپلو منځوکې لیدنې کتنې کوي، څو دافغانستان دبیارغونې دصندوق کرنې ترغږ او کتنې لاندې ونیسي او په ستراتیژیکو موضوعاتو بحث وکړي.

دافغانستان دبیارغونې صندوق څه ډول فعالیت کوي؟

ټمویلوونکي خپلې مرستې په هغه ځانګړي حساب، چې په امریکا متحده ایالتونو کې دنړیوال بانک په مرکزي دفتر کې دی، ورلیږي. دافغانستان دبیارغونې صندوق دمدیرانو کمیټه په خپلو غونډو کې دوړاندیز شوې مالي وجهو داجراتو په اړه تصمیم نیسي. او دغه تصمیمونه دمالي وجهو په نوم یو هوکړه لیک (توافقنامې) دلاسلیک له لارې، دنړیوال بانک له خوا، چې دصندوق اداري چارې پرمخ بیایي، دافغانستان له حکومت سره عملي جنبه پیدا کوي.

دافغانستان دبیارغونې صندوق اختصاص موندلې پیسې د دوو ځانګړو کړکیو له لارې، یعنې دعادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ اود پانکه اچونې څخه دملاتړ کړکۍ له خوا اجراء کیږي. له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ هرکال مشخص او دورکړی ور لکښتونه، چې ناامنیتي چارو او فعالیتونو پورې اړه لري، اجراء کوي. خوله پانګې اچونې څخه دملاتړ کړکۍ دپرمختیایي بودجې له لارې دملي پرمختیایي پروګرامونو له پاره مالي مرستې برابروي.

د پروګرام موخه او هدف د اسانتیاوو رامینځته کولو ځیرنه او تحلیل، او د ځیرنیزو پالیسیو ترویج دی. د شواهدو او پوهې د تثبیت په اساس د منتخب پراخ سکټور او پروژې له لارې د هغې د اغیزو د ځیرنې او ارزیابۍ سره اړوند او مربوطه وي.

دټمویلوونکو مرستې

دټمویلوونکو ژمنو دافغانستان دبیارغونې دصندوق دپخوانیو او نویو ټمویلوونکو په شمول هرکال دبل کال په پرتله زیاتوالی موندلی دی. په ځوتیرو کلونو کې ددې مرستو دزیاتوالي دلیل دهغوی دودې دپیاوړتیا په اړه ترجیحي موارد وو. دافغانستان دبیارغونې صندوق دمنل شویو مقرراتو پربنسټ ټمویلوونکي نه شي کولی دخپلو کلنیو ژمنو له نیمایي څخه زیاتې ژمنې ترجیحي مواردوته اختصاص کړي. دغه مقررات دا ایجابوي چې دغه صندوق دکتنې وړ وجهې په خپل واک کې ولري، چې له هغو څخه دجاري پانګو دځانګولګښتونو ورکړي او ځینې انعطاف منني دحکومت له لومړیتوبونو څخه دملاتړ په موخه له ځان سره ولري.

د عادي بودجې د ملاتړ کړکۍ

۴،۷۴۵ میلیارده ډالر وړیا مرسته

د عادي بودیجې څخه د ملاتړ کړکۍ برنامې څخه موخه د یوه همغږي کوونکي او هڅونکي میکانیزم په توګه له عادي بودجې څخه ملاتړ دی، څو پر بنسټ یې د افغانستان حکومت وکولای شي، چې پیسې، پر تاکلي وخت او کره توګه ورکړي. په دې پیسو کې د ملکي کارکوونکو معاشونه او مزد او همدارنګه د حکومت غیر امنیتي عملیاتي لګښتونه شامل دي.

له عادي بودجې څخه د ملاتړ کړکۍ، د افغانستان له حکومت سره د مرستې په موخه په ۲۰۰۲ کال کې د عادي بودجې د اړتیاوو پوره کولو لپاره رامنځته شوه. سربیره پر دې په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې د اصلاحاتو د پلي کولو په برخه کې د حکومت هڅونکی پروګرام هم پیل شوه، چې پر بنسټ یې د مهمو اصلاحاتو د پلي کولو پر وړاندې تشویقي ورکړې، ورکول کیدلې.

تراوسه پورې دافغانستان دبیارغونې صندوق ۴،۶ میلیارده ډالر د حکومت دعادي بودجې له لارې ورکړې دي. داخلي عواید تراوسه پورې دحکومت دلګښتونو دتامین له پاره

د افغانستان د بیارغونې صندوق څه شی دی؟

دافغانستان دبیارغونې دصندوق موخې عبارت دي له:

- **ملي بودجه داسې حالت ته رسول، چې وکولی شي دملي پرمختیا له موخو او هدفونو سره سم د بیارغونې په پروګرام کې دتوازن درامینځته کولو له پاره دیو ستر موتور په توګه عمل وکړي.**
- **دبیارغونې له مرستو څخه د استفاده کولو په برخه کې دروښتیا او حساب ورکولو پراختیا.**
- **د دولت په محدود ظرفیت باندې دفشار کمول او په عین وخت کې دظرفیتونو تدریجي پیاوړتیا.**
- **په مالي چارو دپالیسۍ دطرحې په اړوند خبرو اترو کې دټمویلوونکو ترمینځ دهمغږۍ دپیاوړتیا.**
- **دغه صندوق دحکومت لومړیتوب لرونکي پروګرامونو، چې په هغو کې داصلاحاتو اجنداا،او دغیر امنیتي حکومتي فعالیتونو لګښت شامل دي، چې دافغانستان دحکومت د ستراتیژیکو موخو په لاسته راوړنو پورې اړوند دي، ملاتړ کوي.**

بسوالی نه کوي. په همدې دلیل دافغانستان د بیارغونې صندوق د دولت د عادي بودجې نه دملاتړ له کړکۍ څخه، ددولت اساسي فعالیتونه دخدمتونو وړاندې کولو په ګډون، لکه دروغتیایی ساتنې، او ښوونې او روزنې څخه ملاتړ کوي. دې کارته په پاملرنه، چې ۶۰سلنه ملکي کارکوونکي ښوونکي دي، دښوونې اوروزنې وزارت په ټوله کې ۴۰ سلنه دبیارغونې دصندوق مجموعي سرچینې لګوي.دعامې روغتیا وزارت، دبهرنیو چارو ، کاراو ټولنیزو چارو ا و لوړو زده کړو وزارتونه هم ددې صندوق له ستړو اخیستونکو څخه ګڼل کیږي.

دیادونې وړ ده، چې له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ سرچینې یو فرصت او دملي پوښښ لرونکي دي. له دې سرچینې څخه په ۳۴ولایتونو کې دملکي خدمتونو د ۶۲سلنې کارکوونکو حقوق ورکول کیږي. دحکومت دعملیاتي لګښتونو کال په کال زیاتوالی په دې معنا دی، چې له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ هم دټولې بودجې دکمښت په خاطر حساب ورکوونکی ده. له دې سره سره له عادي بودجې څخه دملاتړ کړکۍ اوس هم له ۱۶څخه تر ۲۰ سلنې پورې دحکومت غیر امنیتي عملیاتي لګښتونه ورکوي.

د پانګونې کړکۍ

دپانګې اچونې کړکۍ هم دکمیت له مخې اوهم دفعالیت دکچې له مخې دکتنې وړ پراختیا موندلی ده. له ۱۳۸۹لمریز (۲۰۱۰م) کال څخه دجاري لګښتونو په وراندې دژمنې شوي لګښت اندازه دژمنې شوې پانکه اچونې په نسبت زیاتوالی موندلی دی. دکلیوالی پرمختیا مالي او سیمه ییزپروګرامونه، لکه مالي پیوستون، کلیوالي سړکونه او پوهنه په کلکه دافغانستان دبیارغونې صندوق له خوا ملاتړ شوي دي.

د ۲۰۱۷میلادي کال د ډسمبر تر ۲۱ نیټې پورې د افغانستان د بیارغونې صندوق ۲۸ فعالې پروژې د ۳،۵۸میلیارده ډالرو په ټول مجموعي تعهد او ژمنې سره، چې له دې جملې څخه یې تراوسه پورې ۲،۷۹میلیارد ډالر ورکړل شوي او ناوړ کړل شوی خالص مبلغ یې ۷۹۰ میلیونه ډالر دي، ژمنه کړی ده.

د پانګونې فعالیتونو بشپړ جزئیات د افغانستان د بیارغونې صندوق په ربعوارو راپورونو کې په لاندې انټرنیټي پاڼه کې وګورئ:

www.worldbank.org/artf

/ روانې پروژې

د افغانستان د کرنیزو عواملو د تولید پروژه

۶۷.۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دافغانستان دکرنیز عواملو د تولید پروژې موخه او هدف دکرنیزو محصولاتو دزیاتوالي په منظور له ټکنالوژۍ څخه استفاده کول دي. دکرنې سکتور دافغانستان داقتصاد ډیر عمده او مهم رکن ګڼل کیږي، چې ددې هیواد ۶۰ سلنه کارې ځواک تشکیلوي. په دې برخه کې کې دکرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت دادارې ظرفیت پیاوړتیا او دکرنیزو محصولاتو دزیاتوالي په منظور دکرنیزو عواملو د تولید مصونیت او اعتبار دزیاتوالی له پاره ډیره مهمه او ارزښتمنه ده.

په لومړي ګام کې د دې پروژې له خوا هڅې او هلې ځلې کیږي، چې د غنمو تصدیق شویو تخمونو د ارزښت د اقتصادي او تخنیکي زنخیرې اغیزناکتیا ته ښه والی ورکړی. په دویم ګام کې د یو حقوقي او مقرراتي چوکاټ رامینځته کیدل، چې د دې پروژې مرستې د چمتووالي په پراو کې برابرۍ کړي، ترڅو، چې د پروژې د ارتیا وړ تسهیلاتو او اسانتیاوو ته په باوري بڼه د نباتاتو د قرنطین او د کرنې د ارتیا وړ کیمیاوي موادو د کیفیت د کنترول شبکو ته وده او پرمختیا ورکړي وي.

په دریم ګام کې د ساحوي سروې د نتیجو سپارښتنو ته په پاملرنه، چې د چمتووالي په پراو کې رامینځته او په کار اچول شوی وی، دې پروژې د مارکیټ او بازار د هغې ارتیا له مخې د یو عملي پلان طرحه او اجراء کول ترلاسه لاندې ونیول، ترڅو د تخمونو له پاره د ورودي تحویل سیستمونه پرمختیا او ښه والی وموميِ. دغه فعالیتونه د ملکي خدمتونو دکار کوونکو، بزګرانو او ذیدخلو سوداګرو د ظرفیت دلوړولو د پروګرام د ترسره کولو له لارې مرسته او ملاتړ کیږي او کولی شي پایښت او دوام وموميِ.

الف برخه: د دې پروژې پایلې او نتیجې، هغسې چې هیله پې کیده، په دوارو برخو، یعنې نرم افزاری فعالیتونه، لکه: د ظرفیت لوړتیا او د غنمو د نویو تخمونو پرمختیا، او اساسي زیر بناوې د انتخاب شویو څیړنیزو مرکزونو د رامینځته کولو، نوې رغاونې او تخم د تولید په شمول قناعت بخښونکې دی.

د هغې د کتنې وړ لاسته راوړنې دلندې مهاله او منځ مهاله زده کړو په شمول اوهمدارنګه د افغانستان د کرنیز څیړنیز انستیتوت د ۴۷۰ تنو کارکوونکو له پاره د ماسټرۍ او دوکتورا ترکچې پروګرامونو پورې د زده کړې فرصتونه د پنځو ټاکل شویو هدفونو په وړاندې د ځلور ډوله غنمو وړاندیز او د تخم د تولید او شپرو څیړنیزو مرکزونو بیارغونه، په داسې حال کې، چې کار په نورو پاتې فارمونو کې د تطبیق په پرمختللو پراوونو کې واقع دی.

ب برخه: د سرحداتو د قرانطین د مرکزونو او د کمپلکس د لابراتوار کار بشپړ شوی دی او داسې هیله کیږي، چې خپل فعالیتونه ژر پیل کړي.

د مقرراتو په چوکاټ باندې کار ښې نتیجې او پایلې درلودې – د نبات د ساتنې او قرنطین قانون او د درمل شیندنې قانون منظور شوي دي. دغه پروژه د قانون د تطبیق او پلي کیدنې ملاتړ هم کوي.

سربره پردې ، له ۳۰۰۰ تنو څخه زیاتو بزګرانو، سوداګرو او د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو د وزارت کارکوونکو، چې له دې جملې څخه ۲۰۵ تنه یې ښځې وې، د کار د مصؤنیت، زیرمه کولو او د حشرو وژنې د درملو د تطبیق او درمل شیندنې (دواپاشۍ) د قانون په برخه کې، چې نوی منظور شوې، زده کړې وکړي.

ج برخه: دکوپون یا Voucher له لارې د کرنې دتخمونو ویش آزمایښتي پروګرام په بریالیتوب سره تطبیق او په ۲۰۱۷ میلادي کال پای ته رسیدلی دی، چې له دې جملې څخه ۶۰۰۰ تنو بزګرانو وکړای شول کوپون ترلاسه کړي. د دوی په سلو کې ۹۸ تنو یې له دې کوپون څخه په ځلورو ولسوالیو کې د بذري تخمونو د قیمت ورکولو له پاره استفاده وکړه. نوموړی پروګرام په ښه ډول مدیریت شوی او د بزګرانو او د کرنې د تخم د برابرونکو کمپنو ترمینځ یې د مستقیمې اړیکې اهمیت نندارې ته وړاندې کړ.

دافغانستان دعدلي او قضایي سکټور دخدمتونو برابرولو پروژه

۲۵ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دغه پروژه د ۲۰۱۷میلادي کال د ډسمبر د میاشتې په ۳۱ نیټه بشپړه شوه.

د دې پروژې موخه او هدف د افغانستان د عدلي او قضایی سکټور د خدمتونو برابرول او له قانوني خدمتونو څخه داستفادې او لاس رسۍ زیاتوالی دی. د دې پروژې له لارې د ستړي محکمې، لوېې څارنوالۍ او عدلیې وزارت له پاره د بنسټیزو اصلاحاتو د تطبیق او تعقیبولو په لاره کې، چې د قضایي خدمتونو د وړاندې کولو په لارو چارو کې به اوږد مهالې اغیزې ولري، دارتیا وړ مالي منابع او سرچینې برابرې شوې.

د دې پروژې له لارې ستړي محکمې او لوېې څارنوالۍ وکړای شول، چې د خپلو بشري منابعو د ارتیاوو ارزیابي بشپړه کړي او د بشري منابعو د مدیریت ستراتیژۍ مسوده بشپړه کړي. د دې ستراتیژۍ وندې اونقش د دې دوارو ادارو (بنسټونو) د کار کوونکو د کاري کیفیت او ظرفیت لوړولو له پاره ډیره مهم ګڼل کیږي. سربیره پردې دغه دواړه بنسټونه د نومورې پروژې په مرسته او همکارۍ د خپلو کارکوونکو د ظرفیت د لوړتیا د ارتیاوو د ارزیابۍ په حال کې دي، چې هغه په نهایت کې د ستړي محکمې او لوېې څارنوالۍ د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو د څوکلن پلان د تدوین او ترتیب سبب ګرځي.

د حقوقي مرستو د وړاندې کولو سطحه او کچه زیاته شوی، داسې چې ۶۵ تنه حقوقپوهان، چې هریو به په یوه میاشت کې د ۱۰ حقوقي قضیو د پرمخبیولو وړتیا او ظرفیت ولري، په ټول هیواد کې په فعالیت بوخت دي. په ځلورو ولایتونو (بامیان، هرات ، کابل او لوګر) کې د حقوقي مرستو دفترونه د اړوندې پروژې له خوا په ازمایښتي ډول تاسیس شوي دي. د ۲۴۰۰۰ دوسیو له پاره په ۲۱ولایتونو کې حقوقي مرستې برابرې شوې دي.

سربیره پردې، ۲۱ کتابتونونه نوې تاسیس او ۲۰ نور کتابتونونه د بیلابیلو ولایتونو په قضایي بنسټونو او ادارو کې په کتابونو او نورو تجهیزاتو سره اکمال شوي دي. یو قضایي معلوماتي مرکز د وړیا حقوقي او قضایي معلوماتو او توصیو د برابرولو په خاطر د وړیا اړیکې له لارې رامینځته شوی او د ارتیا وړ معلوماتي ټکنالوژۍ په تجهیزاتو باندې سمبال شوی دی.

دا پروژه همدارنګه د ۱۶۵ قاضیانو له پاره د سوداګریزو قضایاوو د زده کړې لارې چارې د مصر او افغانستان په هیوادونو کې او ۲۵ تنو څارنوالانو تري د سپین روبۍ یا یخنسفید جرمونو (لکه غیر قانوني منځګړتوب، پیسو مینځل ، رشوت او په ټوله کې اداری فساد) په برخه کې د مالیزیا په هیواد کې د زده کړې لارې چارې ټمویل کړي. تردې پروژې لاندې د ۱۷ محکمو ودانۍ، د عدلیې وزارت ودانۍ ، ستړې محکمې ودانۍ او د پروان او کندهار د ښاري محکمو د ودانیو په شمول جوړې شوي دي.

دغه څیړنیز مرکز دافغانستان د کرنیزو عواملو د تولید پروژه د مالي او تخنیکي مرستوالو ملاتړ تراسه کولو وروسته د خپلو فعالیتونو او محصولاتو د زیاتوالي شاهد دی. دغه څیړنیز مرکز همدا اوس د اړتیا وړ اسانتیاوې، د کارکوونکو زده کړه او ساختمانونه په لاس کې لري، چې د دې مرکز د کار او پایښت لامل ګرځیدلې دي. دا یو د سیمې له ۱۱ فعالو څیړنیزو مرکزونو له جملې څخه یو دی، چې د افغانستان د کرنیزو عواملو د تولید د پروژې له خوا پې مرسته او ملاتړ کیږي او په اوس وخت کې د غنمو د کر د اصلاح شویو تخمونو تولید په دې مرکز کې زیات شوی دی.

په کرونده کې داوبو دتنظیم پروژه

۷۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

په کرونده کې داوبو دتنظیم پروژه، چې اوس دپنځو حوزو (مرکزي، ختیځ ، لویدیځ،شمال ختیځ او شمالی) دکروندې داوبو دتنظیم دپانګه اچولو څخه دملاتړ په منظور، چې ټوله ۱۰۰۰۰ هکټاره ځمکه احتوا کوي، دیوې ازمایښتی پروژې په توګه ډیزاین شوې ده. داسې هیله کیږي ، چې ددې پروژې دتطبیق په نتیجه کې به ترپوښښ لاندې ساحو کې له اوبو څخه داغیزناکې استفادې له لارې کرنیز محصولات شه والی ومومي.

دغنمو او نورو غلو دانو دتولید له پاره د حاصل ورکولو اندازې ۲۰-۱۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی. دغنمو او نورو غلو دانو له پاره داوبو دویش اندازه تر ۱۵ سلنې پورې زیاته شوې ده. په همدې ترتیب خروبې ساحې هم په سلو کې ۲۰ زیاتوالی موندلی دی. داوبو لګولو دسیستم رغونه ددې سبب شوی، چې دکیفیت په ساتلو او دپروژې په لګښتونو او وخت کې له هدف څخه لوړې لاسته راوړنې او بریاوی ترلاسه شي. داوبو لګولو ۱۷۰ سیستمونه (زیاتره عنعنوي) نوي جوړ شوي ، چې په مجموعي ډول ۴۳۰۰۰ هکټاره ځمکه ترخپل پوښښ لاندې دغه داوبو لګولو سیستمونه لري. د اوبولګول ۷۵ کانالونو، چې شاوخوا ۲۲۰۰۰ هکټاره ځمکه خروبه کوي؛ د بیارغولو چارې جریان لري.

داوبو لګولو د ۵۲۰ ټولنو درامینځته کیدو کار بشپړشوی دی. دغه ټولنې او انجمنونه د (میراب) عنعنوي سیستم سره سم رامینځته شوې، چې دمخه هم داوبو لګولو دچارو په ساتنه او ځارنه بوخت وو.

د پایلو له پاره د وړتیاوو لوړولو پروژه

۱۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د پایلو له پاره د وړتیاوو لوړولو پروژې خدمتونه د وزارتونو او خپلواکه ریاستونو په غوښتنه وړاندې کیږي. وزارتونه او خپلواک ریاستونه د یو لړ شرایطو پر بنسټ، چې مخکې پرې هوکړه شوې، لکه: د بالفعله خدمتونو وړاندې کول او د اصلاحاتو لپاره چمتوالی؛ په لومړۍ درجه ډلبندۍ (لوړ لومړیتوب لرونکي) او په دویمه درجه ډلو کې وویشل شول. د پایلو له پاره د وړتیاوو لوړولو پروژې، د پایلو پر بنسټ د اصلاحاتو په وړاندې کولو سره ځواب ورکونه او په سکتوري وزارتونو کې د خدمتونو وړاندې کولو ډول، پیاوړی کوي. دا اداره په عین حال کې د حکومت لپاره یو له همهو وسایلو ګڼل کیږي، څو وکولای شي، چې پر بهرنیو تخنیکي مرستو او موازي جوړښتونو د اتکا کولو کچه را ټیته کړي.

دا مرستې د لاندې فعالیتونو د ټمویل لپاره شوي دي: (۱) د ظرفیت جوړونې د پروګرامونو د برابرولو او پلي کولول لپاره د تخنیکي مرستو چمتو کول، (۲) په ځانګړو وزارتونو کې، د عمومي ریاستونو (لومړی بست)، د کډو دندو په ریاستونو (دویم بست)، او مسلکي کادر (دریم او څلورم بست) کې د ۲۴۰۰ کارکوونکو ګمارنه، (۳) د مدیریتي ستاژ پروګرامونه، (۴) د ملکي کارکوونکو روزنه، او (۵) د پروژو مدیریت، ځارنه او ارزونه. دغه پروژه د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د جنورۍ له میاشتې پیل شوې، چې د مالیې وزارت او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو څپلواک کمیسیون لخوا پلي کیږي.

دا برنامه د مهمو وزارتونو او خپلواکه ادارو لپاره اړینې مرستې چمتو کوي. د هغه معیارونو پر بنسټ، چې مخکې له مخکې تاکل شوي، چې په کې د خدمتونو د وړاندې کولو وړتیا او د اصلاحاتو د پلي کولو لپار چمتوالی؛ شامل دی، مهم وزارتونه او خپلواکه اداري په دوو ډلو کې، یعنې لومړۍ ډله (چې لومړیتوب لري) یا هم په دویمه ډله کې ویشل شوي.

په پام کې ده، چې هغه وزارتونه او ریاستونه، چې په لومړۍ ډله کې شامل دي، د پایلو لپاره د وړتیا لوړولو له برنامې څخه په بشپړ ډول ګټه واخلي، په داسې حال کې، چې هغه وزارتونه او څپلواک ریاستونه، چې په دویمه ډله کې شامل دي، له بنسټیزې هڅونې څخه برخمن شي (د پایلو له پاره د وړتیا لوړولو لپاره چمتووالی)، څو د لومړۍ ډلې ته د هغوی د لوړیدو زمینه برابره شي. وزارتونه او خپلواکه اداري دوارو ډلو ته اړتیا لري، څو د اصلاحاتو یو بشپړ پلان (چې د مرستندویه موسسو او حکومتي ادارو په مرسته به پلي شي) او د ځواب ورکونې د پیاوړتیا لپاره د پایلو یو چوکاټ، جوړ کړي.

د دې برنامې له لارې تاکل شویو بستونو له ډلې څخه تر اوسه، د ۸۰۷ بستونو ټرون لاسلیک شوی، چې ۵۲ تنه یې ښځې دي (۷ سلنه بستونه) او د ۵۰۳ بستونه په بیلابیلو تدارکاتي پراوونو کې دي. دا برنامه همدارنګه د هغه سلاکارانو د معاشونو په یو شان کیدلو کې هم اړینه مرسته کوي، چې د مالي ملاتړ کوونکو پروژو لخوا په دندو ګمارل شوي دي.

د منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د بریښنا د لیږد سیمه ییز پروګرام (CASA – CSP) -۱۰۰۰

۴۰ میلیون ډالر وړیا مرسته

له منځنۍ آسیا څخه جنوبی آسیاته د بریښنا د لیږد سیمه ییز ملاتړ پروګرام ته د ۲۰۱۷میلادي کال دمی په میاشت کې بیا کتنه وشوه، ترڅو د هغې د پای ته رسیدو نیټه تمدید او د هغې د تطبیق لارو چارو ته د سیمه ییز ملاتړ له باوري ترتیباتو سره یو ځای، د افغانستان د ولسي ټرون د پروژې د تطبیق له نوی تشکیل او جوړښت سره سمون او مطابقت ورکړي.

په کلي کې داوبو لګولو د سیستم بیارغونه د کروندګرو د هیله من کیدو او د ګټې وټې (عایداتو) د زیاتوالې سبب شوی دی. په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژه د اوبو لګولو د اغیزناکو لارو چارو په کارولو سره د کرنیزو ځمکو د حاصلاتو د زیاتوالې سبب شوی دی، یو بزګر وایي: "اوس ټول بزګران له دې امله، چې ځمکې یې د اوبو له کمښت او وچیدلو څخه ژغورل شوې، ډیر خوشحاله دي."

د جوړښت او د پروګرام د تطبیق لارو چارو ته د نوې کتنې او له منځنۍ آسیا څخه جنوبی آسیا ته د بریښنا د لیږدوني له پروژې سره دښه سمون او مطابقت له امله د هغې په دریو برخو یا جزونو کې دا لاندې بدلونونه رامینځته شول:

لومړۍ برخه: د دې برخې نوم په ((د ټولنیزو خدمتونو د معیارونو وړیا مرستې)) باندې بدلون وموند، چې د دې برخې موخه او هدف په خپل حال پاتې شو او په هغې کې له هغو کلیو ا وسیمو یا ځایونو سره مرستې شاملې دي، چې د دې دهلیز په امتداد او تکلوري کې واقع شوي دي، د بریښنا د برابرولو او اقتصادي او ټولنیزو پانګې اچونو د ټمویل له لارې کیږي، هر څو که د دې برخې ماهیت به له منځنۍ آسیا څخه جنوبی آسیا ته د بریښنا دلیږدولو پروژې سره دتطابق او سمون له امله بدلون ومومي، چې په هغې کې به د سیمه ییز ملاتړ پروګرام د حداقل خدمتونو د معیارونو له بستې څخه له منځنۍ آسیا څخه جنوبی آسیا ته د بریښنا د لیږد د پروژې تر وړیا مرستې لاندې د کلیوالی ساحې د خدمتونو د معیارونو په تعقیب انتخاب شي. له هغه ځایه، چې د سیمه ییز ملاتړ پروګرام د انرژۍ د عملیاتي سکتور سره اړیکه او رابطه لري، په هر وخت کې چې امکان ولري د بریښنا د برابرولو له پاره لومړیتوب د شبکې له داخل څخه وي، او که د شبکې له بهر څخه او یا هم د نوي کیدو وړانړۍ له پروژو څخه وي نومورو سیمو او ځایونو ته پکې لومړیتوب ورکول کیږي.

۲ برخه: ټولنیز جوړښت په خپل حال پاتې شو، هر څوکه ټولنیز تنظیم او ارتباطات یا د موجودو همکارو مؤسسو په واسطه، چې له سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو سره، چې د سیمه ییز او محلي ملاتړ له پروګرام سره د تطبیق په وخت کې کار کوي، او یا به د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت د کارکوونکو په واسطه ترسره اومخته یوړل شي.

۳ برخه: د پروژې څخه د ملاتړ له پاره دسیمه ییز ملاتړ پروګرام په اوس وخت کې له منځنۍ آسیا څخه جنوبی آسیا ته د بریښنا د لیږد پروژې او له منځنۍ آسیا څخه جنوبی آسیا ته د بریښنا د لیږد د پروژې د سیستمونو له عمومي لارښودونو څخه د ټولو مدیریتي فعالیتونو، په شمول د څارنې، له تطبیق څخه ملاتړ، تخنیکي مرستې، ارزیابۍ او راپور ورکولو په چارو کې استفاده کوي.

وروسته له هغې چې د اوبو او بریښنا وزارت په ۲۰۱۷ میلادي کال د لین او مزي تګلوري تائید کړ د کلیو د رغونې او پرمختیا وزارت یوه سروې ترسره کړه، چې په هغې کې یې هغه ۵۸۰ سیمې او ځایونه، چې د کاسا پروژې په مسیر او تګلوري او یا داغیزې د دهلیز په نږدې ساحه کې واقع دي، ورپیژندل او معلوم یې کړل. دغه سروې د ناامنې له شتون او موجودیت سره سره، چې شاید د سیمه ییز ملاتړ پروګرام تطبیق به اغیزمن او زیانمن کړي، د هر ځای او سیمې له پاره یې د عمومي ارتیا ارزیابي هم وکړه.

د کلیو د رغونې او پراختیا وزارت د اړیکو دوه کارکوونکي استخدام او د اوبو انرژۍ وزارت ته یې ولیږل. د ارتباطاتو د شرکت استخدام یې، چې د سیمه ییز ملاتړ د پروګرام او کاسا۱۰۰۰- د مشرحې ستراتیژۍ، پلان جوړولو، د اړیکو د فعالیتونو او د مولتي میډیا د محصولاتو (چاپي رادیویي او تلویزیوني اعلانونو) د برابرولو دنده به پرغاړه ولري، هم نهایي کړي.

د کارونو د سه تنظیم او ترتیب، د یو تطبیقي پلان جوړول او چمتو کول او د کاسا- ۱۰۰۰ ټیم او له مرکزي آسیا څخه جنوبی آسیا ته د بریښنا د لیږد د پروژې د سیمه ییز ملاتړ پروګرام د ګډې مرستې او همکارۍ د سه والي له پاره د ۲۰۱۸میلادي کال د فبروري په میاشت کې دافغانستان بریښنا شرکت، د اوبو بریښنا وزارت ، د کلیو د رغونې او پراختیا وزارت او د مزي یا لین څخونې له مسوولو قراردادیانو سره یو ګډه غونډه جوړه کړه او د همغږۍ د یو میکانیزم په ګډون یې پر یو شمیر فعالیتونه هوکړه او توافق وکړ.

د افغانستان د بریښنا شرکت د پلان جوړونې او ظرفیت سازۍ ملاتړ پروژه

۶میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان د بریښنا شرکت د پلان جوړونې او ظرفیت سازۍ څخه د ملاتړ د پروژې موخه د پلان جوړونې په برخه کې د پانکونې ویش، تطبیق، او حفظ او مراقبت په برخو کې د نوموړي شرکت ظرفیت ته وده ورکول دي. دا پروژه لاندې دوه برخې لري:

لومړی برخه: د کارکونکو د ظرفیت لوړاوی، چې موخه یې د نویو پانکونو د ویش د سیستمونو او د پانکونو د سم حفظ او مراقبت په برخو کې د پلان جوړونې او تطبیق په برخو کې د بریښنا شرکت د ظرفیت په لوړاوي کې مرسته کول دي.

دویمه برخه: په کابل کې د یو روزنیز مرکز جوړول. اوس مهال د افغانستان د بریښنا شرکت د خپلو کارکونکو د روزنې لپاره هیڅ ودانۍ نلري، چې دا پخپله د یاد شرکت د ظرفیت سازۍ د هڅو په برخه کې یوه مهمه تشه ګڼل کیږي.

دغه پروژه د بریښنا د شپږو سترو مرکزونو د عملیاتي پلانونو د تطبیق او چمتووالي یو کلنې ساتنې او مراقبت څخه د نویو کړنلارو څخه په استفاده، چې هغه د نړیوالو روشونو له مخې له سیمه ییزو شرایطو سره سمون ولري، مرسته او ملاتړ کوي.

همدارنکه نوموړی پروژه د زده کړې او زده کړې له هغه مرکزځخه، چې هیله او توقع کیږي، د افغانستان د بریښنا شرکت د پلان جوړونې، عملیاتو، ساتنې او مراقبت د برخې په سلو کې ۹۰ کار کوونکو مهارتونه به لوړ او ښه کړي، مرسته او ملاتړ کوي.

د زده کړې د مرکز طرحه تقریباً بشپړه شوې، داسې هیله او توقع کیږي، چې د جوړولو ساختمانې کارونه به یې د ۲۰۱۸میلادي کال ترپای پورې پیل شي. د زده کړې د دغه مرکز د تجهیزاتو تدارک او د زده کړې د مشورتي بستو استخدام په بیلابیلو پراوونو او مرحلو کې واقع دی.

دلوړو زده کړو دپرمختیا پروژه

۵۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

دلوړو زده کړو دپرمختیایي پروژې موخه او هدف په هیواد کې اقتصادي ارتیاوو سره په اړیکه کې غوره لوړو زده کړو ته دلاس رسي دانداز‌ې زیاتوالی او دکیفیت لوړاوی دی. دنوموړې پروژې دتطبیق لاره او روش دټاکل شویو شاخصونو او ترلاسه شویو نتایجو ته په لاس رسۍ ولاړ دی.

د پروژې په لومړۍ برخه کې ټاکل شوې سرچینې او منابع د لوړو زده کړو د وزارت د لاس رسۍ ټاکل شویو موخو او هدفونو یا د شاخصونو په لاس رسۍ او حصول پورې مشروطې او مربوطې وګڼل شوې.

په دغه شاخصونوکې موخه او هدف سه لاس رسی، دکیفیت لوړول او دپروژې دتطبیق په موده کې له پرمختیایي ارتیاوو سره غوره اړیکې شامل دي. همدارنګه دغه پروژه دلوړو زده کړو ددویم ستراتیژیک پلان په رڼا کې دلوړو زده کړو له اصلاحاتو او سمون څخه دملاتړ کوي، دموخې اونتایجو په ترلاسه کولو باندې تمرکز کوي

دغې پروژې د ۲۰۱۵میلادي کال د سپتمبرپه میاشت کې کار پیل کړ. د لوړو زده کړو وزارت د ټاکل شویو موخو او هدفونو د شاخصونو دوهم دور تطبیق او پلي کړي دي. ددې پروژې سترې لاسته راوړنې دادي: هغو پوهنتونونو ته، چې یو پردې برخې کاندیدان یې ښځې دي، له ۲۰۰ څخه دزیاتو بورسیو ورکول، دبیلابیلو پوهنځیو د ۳۰۰ تنو استادانو زده کړه (پرنتیجو ولاړو زده کړو په هکله) او (محصل محوره زده کړې)، دخصوصي او دولتي پوهنتونو دپوهنځیو

لارښودو او کلیدي استادانو د ماستر ترېر یا مربیانو په نوم زده کړه کړي، هغه کوي، چې د ټول افغانستان په دولتي پوهنتونونو کې درسي نصاب او لارې چارې ته بدلون ورکړي. هغوی په لنډ مهالو او ډیرو متمرکزو کورسونو کې د "استادانو ته زده کړه " په نوم ګډون کړی، چې د لوړو زده کړو د پرمختیا د پروژې یوه برخه وه او هدف یې په دولتي پوهنتونونو کې د زده کړې یو مودرن ، عصري او معیاري سیستم رامینځته کول دي.

استادانو ته د ۳۰ ځانګړو او ډله ییزو ځیرنیزو پروژو ورکول په اساسي ځانګو او رشتو کې شمولیت (هغه ځانګې چې له اقتصادي ټولنیزې ودې سره مرسته کوي) د کتنې وړ ډول له ۶۴۲۰۰ شمیرې ځخه، چې د دې پروژې په پیل کې و، تقریباً ۷۹۴۰۰ته زیات شوی دی. کومه ځانګړی پاملرنه او توجه چې د ښځینه طبقې د شمولیت په برخه کې شوې وه، هغې هم د ښځینه محصلینو په زیاتوالی سره، له ۱۱۴۰۰ ځخه په روان تعلیمي کال کې ۱۵۰۰۰ ته د شمیر په زیاتوالي مثبتې نتیجې له ځان سره لرلې دي.

د لوړو زده کړو وزارت د انټرنیټ له لارې (انلاین) د زده کړو د لاور چارو یوې پالیسۍ او مقررې ته وده او پرمختیا ورکړی ده، چې دا کار د ګډې اومختلطې زده کړې د تدریجي معرفۍ، د انټرنیت (انلاین)لارې ځخه د پوهنتون

په نصاب کې زده کړې ځایول اوهمدارنکه په کریډیټونو کې دګډې او مختلطې زده کړې په رسمیت پیژندنې لامل او سبب ګرځیدلی دی.

د کورنۍ کیفیت د تفتیش ځلور ځانګو جوړې شوې، چې استادان یې د اړونده پوهنتونونو له پوهنځیو څخه ټاکل شوي. پنځه نور پوهنتونونه د ورته ځانګو د جوړولو په حال کې دي. د باور ورکولو (اکریډیشن) د رسمي جواز د چوکاټ نوي کولو وروسته، په اتو پوهنتونونو (ځلور دولتي او ځلور خصوصي پوهنتونونو) کې د ژورې پلاوي ځلور ډلې رامنځته شوې. د ژورې پلاوي د ډلو جوړولو لړۍ به په ۱۲ نورو پوهنتونونو کې ډیر ژر پیل شي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ د ۴ مرکزونو جوړولو کار، چې په پرمختللوو وسایلو سمبال وي، جریان لري. له دې مرکزونو څخه به د پرمختللې ټکنالوژۍ د کانون په توګه د ښوونې او روزنې د پراختیا لپاره، چې په کې له لیرې واټن څخه زده کړه هم شامله ده، ګټه واخیستل شي.

د کابل ښاروالی پرمختیایي او انکشافي پروګرام

۱۱۰ میلیون ډالروړیا مرسته

د کابل ښاروالی د پروژې د تطبیق مسوولیت په غاړه لري، د پروژې موخې او هدفونه عبارت دي له : (الف) د کابل ښار په مشخصو برخو کې د ښاروالي اساسي خدمتونو ته د استوګنې د لاسرسۍ زیاتوالی،(ب) له خدمتونو څخه د ښه ملاتړ په منظور کابل د ښاروالی د مالی مدیریت د سیستم بیا طرح کول،(ج) بیرنیو پیښوته د رسیدنې د سیستم فعالول.

داسې ټمه کیږي، چې دغه پروژه به په شاوخوا ۱۸۰۰ هکتاره شخصي ځمکو کې څه باندې ۷۰۰۰۰۰ وګړو ته د ژوند د هوساینې او بشړي پراختیا مرستې برابرې کړي. په ورته مهال د دغې پروژه په ملاتړ به د ښاروالی لپاره د غوره مالي مدیریت پلان جوړونه او د معیاري خدماتو د وړاندې کولو لپاره په دغه بنسټ کې د برنامه جوړولو ظرفیت جوړونه هم ترسره شي. کله چې دغه پلان بشپړ شی، نو د کابل ښاروالۍ کاري مشروعیت به هم پیاوړی شي.

تر دې دمه ۵۰،۹ میلیونه ډالر لګول شوي، تر یوه میلیون زیاتو کسانو (نژدې ۷۳سلنه میرمنې او ماشومان) د ۲۴۷ کیلو مټره سړک د رغونې، ۳۳۲ کیلو مټره کلیوالو نالیو ۲۰۵ کیلو مټره مهمو سړکونو د جوړولو څخه ګټه پورته کړې ده. د یوې کاري میاشتې په ۵۱۴ ډالرو پانګونې سره د فې نفرد د میاشتې مزدوری کاري قراردادونو د اجراء له لارې ۱،۹ میلیونو کسانو ته لنډمهالې کومارنې ایجاد شوي دي. په راتلونکي کال کې به پایداره زیربناء د فرعي کومارنو د رامینځته کېدل سبب شي. مهمه لا دا چې کابل د ښاروالی د پرمختیایي او انکشافي پروژې په ګذرونو کې د عامه لګښتونو په اړه تصمیم نیونې کې د جنډر اړوند ټولنیزې وندې لپاره یو پیاوړی بنسټ رامینځته کړی دی.

په کابل ښار کې د ښاري ترانسپورت د ښه کولو پروژه

۹۰،۵ میلیون ډالرهوړیا مرسته

دغه پروژه دکابل ښار په ځینو سړکونو کې دترافیک جریان پیداکولو او دحالت دښه کولو له پاره رامینځته شوې ده.دا پروژه د واټونو د سیستم او د کابل ښاروالۍله پاره د تخنیکي مرستو تیارول دي، چې په ځانګړو سیمو کې متمرکز کیږي.د کابل په کلیدي واټونو د یو بل سره د ټرل کیدو وضعیت او حالت ښه شوی دی، او کابل هر اړخیز شوی دی همدارنکه د تخنیکي او زده کړو مرستی به ورو ورو د کابل ښاروالی د نړیوالو منل شوو فعالیتونو له لارې د پلان کوونکی او تطبیق کوونکی په یوه عصري بنسټ باندې واړوي. د کابل ښاروالي به د دې پروژې او د هغه د تدارکاتو او مالي مدیریت په خپله غاړه ولري.

د پروژې انکشافي موخو په تر لاسه کولو کې پرمختګونه د لاندې شاخصونو له لارې سنجش او ارزیابي کیږي: (الف) د ترافیکو د وړتیاوو لوړول د منځنۍ اندازی چټکتیا د کنه ګونې د حالت ځخه په غیر حالت کې ارزیابي شي. (ب) خلک د (پروژې په ۵۰۰ مترو ساحه کې) د کال په ټولو فصلونو کې واټونو ته لاسرسی ولري. (ج) د کنه ګونې لرونکو واټونو شبکه به مناسب حالت ولري.

د شپږو واټونو لپاره د بنستونو د جوړولو ټرونونه، چې په ټولیز ډول ۱۹،۳ کیلو مټره اوږدوالی لري، بشپړ شوی او اوس مهال له هغونه ګټه اخیستل کیږي. د دې پروژې د تطبیق بهیر ګرندې شوی او د ټولو پلان شویو ودانیزو کارونو قراردادونه یې ترسره شوي دي، په هغو قراردادونو کې پرمختګ، چې نوي ورکړل شوی، ۲۰سلنې ته رسیدلی دی. ودانیزکارونه په لوړ کیفیت سرته رسیدلې دي.

د ۴۰ کیلومټره نویو سړکونو د طرحې، ډیزاین او کتنې له پاره د مشورتي برخې د قرارداد، د تدارک کار پیل شوی او تر ارزیابۍ لاندې دی. داسې هیله او توقع کیږي، چې قرارداد یې د ۲۰۱۸میلادي کال دجون ترمیاشتې پورې تهیه شي. دغه پروژه به د پاتې کارونو یو مشرح پلان چمتو کړي او د تدارک کار به یې په قوي احتمال د کال ترپای پورې سرته ورسیږي.

داسې هیله کیږي، چې د دې سړک د کار په بشپړیدو سره د کابل په ښار کې د ترافیک جریان او د اړوند ساحو د اوسیدونکو ژوند ښه والی ومومي. د کابل په ښار کې د سړکونو د بیارغونې کار په کابل ښارکې د ښاري ترانسپورت د ښه کولو پروژې لاندې پیل شوی، چې په دغو فعالیتونو کې: د سړکونو قیرګول، د پلیو لارو او د سړک د غاړې د ویالو سیستم جوړول شامل دي، چې د کابل ښار اوسیدونکو ته په کار کسب کې د اسانتیا او ښه والي سبب شوي دي.

آیا لږې وړیا مرستې، زده کړه او کوچنیو متشبثینو ته د مشورو وړاندې کول، کولی شي، چې په افغانستان کې د کارموندنې فرصتونه زامینځته کړي؟

لیکوالان : پرتپ سینا او فاطمه کاشفی

د ملکرو ملتونو د وګړو د صندوق د شمیرو او ارقامو له مخې، تقریباً ۶۳سلنه افغانان له ۲۵ کلونو لاندې عمرلري، چې دغه واقعیت د هغه هر مې شکله سني جوړښت منعکسوونکی دی، چې ځوانه ډله یې په قاعده کې واقع ده. دا په داسې حال کې دی، چې افغان ځوانان د روغتیا، پوهنې، کار کسب او جنسیتي برابرۍ د نشتوالی په برخو کې د کتنې وړ ستونزو سره مخامخ دی.

د کار، ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو وزارت پردغو ستونزو د برلاسي کیدو له پاره په پام کې لري، چې د لږو زده کړو لرونکي ځوانان په کلیو او نیمه ښاري ساحو کې د یو ازمایښتي پروګرام له لارې وړیا مالي مرستې د نتیجې پروژې لاندې هغه علاقمند متشبثین، چې کاروبار یې شه وده او پرمختیا نه لري، په خصوصي سکټور کې د کار کسب رامینځته کولو ته په کتنه، تر موخې لاندې نیسي، مرسته او ملاتړ وکړي.

کله چې مو له ۲۳کلنې فریحې سره د کوچنیومالي وړیا مرستو په پروګرام کې د انتخاب له پاره د مرکې په جریان کې ولیدل، هغه د هر ډول دولتي مرستې او کومک په ترلاسه کولو کې شکمنه وه، خو د خپلې آرایشګاه د طرحې او رامینځته کولو په هکله ډاډ منه وه. د هغې دا خوب هغه وخت په واقعیت بدل شو، چې ۵۰۰ ډالره کوچنۍ وړیا مالي مرستې د ترلاسه کولو خبر ورورسید. فریحې خپل مهارت د آرایشګاه په هغه سالون کې، چې د شاګردې په توګه یې پکې کار کاوه، ترلاسه کړ او په همدغه ځای کې یې د کوچنۍ وړیا مالي مرستې پیسې پانګونه کړې. هغه اوس د نوموړي سالون مدیره او شریکواله ده. هغې وویل: "ما د شاګردې په حیث چندان کټه وته او عاید نه درلود. خو زه اوس یوه شریکواله او برخه واله یم. دغه یوه شه دنده ده، چې ورځ تر بلې د شه کیدو په حال کې ده." فریحه یوه له هغو سلګونو میرمنو څخه ده، چې د نتیجې پروژې له لارې یې مرسته او ملاتړ ترلاسه کړی دی. د ۱۷۰۰۰ تنو متقاضیانو له ډلې څخه شاوخوا ۲۵۰۰ کوچنیو متشبثینو د پروژې دغه کوچنۍ مالي مرسته ترلاسه کړی ده، چې له دې جملې څخه په سلو کې ۳۰ یې د کابل، ننګرهار او بلخ ولایتونو سوداګري او متشبثې ښځې تشکیلوي.

د نتیجې د پروژې د یوې غړې په توګه، د افغانستان د بیارغونې صندوق له ستراتیژیک ملاتړ سره، موږ باید د مشورې ورکولو او نورو لازمو لارښوونو په برخو کې د ولایتونو په سطحه د ځوانانو د مرستې او ملاتړ له پاره بیلابیلې لارې ټولې وای. آیا مشوره ورکول، کولی شي، د کار کسب د شروع کولو او پیلامې له پاره کټور واقع شي؟ دې پوښتنې ته ځواب ورکول د افغانستان په ځیر یو هیواد کې، چې ستونزمن، ځپلې اقتصادي او ټولنیز حالت لري، کیدای شي تر یوې اندازې پیچلي او ستونزمن وي.

پرځان (نفس) باندې د باور زیاتوالی

موږ تصمیم نیولی، چې د دې پوښتنې ځواب په کابل کې له کوچنیو متشبثینو سره د ذهني ازموینې (ازمایښت) ، توصیو او مشورو له لارې پیدا کړو. د کوچنیو متشبثینو د ګروپونو له پاره سربیره پر وړیا مالي مرستو د تشبثاتو د پراختیا د زده کړو سپارښت او مشورې وړاندې کولو لارې چارې برابرې شوې دي. د تشبثاتو د پرمختیا مخکښان اوس خپله مرسته او مشوره ورکول د هغو متشبثینو له پاره وړاندې کوي، چې په تصادفي روش او د ډول انتخاب شوي او په کابل کې یې وړیا مالي مرسته ترلاسه کړې ده.

د ۲۰۱۷میلادي کال د مې او جون په میاشتو کې په کابل کې ۷۵مشاورینو تقریباً ۳۰۰ تنو کټو اخیستونکوته د مشوره ورکولو د زده کړې پروګرام وړاندې کړ.

یو له ژمنو او علاقمندو مشاورینو څخه عالیه محمدي، چې د آریشګاه خاونده او مالکه ده، چې پنځه میرمنې یې د نتیجې د حمایت پروژې مشاورې ته ورکړې دی، وایي: "په لومړۍ ناسته او غونډه هغوی، چې تر مشورې لاندې او پرځان (نفس) د باور کچه ټیټه وه، خو په وروسته غونډه او ناسته کې یې پرځان باور زیات شو، اوکولی یې شول، چې په آسانۍ سره پر موضوعاتو بحث وکړي."

د کوچنیو تشبثاتو اغیزناکتیا باید دهغې داغیزو د ارزونې له لارې تشخیص او وټاکل شي.

لومړۍ شواهد او نښې نښانې ځرګندوي، چې د کوچنیو متشبثینو له پاره کوچنۍ مالي مرستې په ټولنه کې ځوانانو ته د یو کټور شهروند او اتباع په توګه د وندې اخیستنې له پاره پرخپل ځان باندې د باوراو اعتماد انګیزه په لوړه کچه زیاتوي.

دا توقع او هیله کیږي، چې د دغې تجربې لاسته راوړنې به د پالیسۍ جوړوونکي او ذیدخله اړوندې مراجع د اقتصادي حالت په پیاوړتیا او د افغان ځوانانو، چې د هیواد راتلونکې جوړوي، د شریکولوکې په پراخو بحثونو کې تراستفادې لاندې ونیسي.

کولی شئ د دې نسخې بشپړ متن په دې لاندې پته ترلاسه کړئ:

http://wrld.bg/ORLO30iC2lc

> «په دې لومړنۍ غونډه کې د هغوی پرځان (نفس) د باور کچه ټیټه وه، ولې په وروسته غونډه کې یې پرځان باور شه شو، او کولی یې شول په اسانۍ پرموضوعاتو بحث او تبادل نظر وکړي.»
>
> – عالیه محمدي، د آریشکا مربي او مالک

د افغانستان په کلیو کې په زرګونو تنو دافقتصادي ځان بسایني او خود کفایې په منظور د یو کوچني تشبث له رامینځته کیدلو څخه ګټه اخیستې او یا‌یې کار کسب موندلی دی. د بنوالۍ او مالدارۍ، ملي پروژې له کوندو ښځو، معلولینو، بیوزلو او غریبو وګړو سره مرسته کړې، چې د چرک ساتني او ماهي روزنې فارمونه رامینځته کړي او د کتې وتې او عایداتو خاوندان شي. یو تن له استفاده کوونکو څخه چې د دې پروژې په مرسته یې د چرګانو ساتني فارم رامینځته کړی، داسې وایي: " اوس کولی شم پیسې ترلاسه کړم او له کورنۍ سره مرسته وکړم".

د نغلو د اوبو بریښنا بند د بیارغونې پروژه

۸۳ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د نغلو اوبو بریښنا بند بیارغونې پروژې موخه اوهدف، دبنددمصؤنیت ښه والی او د بریښنا دوماره تولید او همدارنګه له دې لارې دارتیاوو دتامین دانداز‌ې زیاتوالی دی. نوموړی پروژه دافغانستان له پاره له ستراتیژیک اهمیت څخه برخمنه ده، لکه څنګه چې دکابل له نیمایي څخه زیاته بریښنا له همدې بند څخه برابره اوتامین کیږي.

دغه پروژه د ۲۰۱۶ میلادي کال د جنورۍ په میاشت کې د وړیا مرستې د تفاهمنامې له لاسلیک څخه وروسته تر اجراء لاندې ونیول شوه. د دې بند ۱ او ۳ توربین د نوي رغونې اصلي قرار داد د ۲۰۱۵ میلادي کال د ډسمبر په میاشت کې لاسلیک او د ۲۰۱۶م کال د اګست په میاشت کې تر اجراء لاندې ونیول شو. د لومړۍ توربین کار پای ته رسیدوته نږدې و، په داسې حال کې چې هیله او توقع کیدله، په ۳ توربین باندې کارونه د ۲۰۱۸ میلادي کال په وروستۍ نیمایي کې بشپړ شي.

همدارنګه د مصؤنیت د ښه والي له پاره کار روان دی، تردې نیټې پورې په پرمختګونو کې د نغلو د اوبو بریښنا بند په داخل کې د درې نویو ډیپوګانو یاګودامونو رغونه شامله ده.

په دغه پروژه کې د ګټو اوښیګنو د شریک پروګرام، چې د دغه ځای اوسیمې د خلکو له پاره ځانګړی او مختص دی، شامل دی. د دې پروګرام تر پوښښ لاندې د سروې ولسوالۍ کلیو ته د بریښنا رسونې کار روان دی او د افغانستان د بریښنا ریاست له خوا د ټکاب ولسوالۍ کلیو ته د بریښنا رسونې او امکاناتو ارزیابي شوی. د هغې بله برخه د کلیو د اسټوګنو له پاره د مسلکي زده کړې دي. یوتعلیمي لارښود چمتو شوی او ورپسې پراو به یې د مسلکي زده کړو رامینځته کیدل وي.

دنغلو د بریښنا بند دبیارغونې پروژې څخه ترلاسه کیدونکي نتیجې دا لاندې دي:

- دنغلو د ۵۰ میګاواټه داوبو بریښنا رغول ، چې اوس فعاله نه ده. دغه کار به دلومړي واحد دبیارغونې او د دریم واحد له کتنې او څیړنې وروسته ترسره شي.
- ترپنځو کالو پورې دبریښنا بند ساتنه او ځارنه او دعادي فعالیتونو ښه والی.
- دبریښنا بند دساتنې، ځارنې او ورځپه کار اخیستنې له پاره دکارکوونکو دظرفیت لوړول.
- دبریښنا په شبکې پورې ددې پروژې شاوخوا استوګنو وصلول او د حرفوي زده کړو له پروګرامونو څخه دنومورو کلیو داوسیدونکو برخمن کیدل.
- دنغلو اوبو بریښنا بند دبیارغونې پروژې دمصؤنیت او امنیتي اقداماتو ښه والی.

د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژه

۱۹۰ میلیونه ډالره وړیا مرسته

د افغانستان دولت له ملي بودیجې څخه ۲۸،۲ میلیونه ډالره

دبنوالۍ (باغدارۍ) او مالدارۍ ملی پروژې هدف دبزګرانو په وسیله دتولیدي ټکنالوژۍ ترلاسه کول او دترویج له پاره اغیزناکې کړنې او لارې چارې ترسره کول دی، چې هغه په تدریج سره دبزګر محوره کړنیزو خدمتونو څخه دګټې اخیستنې سبب کیږي او له بلې خوا له پانګې اچونې څخه دملاتړ لارې چارې هم برابروي. دخدمتونو دوړاندې کولو اهمیت، چې دبزګرانو پرونډه او نقش متمرکزوي، په دې کې دی چې استفاده کوونکي او ګټه ترلاسه کوونکي دې ته هڅول کیږي ، چې دلازمو خدمتونو د ډول انتخاب او په وړاندې کولو کې یې فعاله ونډه واخلي. دغه پروژه همدارنګه په دې هڅه اولټه کې ده، چې دهغې ګټې تناسب، چې له دې بابته داستفاده کوونکو له پاره عاید کیږي، ښه والی ومومي. په همدې لحاظ دپروژې اصلي موخه او هدف، پیاوړتیا او پایښت لرونکې ترویج، ګټورتیا او ځمره ورکول دي.

دغه پروژه درې برخې لري: الف) دبنوالۍ محصولات، ب) دمالدارۍ تولیدات او حیواني روغتیا، ج) دپروګرام دتطبیق مدیریت او تخنیکي ملاتړ دی. دیادونې وړ ده، چې دغه فعالیتونه په ۱۲۰ ولسوالیو کې ، چې دمخه دهیواد له ۲۳ ولایتونو څخه انتخاب شوي، تطبیق شوي دي. دزیاتې او مهمې اړتیا په نتیجه کې دبنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې دخدمتونو د دوام له پاره دې پروژې ته پیاوړی کوونکی مالي مرسته منظوره شوې، ترڅو چې دملي پلان په تطبیق سره خپل پروګرامونه د ۳۱ ولایتونو ۲۵۰ ولسوالیو ته پراخه کړي.

تر اوسه پورې، د بنوالي او مالداري ملي پروژه توانیدلې، چې په ۳۲ ولایتونو کې په ۱۶۷۵۰ هکتاره ځمکه کې د پستو او میوه جاتو د باغونو د جوړولو مالي ملاتړ وکړي. سربېره پر دې، یادې پروژې په څه باندې ۹۰۰۰۰ هکتاره ځمکه کې شته باغونه بیا رغولې او ۹۶۰۰۰ کورنۍ زرغون وړوکي بنونه، جوړ کړي دي.

په عین حال کې دبنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې داوبو ۱۰۳۷ کوچنیو زیرمو جوړولو کار ټمویل کړی دی، چې په نتیجه کې یې بزګران کولی شي په بارانۍ موسمونو کې خپل دارتیا وړ اوبه هلته زیرمه او بیا وروسته داقلیم دبدلون او اړتیا په صورت کې له دغو زیرمو څخه د خپلو ځمکو دخړوبولو له پاره ګټه واخلي. ددغو زیرمو دجوړولو کار دسیمې پرمختیا شوراګانو په ګډون ترسره شوی دی.

دبازار موندنې دپیاوړتیا له پاره دزده کړې پروګرامونو یو شمیر بزګران، چې پکې ښځې او نارینه شامل دي، دحاصلاتو راټولولو او له راټولوځخه وروسته تدبیرونو په هکله په اړوندو مسایلو وپوهول شول. همدارنګه دبزګرانو له پاره اساسي او ضروري وسایل (لکه : ښاخ پریکوونکي، زینه، دوسایلو بکس) دحاصلاتو راټولولو په منظور برابرشوي دي.

په مجموعي ډول دممیزو دوچولو له پاره ۹۹۷ ځانګړې خونې جوړې شوي دي ،چې لګښت یې دخلکو دونډې اخیستنې له لارې پوره شوی دی. دممیزو دغه خونې دانګورو دضایع کیدو مخه نیسي او بیا وروسته دممیزو دکیفیت دښه والي سبب کیږي.

دمالدارۍ په برخه کې ددې پروژې فعالیت دچرګانو فارمونو په پیاوړتیا، حیواني روغتیا او پراختیایي خدمتونو باندې ټمرکز لري. ددې ترڅنګ دساحو دمالدارۍ فعالیتونه، لکه: دکبانو دفارمونو ښه والی او لبنیاتو تولیدات هم ترپوښښ لاندې راولي.

د بروسیلوزس د کنټرول ملي پروګرام د پلي کولول په پایله کې، ۲،۲ میلیونه غواګاني او ۱۱،۵ میلیونه میږې او وزې د هېواد په ۳۶۰ ولسوالیو کې واکسین شوې دي.

تر اوسه پورې له ۱۲۲۸۰۰ تنو څخه زیاتو بزګرانو (چې له دې جملې څخه ۷۸۹۶۸ تنه بزګراني ښځې او ۴۳۸۷۲ تنه نارینه بزګران دي) ترملاتړ لاندې نیولی دي، چې دا شمیر په ۵۷۶۸ ګروپونو تنظیم شوي دي. په دې ګروپونو کې دچرګانو دتولید فارم لرونکی هم شامل دي، چې دمالدارۍ او حیواني روغتیا له خدمتونو ګټه اخلي. همدارنګه دغه پروژه ، نورو ساحو ته دخدمتونو دپراخولو له لارې دروغتیایي او حفظ الصحه فعالیتونو دښه والي له پاره ډکرني اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له اروندو ریاستونو سره همکاري کوي.

د بنوالۍ او مالدارۍ د ملي پروژې فعالیتونه د لګښتونو د شریکولو په اساس او بنسټ دی او داسې هیله اوتوقع کیږي، چې د افغان بزګرانو مشارکت د ۲۸،۲ میلیونه ډالرو په اندازه وي، چې د خدمتونو او ترلاسه شویو موادو (اصلاح شوي تخمونو، سره ، وسایل او نور...) بیه یا قیمت تشکیلوي.

د نتیجې پروګرام (په افغانستان کې په نارسمي توګه د مهارتونو او دکار کسب دزده کړې پروګرام)

۱۵میلیونه ډالره وړیا مرسته

د دې پروګرام موخه په کلیوالیو او نیمه ښاري سیمو کې دافغان ځوانانو نارینه و او ښځینو له پاره په نارسمی ډول دکار کسب دزده کړې په وسیله په لوړ عاید دکارموندنې له پاره دظرفیت زیاتوالی او لوړوالی دی. دغه پروژه دکار په مارکیټ کې (دمثال په توګه عاید یا ګټه وټه او استخدام) دبې کاره او بې کسبه او نیمه حرفوي ځوانانو له پاره، چې لږه ډیرکاري مهارتونه لري، دکار کسب دزده کړی او دزده کړې په بهیر کې دمرستو په برابرولو باندې تاکید او ټینګار یا ټمرکز لري. دغه پروګرام له دري برخو تشکیل شوی دی:

تراوسه پورې ۲۴۸۲تنو ځوانانو د دې پروژې له لارې وړیا مرستې ترلاسه کړي دي. د ساحوي لیدنو کتنو راپورونه ځرګندوي، چې په سلو کې ۹۵ څخه زیات ځوانان، چې د

وریا مرستو په ترلاسه کولو بریالي شوي وو، خپلې نوې سوداګرۍ یې د مرستوترلاسه کولو وروسته پیل کړې دي. ځینې د وریا مرستو ترلاسه کوونکي، چې د سوداګرۍ او کاروبار لرونکي وو، په نومورې سوداګرۍ کې یې خپله پانګه اچونه زیاته کړه. د پام ور یو شمیر د وریا مرستو ترلاسه کوونکو د نتیجې پروګرام له لارې د وریا مرستې د بودجې د بشپړولو له پاره ډیرې پانګه اچونې وکړې. د وریا مرستو ترلاسه کوونکو په لیدنو کتنو زیاتره د خپلو سوداګریو شپه والي د وریا مرستو د ترلاسه کولو د نتیجې په توګه یاد کړل.

د نتیجې پروګرام به ددې پروګرام داغیزکولو دارزونې دسرته رسولو له پاره دایتالیا دهمکارۍ له دفتر سره یو ځای شي او دغه ارزونه یې په شپږو ولایتونو (هرات، بامیان، فراه، بلخ، کابل او ننګرهار) ترسره کړې ده، چې ددې پروګرام دفعالیتونو اغیزې پایښت او ټینګښت وموهي او داځرګنده کړي، چې څه دول کولی شي بریالي فعالیتونه زیات کړي.

د سوداګرۍ د پیل له پاره د لومړنیو معلوماتو د راټولولو سروې بشپړه شوه او نهایي سروې به د سوداګریزو وریا مرستو په پروګرام پورې د اړوندو اغیزو د اندازه کولو په منظور د کار کسب او شغل رامینځته کولو، عایداتو او د مهارتونو د زده کړې او ترلاسه کولو په برخه کې تعقیب شي.

دپوهنې دکېفیت لوړولو پروګرام
دویم پړاو

دافغانستان دبیارغونې صندوق ۴۰۸ میلیونه ډالره وریا مرسته

دغه پروګرام د ۲۰۱۷ میلادي کال د ډسمبر په ۳۱ نیټه بشپړ شو

د دې پروګرام موخه او هدف باکېفیته او متوازنې لومړنۍ شوني او روزنې ته لاسرسی دی، په ځانګړې توګه دنجونو شوونځیو لپاره دثابتو مرستوبرابرولو ، شوونکو ته د روزنې امکاناتورامنځته کولو،د اړوندو ادارو د ظرفیتونو پیاوړې کولو، دسیمې دخلکو او خصوصي معارف تقویه کولو په برخو کې.ددې پروګرام فعالیتونه لومړی په عمومي تعلیماتو، دشوونکو روزنې او پوهنې په مدیریت باندې تمرکز لري. ددې پروګرام فعالیتونه په بشپړه توګه دافغانستان دپوهنې له ملي ستراتیژیک پلان سره سمون لري او په پوهنې وزارت کې د اداري د ودې او پرمختک ملاتړ کوي. دپوهنې دکیفیت دښه والي پروګرام اساساً دنړیوال بانک ګروپ دنړیوالې پرمختیا ادارې له خوا تمویل شوی و.

د پوهنې د کیفیت د لوړولو پروګرام د لومړي او دوهم پړاو له لارې د ۱۱۷۷شوونځي، شپږ دارالمعلمینونه او د ۲۱ اداری ودانیو جوړیدل تر مرستې او ملاتړ ونیول شول. د ۲۰۱۷ میلادي کال د امارو په اساس مجموعاً ټول ۵.۵ میلیونه هلکان او ۳.۴ میلیونه نجونې له لومړي ټولګی خځه تر ۱۲ ټولګي پورې په ټول هیواد کې په شوونځیو کې شامل دي. د نارینه زده کوونکو شمیر د پروژې له تاکل شوي هدف خځه زیات و، په داسې حال کې د ښځینه زده کوونکو شمولیت درکود حال درلود. په لومړي ټولګي کې د شمولیت د کمښت خرګندوی دی. په دغه ارقامو کې هغه زده کوونکي هم شامل دي، چې درې کاله دایمي غیر حاضروو، خونومونه یې اوس هم د شوونځي د حاضرۍ په کتاب کې لیکلي دي.

سربیره پردې ۱۵۴۸۱۱ تنه شوونکي، چې په سلو کې ۳۵ یې ښځې دي، چې له ۱-۵ پورې یې د زده کړې دوره یې تیره کړی او له ۷۱۰۰۰ تنو خځه زیاتو شوونکو د زده کړې شپږمه دوره د داخل خدمت په بڼه تر ۲۰۱۷ میلادي کال پورې بشپر کړې ده. په عین وخت کې ۲۱۲۷۷تنه د شوونځیو مدیران او اداري کار کوونکي، چې په سلو کې ۲۰ ښځې وی د۱-۶ پورې د زده کړې دوره یې د شوونځیو د مدیریت پراو ترلاسه کړی دی. د نومورې پروژې په وخت او موده کې ۱۳۰۰۰۰ تنه شوونکي د شوونکو د روزنې له مؤسسو (دارالمعلمینونو) خځه فارغ او ۱۱۴۳۶ تنه د زده کړې د بورسیو په ترلاسه کولو بریالي شوي دي.

د پوهنې د کیفیت د لوړولو د دوارو مرحلو په جریان کې په ۱۴۹۳۲ محلونو او ځایونوکې د یو موټي کولو یا یوځای کولو فعالیتونه ترسره شوي، چې په نتیجه کې په همدې شمیر د شوونځیو شوراګانې(ټولنیز مشورتی بنسټونه) تاسیس شوی. د پوهنې د کیفیت د لوړولوپروګرام په دوهم پراو کې د ۱۶۵۸۸ له پاره وریا نغدې مرستې د شوونځیو د کیفیت د لوړولو او د شوونځیو د اړتیا وړ لوازمو د خریداری له پاره، له هغې جملې خځه د لابراتوار تجهیزات، کمپیوټرونه، او نور د زده کړې مواد برابر شوي دي.

په افغانستان کې د ټولو شوونځیو له پاره د یو تعلیمي انلاین اطلس رامینځته کیدل او پرمختیا بشپړه شوې ده. دغه اطلس په انلاین نقشو کې د احصائیو او کلیدي شاخصونو خرګندونکی دی، چې کیدای شي په ملي او سیمه ییزه سطحه په شوونځیو کې ورځنه کټه واخیستل شي.

د بڼځو په سوکالی پورې اړوند فعالیتونه اقتصادي منابعو او سرچینو ته د هغوی د لاس رسی له لارې د بڼځو د اقتصادي خواکمنتیا پروګرام په تطبیقولو سره بڼه والی مومي. د لیک لوست زده کړه، د سوداګرۍ مدیریت، کاري مهارتونه او مالي چارو، کرنیزو سرچینو او بازارونو ته بڼه او هر اړخیزه لاس رسی د دې پروژې له مهمو ساحو او برخو خځه دي.

دعامه مالي چارو د اداري اصلاحاتو دویم پړاو

۱۱۴،۱۳ میلیونه ډالره وریا مرسته

دغه پروګرام د ۲۰۱۷ میلادي کال د ډسمبر په ۳۱ نیټه بشپړ شو

ددې پروژې موخه اوهدف دتدارکاتو دسیستم، خزاینو او تفتیش اغیزناکوالی ښه فعالیدل او پیاوړتیا ده.

دغه پروژه دا لاندې درې برخې لري:

د تدارکاتو په برخه کې اصلاحات: په دغو فعالیتونو کې د تدارکاتو تسهیل او اسانتیا، په اړوندو وزارتونو او ولایتونو کې د ظرفیتونو لوړاوی او د بنسټونو پراختیا شامله ده. دملی تدارکاتو اداري ته دتخنیکي مرستو برابرول ، ترڅو وکړای شي چې دهغې دکار داصولي او اداري چوکاټ سره مرسته وکړي او اختصاصی بودجې ته په پاملرنه دتدارکاتو چارې پرمخ بوزي. همدارنګه وکړای شي چې دتدارکاتي چارو دسرته رسولو له پاره یوه کړنلاره ترتیب کړي او الکترونیکي ارزیابي معاونتونه دتدارکاتو له بهیر څخه برابره کړي،دتدارکاتي کار کوونکو ظرفیت پیاوړی کړي او په ضمن کې تدارکاتي کارکوونکو دزده کړې بهیر ته ښه والي ورکړي.

دغه پروژه دتدارکاتو دملي اداري پرمختیایي بهیر له تاسیساتو، تشکیل، سیستم، کاري پروسیجر او دهغې دستراتیژۍ تحقق او عملي کولو څخه په ملاتړ سره پیاوړی کړي. دغه پروژه له حکومتوالی او له فساد سره د مبارزې د فعالیتونو مرسته او ملاتړ کوي. او د ولس مشر (جمهور رئیس) دفرمان په اساس د تدارکاتو د قانون د کتنې او تصحیح له پاره حقوقي مرسته او ملاتړ برابرول دی.

په مالي مدیریت کې اصلاحات او سمونونه: دخزاینو ریاست ته دتخنیکي مرستو برابرول، چې وکړای شي یو باکیفیته او ځواکمن مالي مدیریت ترسره کړي. دخپلو فعالیتونو دهمغږي کولو له پاره دحکومت په سیستم تمرکز وکړي او دافغانستان دملي مدیریت دمعلوماتو سیستم تطبیق او پلي کړای شي. په اداره او مدیریت کې قوی رپوټ ورکول معرفي کړي، دافغانستان مالي مدیریت دمعلوماتو سیستم ته لاس رسي اندازه هم په ولایتونو کې دافغانستان دملي وزارت اړوندو ریاستونو ته پراخه کړي، دخارنې او دځانګړو زده کړو پروګرام دعملي کولو او څارنې به برخه کې دکارکوونکو چمتو کول له دې سره مرسته کوي، چې دکار کوونکو دکلنیو فعالیتونو د ارزوني ځواک او توان ولري. دزده کړې بیلګې مالیې دوزارت دپروسوپه بهیرکې دهغو تصدیق لرونکو تخنیکي کورسونو درامینځته کولو په چوکاټ کې دچارترحسابداری مؤسسې له خوا ترسره کیږي، چمتو کړي.ملي رهبري کمیټه د حسابداری دمقرراتو دتنظیم، دمسلکي تفتیش سرته رسول او دمسلکي محاسبانو زده کړه دې رامینځته کړي او په پای کې وکړای شي په اوو سکټوري وزراتونو کې عامه

نوې اسانتیاوې په ښوونځیو کې د شمولیت او پوهنې د کیفیت د ښه کیدو د زیاتوالي سبب شو

- **د پوهنې د کیفیت لوړولو پروګرام څخه په مننه، چې د بلخ ولایت د نجونو په یو ښوونځي کې د نجونو نوم لیکلو او شمولیت د زیاتوالي سبب وګرځید.**
- **د پوهنې د کیفیت د لوړاوي له پاره، چې کومې وړیا مرستې شوې، نه یوازې دا چې د زده کړې غوره او مناسب چاپیریال یې رامینځته کړی، بلکې په دې ښوونځي کې دوه لابراتوارونه او کتابتون هم رامینځته شوي دي.**
- **د دې پروګرام له لارې د بلخ په ولایت کې ۴۳۵ ښوونځیو له وړیا مالي مرستو ګټه اخیستې، چې په نتیجه کې یې په زرګونو زده کوونکي د غوره درسي چاپیریال له ګټو او ښیګڼو څخه برخمن شوي دي.**

د ټولو سترګې په ډیره هیله او علاقه د انسان د سکلیټ هغه مودل ته وې، چې د ساینس په لابراتور کې ځوړندو، د یارلس کلنه سونا، چې د اتم ټولګي زده کوونکې ده، د خپلو هم ټولګیانو له پاره د انسان د بدن جوړښت تشریح کوي. دا د ام البلاد نجونو لیسې د زده کوونکو له پاره یوه عادي ورځ ده. سونا د درس له تشریح کولو څخه وروسته داسې وویل: "مور دانسان د بدن جوړښت په کتاب کې لوستی و، اوس کولی شوچې دغه جوړښت او د هغه ټولې برخې په خپلو سترګو وویني. دې له مور سره ډیره مرسته کړې او مور کولی شو چې دا موضوع ډیره ښه زده کړو". نومورې د زده کړې علمي روش او لارو چارو ته دلاس رسی له فرصیت څخه ډیره خوښه ده ، هغې زیاته کړه: "زه غواړم په راتلونکی کې ډاکټره شم، دغه لابراتوار د دې سفر پیل دی."

سونا او دهغې نورې ټولګیوالې د دوی له ښوونځي څخه د پوهنې د کیفیت لوړولو پروګرام له مرستې او ملاتړ څخه ډیر خوشحاله دی، د دې پروګرام په مرسته اوس د ام البلاد د نجونو لیسه د بلخ ولایت ډیره مشهوره او باوري لیسه شوېده. په هغې کې د شمولیت غوښتنه هم زیاته شوې ده. د نومورې لیسې تدریسي مرستیال (۵۲) کلن امین الله داسې وایي: "مور د زده کوونکو له پاره معیاري ټولګي او پوره اسانتیاوی لرو" نومورې زیاته کړه: "د پوهنې د کیفیت د لوړاوي د پروګرام د برخې مرستو په دې ښوونځي کې ډیر مثبت بدلونونه راوستي او د پوهنې کیفیت ورځ تربلې ښه کیږي."

په ۲۰۱۳میلادي کال کې د پوهنې د کیفیت د لوړاوي پروګرام ۱۵۰۰۰ ډاله د دې ښوونځي د پوهنې د کیفیت د ښه والي له پاره برابر کړل. له دې وړیا مرستې څخه په استفاده نومورې ښوونځي د ساینسي علومو له لابراتوارونو او کمپیوټر سربیره کتابخانه هم رامینځته او تجهیز کړې ده. همدارنګه دې مرستې پردیوالو باندې د زده کړې دیاګرامونو انځور کړې او نقاشۍ لارې چارې برابرې کړې او د زده کوونکو له پاره یې د یو پارک او شنې سمسورې ساحې په رامینځته کولو کې مرسته کړې ده.

ښوونځی او دهغه د مدیریت شورا یو ځای کار کوي

دغه ښوونځي، چې په مختلط دول (هلکان او نجونې) د مزار شریف د نهمې ناحیې د مربوطاتو په نوشاد کار ته کې واقع دی، په ۱۹۹۰ میلادي کال کې یې پرفعالیت پیل وکړ او پر ۲۰۱۰میلادي کال د نجونو لیسه شوه. نږدې ۳۰۰۰ زده کوونکو ته پکې په دریو وختونو کې د (۸۰) تنو ښوونکو له خوا زده کړه او تدریس کیږي.

د نومورې لیسې سرښوونکې عالیه نجیمي وایي: "د پوهنې د کیفیت لوړولو پروګرام نه یوازې دا چې زیات شمیر یې د کورنیو، د ځای او سیمې د خلکو، همدارنګه دوستانو او خپلوانو په ګډون یې له لیرې واټن څخه زده کړې او ښوونې ته مینه وال او لیوال کړي دي."

د پوهنې د کیفیت د لوړاوي پروګرام له ۲۰۰۸ م کال راهیسې ۴۵ ښوونځیو ودانۍ جوړې کړې، د ښوونځیو د مدیریت (۶۰۰) شوراګانې یې رامینځته او د بلخ په ولایت کې یې ۴۳۵ ښوونځیو ته د پوهنې د کیفیت لوړاوي او ښه والي له پاره وړیا مرستې برابرې کړې دي.

همایون رحماني د بلخ په ولایت کې د پوهنې د کیفیت د ښه والي د پروګرام ولایتي مسوول (هماهنګ کوونکی) وایي: "د بلخ په ولایت کې د پوهنې د کیفیت لوړولو پروګرام هڅو او هلو ځلو د پوهنې کیفیت لوړ کړی او د ښوونځي د کارکوونکو او خلکو ترمینځ یې مرسته او همکاري بنیادي او بنسټیزه کړې ده."

د خلکو ترمینځ د لیسې اعتبار او درنښت د نویو شاملانو له زیاتوالي څخه معلومیږي، چې دا پخپله د نومورې ښوونځي په لور اعتبار او شهرت دلالت کوي. له دې لیسې څخه د پوهنې د کیفیت لوړولوپروګرام د مرستې او ملاتړ او د دې مدیریلیسې د مدیریت د شورا د هڅو او هلو ځلو په نتیجه کې په ۲۰۱۶ میلادي کال کې د شمولیت اندازه له دوو زرو زده کوونکو څخه اوس درې زرو زده کوونکو ته لوړه شوې ده.

> د پوهنې د کیفیت د لوړاوي پروګرام، نه یوازې دا چې د زده کوونکو له پاره یې د **ښوونځیو حالت ښه کړی**، بلکې **زیات شمیر یې د هغوی** د کورنیو، د سیمې د خلکو او همدارنګه دوستان او خپلوان یې هم زده کړې کولو ته لیوال او مینه وال کړي دي.

– **عالیه نجیمي دام البلاد**، د ښځینه لیسې سرښوونکی

مالي مدیریتي یوه ارزیابی رامخې ته کړي.
دتفتیش دبرخې اصلاحات او سمونونه: داخلي تفتیش – د داخلي تفتیش د ظرفیت د لوړولو له پاره له هلو ځلو څخه ملاتر، د زده کړې او د معلوماتي ټکنالوژۍ د بنسټونو برابرولو په شمول له بیلابیلو لارو او روشونو څخه په استفاده.

باندینۍ تفتیش: دتفتیش له عالي اداري څخه ملاتړ ، ترڅو وکړای شي، دپوهنې او معلوماتو سطحه، تخصص او دهغو کارونو فعالیتونه چې له خدمتونو څخه داستفادې له پاره یې ترسره کوي، لوړ کړي او دنورو متخصصینو او مفتشینو دکار نتیجې، په ځانګړې توګه دپروژو دتفتیش په خاطر دتفتیش له نړیوالو معیارونو اوستندردونو سره په سمون کې پیاوړې کړي، دکارکوونکو دزده کړې له پاره دمشورې ورکولو له خدمتونو څخه دکارکوونکو دزده کړې له پاره ملاتړ وکړي او دپروژې په جریان کې دنهو سکتورې وزارتونو د ټولو بودجوي کړنو دخپلواکې او کیفیته بیاکتنې دکار له پاره لارې چارې برابرې کړي. باندینی تفتیش په عین حال کې دا دنده لري چې دعامه حسابداري دکمیټو دغړیو دزده کړې بهیر له مالي پلوه تمویل کړي.

داصلاحاتو اوسمونونو مدیریت: دغه برخه دیو تشکیل یا جوړښت او د دندو دلایحې په رامینځته کولو دنظارت او ارزیابۍ په ریاست کې دکار کوونکو دزده کړې دپروګرامونو په برابرولو(ساختار) او دنظارت او ارزیابۍ دموجودلارښود په نوي کتنه کې له مالیې وزارت سره مرسته کوي. دبشړي چارو دتنظیم ریاست فعالیتونوته په ښه والي ورکولو سره، چې هغوی په خپلوکړنو کې اغیزمنتیا رامینځته کړي او دټولې پروژې په تطبیق کې مرسته کول، ترڅو په راتلونکي کې هم دعامه مالي چارو داصلاحاتو په برخه کې دتخنیکي مرستو دجلبولو ورتیا ولري، دا ټول یې له دندو څخه دي، یو بل فعالیت یې دادې چې دمالیې وزارت او نورو سکتوري وزارتونو دکارکوونکو له پاره دباقاعده او منظمو زده کړو لارې چارې برابرې کړي.
دعوایدو راټولول: دافغانستان دعوایدو دراټولولو ریاست سره ملاتړ کوي ، ترڅو هغه ریاست وکړای شي خپل دستورونه، دمالیې راټولولو د سیستم داصلاح او سمون (دمالیاتو دراټولولو له پاره ګډ دولتي ستندرد سیستم) په شمول ، عملي کړي. په مالیاتو پورې اړوند نوښتونه، لکه پرخطر ولاړه ځیرنه او په غور کتنه ، په زیات شوی ارزښت دمالیې اجراءکول ، دنوې اداري ډیزاین او دهغې دجوړښت تطبیق او په عمل کې پلي کوي.

د دې برخې لاسته راوړنې د یوې ستراتیژۍ او واضح لارو چارو پرمختیا ده، چې د پایښت لرونکو اصلاحاتو په منظور د هغې د نوي او مجدد تنظیم په خاطر ترسره کیږي. په ټولو سترو مالیاتي دفترونو کې د مالیاتو د اخیستلو له پاره د مدیریت د یو واحد او معیاري سیستم تطبیق، د تادیاتو کثرت د اساسي فعالیتونو خودکاره کیدل په هرارخیزه توګه زیاتوالی موندلی او سیمه ییز (محلي) ظرفیت د معلوماتو، ارتباطاتو او ټکنالوژۍ تفتیش، د حقوقي او بشري منابعو په برخو کې زیاتوالی او لوړوالی موندلی دی.

نتیجې او پرمختګونه په دې لاندې برخو کې دي:
(۱) دټولې ژمنه شوې مالي وجهې څخه ۷۵،۴۰ میلیونه ډاله (۷۷سلنه) دتفتیش مرکزي اداري ته د ۹ وزارتونو دتفتیش له پاره ورکول، چې ددولت د ټولو لګښتونو ۷۵ سلنې استازیتوب او نمایندګي په هر نړیوال ستندرد او معیار برابر تفتیش کې احتوا کوي، (۲) د دولتي بودجې د مدیریت په اړه قانوني چوکاټ جوړ شوی. اوسمهال، د افغانستان حکومت خپله بودجه په شفاف ډول جوړه او تصویب کوي، (۳) د داخلي تفتیش دپوښښ ساحې ښه والی او (۴) دتدارکاتو دملي کمیسون تصمیمونه له هرې غونډې (جلسې) وروسته سمدلاسه دافغانستان دتدارکاتو دملي اداري په ویب سایټ کې خپریږي. پارلمان د حسابداري قانون تصویب او د افغانستان د مسلکي او تصدیق شویو محاسبینو برخه رامینځته شوه.

اړونده پروژې، د افغانستان له مرکزي تدارکاتو څخه د ځارنې په موخه خپلې هڅې پیل کړي او د تدارکاتو ملي کمیټه به د تدارکاتي پالیسۍ د ادارو ځای ناستی ګڼل کیږي، د وزارتونو د تدارکاتي ادارو د سمون، پراختیا او ارزونې په برخه کې به یاده کمیټه، خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د کورنۍ او بهرنۍ (داخلي او خارجي) تفتیش کیفیت او پوښښ د پروژې د مرستې او ملاتړو له املې ښه والی ومونډ. په اوس وخت کې داخلي تفتیش د دولت ۵۰ سلنه لګښتونه او په سلو کې ۲۵ دولتي عواید ترپوښښ لاندې راوستي دي او بهرني تفتیش د دولت په سلو کې ۷۵ لګښتونه ترخپل پوښښ لاندې لري.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام

۵ میلیونه ډاله وړیا مرسته

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام موخه اوهدف د اقتصادي سرچینو او منابعو ته دلاس رسۍ له لارې د ښځو خپلواکی، استقلالیت او روغتیا د اداره ښه والی دی.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ملي پروګرام د کار تولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو په وزارت کې د پروژې دیو همغږي (هماهنګ) کوونکي دفتر له خوا رهبري کیږي. دغه دفتر لاندې شپږ سرتاسر رکنونو کې دښځو د اقتصادي ځواکمنتیا د ملي پروګرام د فعالیتونو د ځارنې مسوولیت په غاړه لري: (۱) په جنسیت پورې اړوندو او مربوطو احصائیو موجود زیاتوالی (۲) د ښځو د حضور په وړاندې د حقوقي موانعو او خنډونو حذفول (۳) دلیک لوست زده کړې (سواد آموزي) د سوداګرۍ مدیریت او حرفوي مهارتونو زده کړې او تعلیمات (۴) مالي چارو ته د لاس رسۍ زیاتوالی (۵) د کرنیز تولید عواملو ته لاس رسي، د ترویج او بازارونو خدمتونه (۶) خلاقو او نوښتګرو اقتصادي بازارونو ته لاس رسی.

دغه درې کلنه وړیا مرسته په درې برخو کې د پروژې د طرحې او چمتو کولو له پاره ده : (۱) د پروګرام همغږي او مدیریت (۲) په سکتورې وزارتونو کې، چې د ښځو د اقتصادي ودې فعالتیونه ترسره کوي د تخنیکي خدمتونو برابرول او د ظرفیتونو لوړول، داړوندو تحلیلي کارونو ترسره کول او (۳) د ښځو د اقتصادي فعالیتونو او نوښتونو او خلافیت څخه د ملاتړ په منظور د بودجې رامینځته کول او په کار اچول.

د دې پروګرام له ورو اوسست تطبیق سره سره بیاهم د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا د ملي پروګرام له پاره د مجموعي بنسټیزی همغږۍ، ترتیب او تنظیم ورکولوپه خاطر ځینې مهم ګامونه پورته شوي دي، د پروژې کاري لړۍ د همغږۍ دفتر او د هماهنګي میکانیزمونه د کار ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو د وزارت له رهبرۍ سره یو تخنیکي کاري ګروپ د عملیاتي هماهنګۍ او همغږۍ له پاره، اجرائیوي کمیټه د رهبرۍ د سطحې د همغږۍ او هماهنګي له پاره او د بشري منابعو د پرمختیا شورا په لوړه سطحه د هماهنګۍ او همغږۍ له پاره رامینځته شوې، د هغوی دندې او مسوولیتونه ټاکل شوي او صلاحیت لرونکي مراجع پرهغو باندې توافق لري.

اجرائیوي کمیټه د ښځو چارو د وزارت، کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت اومالیې وزارت له خوا رهبري شوې، چې تراوسه یې دوه ځله لیدنه کتنه کړې او د اجرائیوي کمیټې تشکیل او جوړښت، دندې او مسوولیتونه یې تائید کړي دي. زیاتره دولتي اداري او بنسټونه د دې پروګرام په برخه کې پوره معلومات او خبرتیا لري.

نوټ:په دې خپرونه کې ټولې یادې شوې شمېرې په امریکایي ډالرو دي.

د نړیوالې پراختیا ادارې، د نړیوال بانک د وړیا مرستو او بې سوده پورونو برابرولو څانګه ده.

په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ

عبدالروف ضیاء

تلیفون: ۰۰۹۳۷۰۰۱۳۳۳۲۸+

INFOAFGHANISTAN@WORLDBANK.ORG

۱۹ نمبر کور، ۱۵ سړک، وزیر محمد اکبر خان، کابل، افغانستان

www.worldbank.org.af

http://facebook.com/WorldBankAfghanistan

http://twitter.com/WorldBankSAsia

انځورونه، د رومي مشورتي خدماتو مرکز/نړیوال بانک/۱۳۹۶

نړیوال بانک، تله ۱۳۹۶